پښتو ټولنه _ کابل

# ادبي فنون

Ketabton.com

عبدالرووف بېنوا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه :

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: ادبي فنون

لیکوال :: عبدالرووف بېنوا

چاپکال ::( دوهم ځل ) 1383ل کال

چاپشمېر :: (1000) ټوکه

ډیزاین :: د هوسۍ مجلې اداره

کمپوزر :: صالح محمد صالح

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادبي فنون

د 1323 هـ کال په مینځ کي دمعارف د وزارت له خوا د ادبیاتو فاکولته تاسیس شوه، د نورو ښوونکو په ډله کي زه هم ددې فاکولتې په معلمۍ سرلوړی شوم او وګمارل شوم چي د ادبي فنونو درس ورکړم.

دا کار په سر سري نظر آسانه ښکاریږي، اوماته هم ډېر ګران نه شو ښکاره، ځکه چي په دې فنونو کي ډېر عربي او پارسي آثار لیکل شوي وه. او له ښه مرغه زما مطالعه هم پکښې جاري وه. مګر کوم وخت چي مي په کار ګوتي پوري کړې دډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوم دا ځکه چي ما په پښتو درس ورکاوه او دا فنون مي باید د پښتو سره تطبیق کړي وای، او یا مي د پښتو مخصوص فنون را څرګند کړي او را ایستلي وای، په دې باب کي چي یوه رساله هم نه ده لیکلي شوې، او نه ئې مثالونه له ادبیاتو څخه راوتلي او ټاکل شویدي، ځګکه نو ددې فنونو تطبیق ډېر وخت او زیار غوښت د یوه مثال دپاره به ما شپږ. اوه دېوانونه پرله اړول او ډېر فکر به مي کاوه څو دادی په ډېر خلص ډول په دې مقصد کامیاب شوم او په دې کـتاب کي مي هغه درسونه او یا دهغو تفصیل راوړ چي ما دادبیاتو په فاکولته کي متعلمینو ته ښودلی دی. البته نور پوه زلمیان به ئې لا ښه پسي پوره کړي او یا که زه کوم ځای غلط شوي یم لطفاً به ئې صحیح کړي. په ډېره مینه.

(ع. بېنوا)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوی خدای (ج) په نوم

## پيل

تعریف:

ادبی فنون هغه علمونه دي چي د هغو په مرسته دليکونکو ليکني او د وينا کوونکو ويناوي او د شاعرانو شعرونه ښکلي، لطيف او سمیږي.

غرض:

مهم غرض له دې فنونو څخه د ليك، وينا او شعر موْثر کېدل دي، چي كه كم ليك يا وينا يا شعر په دې ادبی مزاياووښکلی شوي وي، د اروېدونكو او لوستونكو په مغزو كښي ښه اغېزه كوي، او لطافت ئې ډيريږي او يا اقلاً تنفر نه ځيني كوي او ددوي په كومك ليكونكی يا وينا كوونكی يا شاعر خپل مقصد لاس ته راوستلای شي.

موضوع:

د ادبی فنونو موضوع نثر، شعر او وينا ده، يعني د نثر او وينا او شعر سگره او نا سره څرگندول او ناسم سمول او بې خونده خوند ور کول دي، ځکه چي ټولي هغه معناوي چي زړه وړونکي او معقولي دي د الفاضو په ذريعه فهمول کيږي او د الفاظو د سمولو او پېژندلو او دهغو د ترکيب دپاره څو فنه ټاکلي شويدي، چي د هغو په واسطه الفاظ هم سميږي او هم پېژندل کيږي. او بل دا چي په هره ژبه كښي دا خبره ضروری ده چي سمه به ليكله كېږي او هر ژبور مجبور دی چي سمه به ئې لولي، نو ويل ځانته فن او قانون لري او ليكل ځانته، چي همدې فنونو ته ادبی فنون وايي، او هيڅ يوه ژوندۍ او سمه ژبه په مستقيم يا غير مستقيم ډول ددې فنونو له مراعات څخه خلاصېدلای نه شي، بلکی په طبعي ډول كه كمه ژبه خوږه او كلام ئې خوږ وي ( كه ئې ليكونكی يا ويونكی قصد وكړي كه ئې ونه كړي) ددې فنونو اغېزه پكښي ځليږي ( لكه د عربو د جهالت د وقت اشعار ) نو له دې څخه څرگنديږي چي دا فنون عموماً د پخوانيو له پخو ويناو او خوږو اشعارو څخه رائيستل شويدي.

د ادبی فنونو وېش

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادبی فنونو په وېش کي راز راز مختلفي نظرېي موجود دي او ډول ډول وېشونه پکښي شوي دي، او پخوانيو شرقي پوهانو پر څو علومو سره وېشلي دي. احتمال لري چي په اروپا کي په بل ترتيب وي، مگر دلته د شرقي پوهانو نظرېي راوړو:

## پخوانۍ شرقي نظريه:

پر پخوانۍ شرقي اصطلاح چي اوس هم په شرق کښي تقريباً تعقيبېږي ادب هغه پوهنه ده چي منثور يا منظوم کلام په پېژندل کيږي يعني دکلام ښه والی، بدوالی، ټيټوالی، لوړوالی، سم او ناسم ځيني څرگند شي، چي په دې صورت نو د بلاغت اسباب او دبليغ کلام و اصولو ته هم ادب ويلای شو (1) او ځکه نو د اولنو په نظر د ادب علم په ډېرو عربي علومو پوري اړه لري، چي دا علوم نو "ادبی فنون" يا "ادبی علوم" بللای شو، مگر ددې علومو په شمېر او ټاکلو کي هم د پخوانيو پوهانو نظرېي سره مختلفي دي، مثلاً : د ادبی علومو په ټاکلو کي څوك د قرائت علم هم په ادبی علومو کي داخلوي او څوك ئې نه، يا دا چي ځيني علماء د بديع علم مستقل نه گڼي او د معاني او بيان تابع ئې شمېري، همدارنگه د ادبی فنونو په شمېر کښي هم اختلاف دی، ابن انبازی (2) دا فنون اته بولي او زمخشری (3) ئې خپل د قسطاس په کتاب کښي دوولس راوړي، او قاضي ذکريا (4) بيا د بيضاوي په حاشيه کښي څورلس ذکر کړيدي، چي علم قرائت ئې هم په ادبی فنونو کي داخل گڼلی، محمد د محمود امين زوی (5) پخپل کتاب نفايس الفنون کي ادبی علوم پر پنځلسو فنونو مشتمل بللي دي (6) جرجي زيدان بيا ليکي : چي صرف، نحو، لغت، عروض، قوافی، صنعت، شعر، تاريخ او انساب ادبي علوم دي او اديب هغه څوك گڼي چي په دې ټولو علومو پوه او خبر وي او يا په يوه ددې علومو کي پوره عالم وي، او په نورو خبروي، دا عالم او اديب ئې هم دا فرق ټاکلی دی چي اديب له هر څه څخه هغه ښکلې برخه انتخابوي او عالم يوازي يو مقصد تعقيبوي او مهارت پکښي مومي (7) بل بيا وايي د ادب علمونه ديارلس دي چي ددې ديارلسو څخه اته اصول او پنځه فروع گڼي.

## اصول ئې:

لغت، نحو، صرف، اشتقاق، معانی، بيان، عروض او قافيه.

## فروع ئې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسم الخط، قرض الشعر، انشاء محاضرات او تاريخ دی، د بديع فن د معاني او بيان تابع ګڼي (8) سيد شريف (9) بيا ادبي علوم دوولس ياد کړيدي او داسي ئې راوړي:

د ادب علم وار دواره پر دوو برخو وېشل کېږي:

.1اصول

.2فروع

## اصول:

د ادب د علم اصول اته دي، ځکه چي ادبي علوم په الفاظو اړه لري چي په دې صورت کښې به يا دالفاظو د مفرداتو او موادو او هئيات څخه خبري کيږي چي دا "دلغت د علم" کار دی. او يا به يوازي د الفاظو د صورتو او هئيات څخه بحث دی، چي په "علم صرف" اړه لري. او يا به د کلمو د نسبت له حيثه وي چي په اصلوالي او فرعوالی کي د يوې کلمې نسبت بلي ته وشي، البته دا د "اشتقاق علم" دی او يا دا چي بحث له مګرکباتو څخه وي او دا هم پر څو ډوله دی، ځکه چي که په اصل ترکيبيه هئيات او د اصلي معناو په اداء کولو کي بحث وي "د نحو علم" دی او که د معنا دافادې دکيفيت په شاوخوا کښي وي چي کمه معنا ترهغې معنا واضحه او کمه تر هغي بلي معنا پټه ده، دا "دبيان په علم" اړه لري او "د بديع علم" د معاني او بيان له ملحقاتو څخه دی او په هغو کي داخل دی، او که بحث له هغو مرکباتو څخه وي چي هغه وزن ولري دا بيا دوه قسمه دی، ځکه چي که يوازي په وزن کښي خبري وي "دعروض علم" باله کيږي او که دبيتو په اواخرو کي خبري وي "دقافيې علم" دئ.

## فروع:

مګګر فروع څلور دي : دا له دې جهته چي که د ليکني او کتابت پر نقشونو بحث وي " د خط علم" دی او که دا بحث په منظوم کلام پوري خاص وي، "قرض الشعر" دی او که يوازي په نثر پوري اختصاص ولري " د انشاء علم" باله کيږي او که په يوه پوري اختصاص ونه لري "علم محاضرات" دی چي "تاريخ" او "انساب" هم په دې برخه کي شامل دي) .10(

د سيد شريف وېش اکثرو پوهانو منلی او هم دا علوم ئې ادبی فنون بللي دي ځکه نو موږ ځان مجبور ګڼو چي ددې علومو لنډ ــ لنډ تعريف راوړو او هم دا تعريفونه به په راتلونکو بحثونو کي څه نه څه مرسته راسره وکړي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- (1)د صرفو علم:

يو علم دی چي دکلمو د ابنيه له حالاتو څخه ږغيږي، او د ابنيه له حالاتو څخه هغه عوارض مراد دي چي د کلماتو پر جوهر وارديږي، لکه : حرکات، سکنات، ډېرول، لږول، اړول، ادغام، اليشېدل (ابدال) او نور داسي...

(2)د لغتو علم:

دا علم د مفرداتو هغه مدلولات بيانوي چي ددوی دپاره وضع شوي وي او همدارنګه د مرکباتو پر وضع او د هغو دلالت پر جزئيه معانيو ښيي.

- (3)د اشتقاق علم:

دا هغه علم دی چي د يوې کلمې څخه د بلي کلمې را ايستل راښيي او دا را ايستل به د يو جوهري تناسب په واسطه وي چي دا تناسب به ددوي په منځ کښې موجود وي، چي يوه کلمه له بلي راوباسي او يوې ته اصل او بلي ته فرع ووايي، او اصل مشتق منه او فرع مشتق بولي، چي ګويا دا علم فيلالوجي کيفيت لري.

_ (4)د خط يا ليکلو علم :

دا هغه علم دی چي د الفاظو د تصوير او ليك د نقوشو کيفيت راښيي.

_ (5)د نحو علم:

ددې علم په مرسته د کلمې او کلام او احوال د اعراب او بناء له حيثه څرګنديږي.

_ (6)د معاني علم:

هغه علم دی چي د لفظ حالات بيانوي، مګر دا بيان له داسي حيثه چي دکلام مطابقت د مقام له اقتضاء سره څرګندوي، لکه د مجاز عقلي بحث چي ( د يوه شی اسناد هغه شی ته وشي چي دده دپاره نه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ (7)د بيان علم :

ددې علم په مرسته سړی کولای شي چي يو مطلب په پټه او ښکاره په څو مختلفو لارو اداء کړي چي دا علم زما په عقيده تر بديع يعني د الفاظو تر ښکليتوب ډېر اهميت لري او ضروري دی.

ــ (8)د بديع علم:

چي ددې علم په مرسته د بليغ کلام وجوه او علامې او نښې پېژندل کيږي.

ــ (9)د عروض علم:

دا علم د شعر اوزان او بحرونه بيانوی.

ــ (10)د قافيې علم:

دا علم د بيتو د پای حال ښرګندول او پېژندل دي.

ــ (11)قرض الشعر يا نقد الشعر:

دا هغه علم دی چي د شعري کلماتو حال څرګندوي، مګر نه د وزن او بحر له حيثه بلکي د ښه والي، او بدوالي، خوند، او بې خوندۍ له حيثه يعني شعر ته د تنقيد په سترګه کتل دي، چي دا علم پوهانو د عروض تر علم هم ضروري ګڼلی دی، ځکه چي که دا علم منځ ته راشي نو حقيقي اديب او شاعر به له درواغجن او مقلد اوغله اديب او شاعر څخه جلا شي.

ــ (12)د انشاء علم:

انشاء په لغت کي شروع او ايجاد او وضع ته وايي، مګر په اصطلاح کي هغه علم دی چي دده په واسطه دمعانيو څخه د استنباط کيفيت پېژندل کېږي مګر دا په داسي الفاظو تعبير شوي وي چي د مقام سره وړ وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ (13)د محاضرات علم:

محاضره په لغت کي تقريباً د محاورې او حاضر جوابۍ په معنا راځي په اصطلاح کي هره وينا پر خپل ځای ويل او ښه سمه محاوره کول او پر ځای حاضر جوابه او فی البديهه د محاضرې علم دی) 11.(

چي دا فن هم په ادبي فنونو کي خورا ډېر اهميت لري او هر څوك چي ددې ملکې څښتن وي د هر چا خوښ او په هر ځای کي لوړ مقام لري، دا فن تر هر فن د شاعر شعر او وينا کوونکی وينا ورخوندوره او خوږه کوي او اغېزه ئې ډېره وي.

تبصره:

چا اوچابيا علاوه پر دې علومو څو نور علمونه هم مستقلاً ادبي علوم شمېرلي دي چي مشهور ئې دادي:

_ تاريخ او قصص:

چي د تېرو ورځو او پخوانيو وګړو حال څرګندوي، او د مهمو اشخاصو زېږېدنه او وفات راوړي، او د ملتونو او اولسو رسمونه او دودونه معلوموي.

_ د انساب علم:

ددې علم په مرسته د اولسو او قبيلو روابط او خپلوی پېژنو او د هر نژاد او تېر اصل او فرع سره جلا کوی.

_ د مسالك او ممالك علم:

د ښارو اولارو د نومو پېژندنه او د حالاتو څرګندونه پورتنی علم بولي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ د احاجي او اغلوطات علم:

احاجي د احجيه جمع ده، احجيه په لغت كي مشكله او مغلقه كلمه بولي، اغلوطه په لغت كي د هغه مشكل كلام يا هغي مشكلي مسئلې معنا وركوي چي سړی په اشتباه كي اچوي) 12(

په دي علم كي د هغو الفاظو او تركيباتو څخه بحث كيږي چي ظاهراً د قياسي قواعدو سره مخالف وي.

_ د امثالو علم:

د متلو پيژندل او دهر متل ريښه پيدا كول، او د استعمال ځای ئې موندل په پورتني علم پوري اړه لري.

_ دواوين:

د مدونه اشعارو او مصنوعه تراكيبو پيژندل د دواوين علم بولي، د نفايس الفنون ليكونكی (13) دا علم د څورلسو ادبي علومو څخه بللی دی.

تر دي ځايه پوري د اولنو پوهانو د نظريو اختلاف و، او هم په دې ترتيب نوري نظريې هم سته چي د پوهانو هر ټولی له ځانه ادبی علوم ټاكلي دي او هر چا پخپله خوښه څه چي ئې لازم ګڼلي وېشونه په ګډ كړي دي. مګر زما په عقيده د ادبی فنونو اوعلومو د ټاكلو دپاره به همدغه جملې كافي وي چي ووايو:

"ټول هغه فنون او علوم چي د وينا، ليك او لوست، نظم او شعر په ښكلولو او لطيف كولو او سمولو كي برخه اخلي او د هغو تاثير او اغېزه ور ډېروي هغه ادبي علوم باله كيږي."

## لمن ليكونه

.1تاريخ ادبيات ايران � همايي � 4 مخ

.2عبدالرحمن معروف په ابن انبازی دعربيت او ادبيت له پوهانو څخه دی (775) _ (513 )

.3په ( 538 _ 467) هجري

.4قاضی حميد الدين ذكريا بن محمود د اتمي هجري پېړۍ له محدثينو او د عربي ادب له پوهانو څخه دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



5.د ابو اسحق د محمود شاه د زوی معاصر.

6.هغه دا علوم دي : خط، لغت، تصريف، اشتقاق، نحو، معاني، بيان، بديع، عروض، قوافي، تقريض، امثال، دواوين، انشاء، استيفا. ( تاريخ ادبيات همايي ، 10 مخ)

7.تاريخ ادب اللغه العربيه ، جرجي زيدان ، 2 ج ، 95 مخ.

8.دائرآ المعارف بستاني ، 2ج، 655 مخ.

9.على د محمد جرجاني زوی چي په ميرسيد شريف معروف او د خورا مشهورو پوهانو څخه دی، په ( 835 هجري) وفات شويدی (تاريخ ادبيات همايي ، 10 مخ).

10.کشف الظنون طبع استنبول، لومړی جلد 44 مخ، تاريخ ادبيات همايي 1 ج ، 11 مخ.

11.تاريخ ادبيات همايي لومړی جلد ، 11، 23 مخ.

12.اقرب الموارد د همايي په حواله.

تاريخ ادبيات ايران ، همايي ، ج1.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عروض علم

ضروري توضيح:

دمخه تردې چي تاسي د عروض علم وپېژنئ، دا نکته باید تاسي په زړه ولرئ چي د پښتو ملي اشعار چي ددې ادب مهم رکن دی د عربي ژبی د عروض تر قواعدو لاندي کورت نه راځي، بلکي د اروپايي ژبو د اشعارو په څېر د سيلاب او سيلابل له رويه وېشل کيږي، او په هجايي صورت ئې سم او ناسم سره بېليږي، چي وروسته به درته راوړه شي.

هو ! د پښتو ځيني اشعار په عربی عروضو تکلفاً برابريږي مگر دا اشعار د دېوانو اشعار دي چي شاعرانو يې د عربی او پارسي په تقليد اشعار ويلي دي په دې تکلفي اشعارو کي هم اکثر شعرونه نه برابريږي، ځکه چي د پښتو د ځينو کلمو ابتداء په ساکن کيږي نو که دا کلمې د بيتو په سر کي راشي ددې دپاره په عربی عروضو کي هيڅ قاعده نه لري، ځکه چي په عربي کي ابتداء په ساکن له سره شته نه، او بل دا چي خليل بن احمد د عربی ژبي دپاره بحور ټاکلي نه ( ددوي په اصطلاح) دعجمي ژبو دپاره، تر دې يادوني وروسته به نو اوس دعروض دعلم په ښووني پيل وکړو، او څنگه چي پښتو شعرونه اصلاً نه پر برابريږي او هغه چي برابريږي هم بې خونده دي نو مثالونه د پارسي څخه راړو که څه هم دا عروض د پارسي ژبي دپاره هم نه دي وضع شوي.

تعريف:

عروض عرضه کولو ته وايي (1) او اصطلاحاً هغه علم دی چي دعربي شعر د اوزانو کره او ناکره صحيح او فاسد په پېژندل کېږي) 2.(

موضوع:

ددې علم موضوع شعر ته د سموالي اوناسموالي له حيثه کتل دي).3(

واضع:

د عروض د علم واضع خليل بن احمد الفراهيدي دی چي په دوهم هجري قرن کي ئې ژوند کاوه. (4) که څه هم تر دې دمخه نورو شاعرانو پر همدې عروضو برابر نظمونه ويلي وه مگر دا علم چا نه وْ ورته وضع کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا علم ولي عروض بولي ؟

ځکه چي اشعار د خليل پر قواعدو عرضه کيږي، او څوك لا وايي چي خليل دا قواعد په عروض کي چي يو ځای دي وضع کړي دي نو د هغه ځای په نوم ئې ياد کړيدي) .5(

## د عروض ارکان:

د عروض د علم رکنونه ددې علم اجزاء او افاعيل دي افاعيل هغه متحرکات او سکنات دي چي بيت ځيني جوړيږي، بيت په عربي خوني او کور ته وايي هر بيت دوې برخي وي ، چي هري برخي ته مصراع يا مصرع وايي، او مصراع د دروازې يوې پلې ته وايي د بيت د لومړی مصراع لومړي جز ته صدر وايي او آخر جز ته يې عروض د دوهم مصراع لومړی جز ابتداء او وروستی جز ضرب يا عجز بولي او هغه اجزاء چي د صدر او عروض يا ابتداء او ضرب په مينځ کي راځي هغه ته حشو وايي).6(

## افاعيل:

افاعيل لس کلمې دي : فعولن، فاعلن، مفاعيلن، فاعلاتن، مستعفلن، مفاعلتن، متفاعن، مفعولات، فاعلاتن، مس تفع لن، چي دوره ئې پنځه حرفيز او نور ټول اوه حرفيز دي، د درو شيانو څخه ترکيبيږي : سبب، وتد، فاصله.

سبب دخېمې مراندو ته وايي، وتد ئې زيرك دی فاصله د دوو مراندو تر منځ جلاوالي ته وايي، او دلته سبب دوه حرفيزه کلمه ده، نو که ئې آخر ساکن وْ لکه "تن" خفيف سبب ورته وايه شي، او که متحرك وْ " تنه " (غير ملفوظي هـ) ثقيل سبب دی، وتد درې حرفيزه کلمه ده نو که ئې د مينځ توری ساکن وْ لکه "تان" هغه مفروق وتد دی او که يې آخر ساکن وْ لکه (وزر) مجموع وتد ورته وايي، فاصله څلور حرفي يا پنځه حرفيزه کلمه ده دا هم که اول درې توري متحرك او څلورم ساکن وْ، لکه اچول د اصغرا فاصله بولي او که څلور توري متحرك او پنځم توری ساکن وْ، لکه اچولی دا نو کبری فاصله ده.

## زحافات:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افاعیل کله کله د خپل اصلي حالة تغیر خوري،دې تغیر ته زحاف وایي زحاف له مقصده لیري کېدل دي دا زحافات پر درې قسمه دي : یو دا چي متحرك ساكن كړي، بل دا چي د ركن له تورو یو توری كم كړي، دریم دا چي پر اصلي تورو نور څه اضافه كړي، ټول ازحیف پنځه دېرش دي) 7.)

.1اخمار:

په لغت کي بوټول او ړنګرولو ته وایي، اصطلاحاً د متفاعلن (ت) ساکنول دي، او څنګه چي دا غیر مانوس کیږي نو متفاعلن په مستفعلن اوړي، اخمار خاص په بحر کامل کي راځي.

.2عقب:

سر ترلو او د وني د ښاخ غوندېولو ته وایي، اصطلاحاً د مفاعلتن د لام- ساکنول دي، دا په بحر وافر کي راځي.

.3خبن:

پټولو ته وایي، اصطلاحاً د هغه خفیف سبب ساقطول دي چي د ركن په اول كي راشي فاعلن په فعلن شي دا په رجز، رم، مدید، بسیط، متدارك، سریع، خفیف، مجتث، منسرخ او مقتضب کي راځي.

.4وقف:

دربېدو ته وایي، او اصطلاحاً د مفعولاتو د (ت) ساکنول دي، دا په سریع، منسرح، مقتضب بحرو کي راځي.

.5طی:

د کالو یا کاغذو پېچلو ته وایي، اصطلاحاً د هغو دوو خفیفو سببو د څلرم ساکن توري ساقطول دي چي بې فاصلې د رکن په اول کي وي، نو مستفعلن به مستعلن او مفعولات به مفعلات شي دا په بسیط، رجز، سریع، منسرح او مقتضب بحر کي راځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.6قبض:

ترلو او بندېدلو ته وايي، مګر اصطلاحاً د پنځم سببي ساکن توري ساقطول دي نو مفاعيلن به مفاعلن او مفعولن به فعول پاته شي.دا په طويل، مديد، هزج اومتقارب کي راځي.

.7عقل:

د اوښ زنګون ترلو ته وايي، خو په اصطلاح کي د مفاعلتن د رکن متحرك لام ساقطول دي، دا په بحر وافر کي راځي.

.8کف:

د ګرځول او جامې د کنارې کنډولو ته وايي، اصطلاحاً د اووم سببي ساکن تورى ساقطول دي، نو مفاعيلن به مفاعيل او فاعلاتن به فاعلات شي دا په طويل، مديد، رمل، خفيف، مجتث او مضارع کي راځي.

.9وقس:

مغزي ماتولو ته وايي، مګر اصطلاحاً د متفاعلن د رکن دوهم متحرك توري ساقطول دي دا په بحرکامل کي راځي.

تبصره :

)تردې ځايه پوري مفرد زحافات بلل کېده تردې وروسته ئې مزدوجه زحافات بولي(

.10شکل:

څلور پښې په رسۍ ترلو ته وايي، اصطلاحاً متصل د فاعلاتن او مستفعلن په رکن کي د خبن او کف يو ځاى کېدل دي، دا په مديد، خفيف، رمل او مجتث کي راځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.11خزل:

پرېکول، کمول دي، اصطلاحاً مضمن، متفاعلن مطوي کول دي يعني څلرم توری، ساقطول دي دا په بحر کامل کي راځي.

.12تشعيث:

د تيتولو او تللو په معنا دي اصطلاحاً د فاعلاتن د وتد مجموع له دوو متحرکو څخه يو توری ساقطول دي دا په مديد، خفيف رمل او مجتث کي راځي.

.13اذاله:

لمن ايله کولو ته وايي، او دلته د آخر رکن په وتد مجموع کي الف زياتول دي نو مستفعلن به مستفلان او فاعلن به فاعلان او متفاعلن به متفاعلان راشي، دا په رجز، متدارك، بسيط، کامل، سريع، منسرخ او مقتضب کي راځي.

.14قصر:

لنډولو ته وايي، خو اصطلاحاً دا درې چي سببي ساکن د رکن او آخره څخه وغورځوي او تر هغه دمخه توری ساکن کړي، نو مفاعيلن به مفاعيل او فاعلاتن به فاعلات او فعولن به فعول او مستفعلن به مستفعل شي او دا په طويل ، مديد، هزج،رمل متقارب،مضارع خفيف او مجتث کي راځي.

.15قطع:

پرېکولو ته وايي، اصطلاحاً دادی چي د وتد مجموع ساکن د رکن له آخره وغورځوي او تر ده دمخه توری ساکن کړي، نو له مستفعلن څخه به مستفعل او له فاعلن څخه فاعل او له متفاعلن څخه به متفاعل پاته شي دا په رجز کامل، متدارك، بسيط،مديد، سريع، خفيف او مقتضب کي راځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



16.کسف:

د اوښ پوندي پرېکولو ته وايي، د مفعولاتو د اووم حرف ساقطول دي يا د وقف او کف اجتماع ده دا په سريع، منسرح، مقتضب کي راځي.

17.حذف:

له يو شي څخه يو شی کمول دي، د رکنو له آخر څخه د خفيف سبب ساقطول دي يا دوقف او کف يو ځای والی دی، دا په مديد، خفيف، هزج، رمل، مضارع، مجتث، طويل او متقارب کي راځي.

18.اخذ:

اخيستل او قطع کول دي، دلته د ارکانو له آخر څخه مجموع وتد ساقطول دي، دا په کامل، بسيط، رجز او متدارك کي راځي.

19.صلم:

د غوږ او پزي پرېکول دي، اصطلاحاً د مفعولاتو د پای مفروق وتد ساقطول دي دا په سريع منسرح او مقتضب کي راځي.

20.قطف:

د انگور د وږي يا نور څه پرېکولو ته وايي، اصطلاحاً د مفاعلتن په آخر کي د خفيف سبب ساقطول او دمخه تر هغه ساکتول دي يا د عصب او حذف اجتماع ده، دا په وافگر بحر کي راځي.

21.بتر:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لکۍ پرېکولو ته وايي، يا له بيخه کښل ، اصطلاحاً په فعولن کي د حذف او قطع يو ځای کېدل او په مفاعيلن کي دحب او حزم اجتماع، دا په متقارب، هزج، رمل، مضارع، مجتث او خفيف کي راځي.

.22تسبيغ:

لغتاً تمامولو ته وايي، اصطلاحاً په خفيف سبب کي چي د رکن په آخر کي راغلی وي او په عروض او ضرب کي واقع وي الف زياتول دي، دا په هزج، رمل، مضارع، متقارب، مديد، طويل او مجتث کي راځي.

.23ترفيل:

لمن اوږدول دي، پر مجموع وتد باندي چي په عروض او ضرب کي واقع شي خفيف سبب زياتول دي دا مختص په عربي پوري دی، په پارسي کي لږ راځي په عربي که هم په بحر کامل کي دی.

.24جدع:

پزه او غوږ او لاس پرېکول دي، د مفعولات څخه د دواړو سپکو سببو غورځول اود "ت" ساکنول دي دا په بحر سريع، منسرح او متقضب کي راځي.

.25حب:

خسي کول دي، او اصطلاحاً د مفاعيلن د رکن څخه د دوو خفيفو سببو ساقطول دي دا په بحر هزج او مضارع کي راځي.

.26هتم:

په لغت کي غاښ له بېخه کښل دي، اصطلاحاً په ففاعيلن کي د حذف او قصگر يوځای کول دي، دا په بحر هزج او مضارع کي راځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.27نحر:

د اوښ د غاړي پرېکولو ته وايي، اصطلاحاً د مفعولاتو د تا او د دوو خفيفو سببو ساقطول دي دا په سريع، منسرح او متقضب کي راځي.

.28مراقبه:

په لغت کي د يو بل ساتني ته وايي، اصطلاحاً په مفاعيلن مفعولات، مستفعلن کي يوازي د دوو خفيفو سببونهْ حذفول، دا په مشاکل، قريب او جديد کي لازم او په سريع ، منسگرح او خفيف کي روا دي.

.29معاقبه:

په يو بل پسي تلل، اصطلاحاً دوه خفيف سببونه چي په شعر کي يو ځای شوي وي د هغو دواړو ساقطول يو ځای روا نه دي دا په مديد، منسرح، رمل، وافر، هزج، خفيف، طويل کامل مجتث کي راځي.

.30زلل:

په لغت کي هغه وزن ته وايي چي غوښي نه لري، اصطلاحاً په مفاعيلن کي د هتم او حزم يوځای کول دي دا په هزج او مضارع کي راځي.

.31عقص:

د وېښتانو پېچل، اصطلاحاً په مفاعلتن کي د حزم او نقص يو ځايوالی دی دا په وافر کي راځي.

.32خبل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لغت کي لاس او پښه پرېکول دي، په مستفعلن او مفعولات کي دخبن او طی یو ځای کول دي دا په منسرح او نورو کي راځي.

.33غضب:

په لغت کي د پسه یو ښکر کېدل دي، اصطلاحاً د مفاعلتن په رکن کي حزم دی او په وافر کي راځي.

.34خرب:

په لغت کي ورانول دي، اصطلاحاً په مفاعلین کي د خرم او کف یو ځای کېدل دي، دا په هزج او مضارع کي راځي.

.35شتر:

د سترګو باڼو اوښتل دي، اصطلاحاً په مفاعیلن کي د خرم او قبض یو ځای کېدل دي، دا په هزج او مضارع کي راځي.

.36ثلم:

په لغت کي کنډو کول او ګوښه کېدل دي، اصطلاحاً د فعولن خرم، کول بېله کوم تغیره دا په طویل او مقارب کي راځي.

.37ثرم:

د مخ د غاښ ماتولو ته وایي، اصطلاحاً په فعولن کي د قبض او خرم یوځای کېدل دي دا په طویل او متقارب کي راځي.

.38خرم:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پزه پرېکول دي، د هغه مجموع وتد څخه چي د رکن په سر کي راسي لمړی متحرك توری ساقطول دي دا په هزج او مضارع كي راځي .

.39قصم:

غاښ ماتولو ته وايي، اصطلاحاً په مفاعلتن كي د عصب او خرم يو ځای كېدل دي، دا په بحر وافر كي راځي.

.40جمعه:

په جنگ كي سرې بې نېزې كېدلو ته وايي، اصطلاحاً په مفاعلتن كي د عقل او عصب اجتماع ده.

بحرونه:

د عربي عروض بحرونه شپاړس تاكل شويدي چي پنځلس خليل بن احمد جوړ كړي او يو بحر متدارك ابوالحسن اخفش باندي زيات كړيدی. شپاړس بحرونه دا دی:

(1)بحر طويل:

بيت په بحر طويل كي په څلور واره فعولن، مفاعيلن تماميږي يعني داسي:

فعولن مفاعيلن فعولن مفاعيلن

مثال چه گويم نگارينا كه بامن چها كردي

فعولن مفاعيلن فعولن مفاعيلن

قرارم دل بـــــردی زصبرم جدا كردي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2)بحر مدید:

په دې بحر کې بیت په څلور واره فاعلاتن فاعلن تمامیږي مثلاً:

دل زهجرت ای صنم خون خود را میخورد

جان بدستت ای پسر جامه برتن می درد

"جامي"

(3)بحر بسیط:

ددې بحر بیت په څلور واره مستفعلن فاعلن تمامېږي مثلاً:

چون خار وخس ــ روز وشب افتاده ام در رهت

باشد که برحال من افتد نظر ناگـــــــــــــــــهت

"جامي"

(4)بحر سریع:

په دې بحر کې بیت په دوه واره مستفعلن مستفعلن مفعولات تمامیږي مگر د زحافاتو په اثر اوړي چې یو ډول ئې دادی : مفتعلن مفتعلن فاعلات مثلاً:

وقت ضرورت چونماند گریز

دست بگیرد سر شمشیر نیز

(5)بحر خفیف:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې بحر بيت په دوه واره فاعلاتن مس تفع لن فاعلاتن تماميږي مګر د زحافاتو په اثر اوړي چي يو ډول ئې دادی : فعلاتن مفاع لن فعلا تن راځي لکه:

ای صبا بوسه زن زمن دراورا

ورنرنجند لب چوشك کراورا

(6)بحر منسرح:

منسرح آسان ته وايي، دا بحر په څلور واره مستفعلن مفعولات تماميږي مګر د زحافاتو په اثر اوړي مفتعلن فاعلات مفتعلن راځي لکه:

شاه جهان باد تا زمـــــانه بود

کز کرمش خلق شادمانه بود

(7)مجتث:

په څلور واره مس تفع لن فاعلاتن تماميږي، مګر د زحافاتو په اثر اوړي چي يو ډول ئې دادی چي څلور واره مفاعلن فعالتن راشي لکه:

تو آن گلی که مه آسمان جبين تو بوسد

فلك زصد ره فرود آيد و زيدين توبوسد

(8)بحر مضارع:

د مشابه په معنی څلور واره مفاعيلن فاع لاتن راځي. او د زحافاتو په اثر اوړي يو ډول ئې مفعول فاعلاتن څلور واره راځي:

وزمن جفا نخيزد دانم که نيك داني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



از تو وفا نیاید داني كه نیـــك دائم

"خاقاني"

(9)بحر مقتضب:

د پرېکولو معنا لري په دې بحر کې څلور واره مفعولات مستفعلن راځي او دا د منسرح عکس دی خو زحافات ئې اوړي يو ډول ئې فاعلات مفتعلن راځي لکه:

سرو گلعذار مني فصل نوبهار مـــني

من اگر چه ننگ توام عز وافتخار مني

(10)بحر وافر:

اته واره مفاعلتن راځي لکه:

چه شد صمنا که سوی کسی بچشم وفا نمی نگری

زرسم جفا نمی گذری طریق وفا نمـــــــــــــی سپري

"سيفی عروضی"

(11)بحر كامل:

اته واره متفاعلن راځي چي د زحافاتو په اثر اوړي او دوه واره متفاعلن ، مستفعلن، مستفعلان لکه:

چو عیان شوی آســـــــایدم روح وروان

چو نهان شوی از جان من خیزد فغان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(12)بحر هزج:

په دې بحر کې اته واره مفاعیلن راځي لکه:

ز فرق سر وتو گرمـــاه می تابد چه فرق آخر

ببین از راس آن سروم ، هلال ابروان قمری

(13)بحر رجز:

اته واره مستفعلن راځي لکه:

ای چهره زیبای تو رشـــــــــــك بتان آذری

هرچند وصفت میکنم درحسن زان بالاتری

(14)بحر رمل:

اته واره فاعلاتن راځي لکه:

باز درپوشید گیتی تازه ورنــــگین قبائی

عالمی را کرد مشکین بوی زلفی آشنایی

(15)متقارب:

اته واره فعولن راځي لکه:

زشرم رخت لالــــــــه را داغ بردل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرشك قدت سرورا پاى در گل

(16)متدارك:

اته واره فاعلن راځي لکه:

حسن ولطف ترا بنده شـــد مهرومه

خط وخال ترا مشك چين خاك ره

تبصره:

د افاعيلو هر رکن د بيت يو جز دی او دبحرو بشپړ اجزا اته دي نو که اته سره په يوه بيت کي راغلي وه هغه ته مثمن وايي، او که شپږ جزو راغلي وي مسدس ئې بولي، او که څلور جزو راغلي وي مربع ئې بولي، په عجمي ژبو کي مثلث او مثنی او موحد هم راغلي دي،مگر په عربي کي نشته او د هر بحر چي په ارکانو کي تغير راغلی وي هغه بحر مزاحف بولي او که تغير نه وي راغلی هغه سالم بولي.

د پښتو عروض:

دمخه مو وويل چي د پښتو ملي شعرونه پر عربي عروضو نه برابرېږي، اوځکه چي پښتو آريايي ژبه ده نو داروپايي ژبو د اشعارو په شان د سيلاب او سيلابل له رويه پېژندل کيږي، يعني په هجايي صورت ئې سم او ناسم سره بېلېږي، که څه هم د پښتو ځينو شاعرانو د پاړسي ژبي د شاعرانو په څير خپل اشعار په زور او ستم برابر کړي مگر په عمومي او اساسي ډول هېڅ نه برابرېږي - دا ولي ؟

يو خو دا چي پښتو آريايي ژبه ده او عربي سامي ژبه ده او د دواړو ژبو خصوصيات سره بېل دي، بل دا چي په پښتو کي ابتداء په ساکن بيخي ډېره راځي، او دا په عربي کي هـيڅ جواز نه لري، او نه خليل بن احمد پخپلو عروضو کي د ابتداء په ساکن مراعات کړيدی، له دي څخه هم ښکاري چي خليل خاص د عربي ژبي دپاره عروض جوړ کړيدي نو که د پښتو د بيت په سر کي ابتداء په ساکن راشي، تقطيع به ئې څنگه کوو؟ ځکه نو بايد سېلاب وپېژنو:

سېلاب يوې هجا ته وايي، هجا د خولې يو وار ښوربدل دي، يعني د حروفو ډېر والي يا لږوالی اهميت نه لري مثلاً : در، ور، پر،که څه هم دوه توري دي مگر سېلاب ئې يو دی، لکه لا داسي وي چي څلور توري يو سېلاب ولري لکه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور، ترور یا نور. دوه سېلابي کلمې لکه: اتر، خبر، زنه،پزه، ګټل، وهل، درې سېلابي کلمې لکه زړه ور، مرور، کښېناستل، څلور سېلابي کلمې لکه : دړي وړي، لاندي باندي ترله وتل. پنځه سېلابي کلمې لکه وژلي شوي، خوړلي شوي. شپږ سېلابي کلمې لکه خبري اتري، یا نوري داسي کلمې، سېلاب چي وپېژانده شو نو دا هم ښکاره ده چي دپښتو د شعر په تقطیع کي فقط حرکت او سېلاب اهمیت لري د تورو ډېرښت ته نه کتل کیږي.

## د پښتو د شعر اقسام:

د پښتو شعرونه چي د سېلاب له رویه سګره جلا کیږي د ځانه مخصوص نومونه لري دا باید د بدیع دعلم په لفظي صنایع کي درته ویل شوي وای مګر څنګه چي تقطیع په دې علم اړه لري دلته ئې راوړو او هغه دادی) : 8(

### (1)لنډۍ:

د پښتو د ملی ادب یو مهم رکن لنډۍ دي او په پښتنو کي بیخي ډېر شهرت لري د پښتو په اشعارو کي خاص وزن او سېلابونه ټاکل شویدي، د لنډۍ لومړۍ مصراع نهه سېلابه او دوهمه مصراع دیارلس سېلابه ده چي ټوله لنډۍ ګویا دوه ویشت سېلابه ده او په آخر کي ئې هرومرو "میم" او "هـ" یا "نون" او "هـ" راځي او لنډۍ اکثر د ښځو له خوا ویل شویدي. مثلاً دا دوې لنډۍ:

دا پېغلتوب مي د غم دود کړې

خیالي ځوانان راپسي مري خونکاره شومه

اوس به دي یو موټې ایرې کړم

ملالي سترګي که در واړوم مینه

دا پورته لنډۍ هم د ښځو له خوا دي او هم د یوې په آخر کي "میم" او "هـګ" او د بلي په آخر کي "ن" او "هـ" راغلي دي. فقط دومره دی چي دواړي لنډۍ عشقي دي او په لنډیو کي حماسي مضامین هم ډېر ښه ځای شویدي مثلاً : یوه نجلۍ زلمی ته داسي تشجیع ورکوي:

ته په سګنګر کي ځان شهید کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به خپل شال ستا پر زیارت وغوړومه

یا ورته وایي:

توري به نه کړي نو به څه کړي

چي سپین مړوند دي زه تر سر لاندي کومه

یا دا چي:

ټوټې ټوټې په وینو راشې

چي پرهارونه دي ګنډم خوله درکومه

بیا پسله مرګه خپل مین داسي ستایي:

جانان مي سر پر وطن کښېښود

په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه

د لنډیو یوه لو ممیزه او خصوصیت دادی چي یوه لنډۍ د موسیقۍ پر اصولو تقریباً پر پنځوس قسمه ویله کیږي یعني په جلا جلا سر او جلا جلا آهنګ اداء کیږي، او دا مزیت بېله لنډیو بل شعر نه لري .

لنډۍ د کندهار او غزني په شاوخوا کي لنډۍ بولي ځکه چي اوله مصرع ئې تر دوهمي لنډه ده د یوسفزو او پېښور خواته مسرۍ یا ټپه ورته وایي، د ننګرهار شاوخواته ئې ټکۍ بولي) .9 (

تبصره:

د پښتو هر شعر چي دغه سېلابونه درلوده هغه "لنډۍ" بولي.

(2)ناري یا ږغونه:

ناري او ږغونه د ملي اشعارو هغه شعرونه دي چي په ملي افسانو کي راوړل کیږي، او دا شعرونه عموماً دبیت په ډول وي مګر تر بیت اوږده وي او د هري افسانې د نارو سېلابونه بېل بېل دي ځیني ډېر او ځیني لږ دي کوم ټاکلی سېلاب نه لري، خو دومرى دي چي د هري افسانې د نارو سېلابونه پخپله منځ کي یو شی دي او هیڅ فرق نه سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري دا نارې د عربي اشعارو په څېر په کوم بحر کي مقيدي نه دي بلکي د اروپايي آزادو شعرو په شان ويلي شويدي، لکه د فتح خان په نقل کي دا ناره چي رابيا د فتح خان محبوبه د جنګ پر وخت دده پر کرنګ آس باندي کړې ده :

د فتح کرنګه نال به دي زرين کړم

که دي دا وار فتح راوړ،خپل امېل به دي د غاړي لونګين کړم

لومړی مصراع 12 سېلابه ده او دوهمه مصراع 20 سېلابه ده ددې افسانې ټوله نارې همدا سېلابونه لري ځکه چي ملي افسانې ډيري دي او نارې ئې هم ډيري دي نو نوري افسانې ستاسي مطالعې ته پرېږدو.

(3)نيمکۍ:

نيمکۍ د پښتو يو قسم مرکب شعر دی چي له دوو جزو څخه جوړ شويدی يو هغه جزو چي څو واره تکرارېږي، دې جز ته "سر" وايي او بل هغه جز دی چي په منځ کي ورلوېږي دې جز ته "ټکۍ" وايي .

په نيمکۍ کي اول سر ويل کيږي دغه سر عموماً يو بيت يعني دوه مسرۍ وي مګر دا دوې مسرۍ که څه هم په قافيه کي سره يو شانته وي مګر په سېلاب کي برابري نه وي يعني د مستزاد په شکل لومړۍ مسرۍ ئې اوږده او دوهمه لنډه وي. عموماً لومړۍ مسرۍ 13 سېلابه او دوهم 7 سېلابه وي، تر سر وروسته يوه يوه ټکۍ ويله کيږي او سر پکښي تکرارېږي، او د ويلو صورت ئې داسي دی چي ټکۍ د اولي مسرۍ تر ويلو وروسته د سر لنډه مسرۍ ورسره تکرارېږي، بيا چي د ټکۍ دوهمه اوږده مسرۍ وويله شي د سر دواړي مسرۍ ورسره بيا تکرار ويلي کيږي دا ډول نو هر قسم ټکۍ په نيمکيو کي ويلي کيږي په نيمکيو کي هر يو تن د مجلسيانو څخه حق لري چي يو يو بند وار په وار د غزلچي سره ووايي سر خوئې يو وي صرف هر يو تن له ځانه ټکۍ ور اچوی. نيمکۍ اکثر د مسابقې په ډول ويلي کيږي.

د نيمکۍ نمونه داده:

سورکی پېزوان دي په کنډو ختلی لمر دی

چا وې چي مازديګر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منګی دي کېده خوله دي راکه

چا وې چي مازديګر دی

مور ته دي وايه چي په پوله ولوېدمه

چا وې چي مازديګر دی

سورکی پېزان دي په کنډو ختلی لمر دی

تر پايه

په پورته نيمکۍ کي سر همهغه اول مستزاد بيت دی.

(4)بګتۍ:

د پښتو د ملي اشعارو يوه غوره نوعه بګتۍ ده، بګتۍ په مجلس کي تر رباعي، غزل او چاربيتو وروسته بلکي د غزلو او چاربيتو تر منځ په ورو او چابك آواز ويله کيږي. آوازونه پکښي اوچتيږي، بګتۍ هم "سر" لري او غالباً يو بيت وي، چي ددې بيت ددواړو مسريو قافيه سره برابره وي. تر سر وروسته بندونه لري چي هر بند ئې څلور مسرۍ وي درې اولي مسرۍ ئې پخپل کور کي ځانته قافيه لري اود څلرمي مسرۍ قافيه ئې د سر سره برابريږي، مګر د هر بند په پای کي د بګتۍ سره ورسره اخيست کيږي. د بګتۍ نمونه داده:

دا توري سترګي رانه تېريږي

د حاله زما کله خبريږي

دا توري سترګي سره ئې لاسونه

په بام ولاړه کوي سيلونه

اوربل کې ايښي تازه ګلونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موزي دله خان به ترې جاريږي

دا توري سترګي.....................

...................تر پايه

(5)چاربيته:

چار بيته دپښتو دملی اشعارو خورا برجسته نوعه ده، او ډېر شهرت لري ځکه چې په چاربيته کې د قصيدې او مثنوي په شان ډېر اوږده مضامين او لويي لويي قيصې ويلي کيږي، د چاربيتي ويل په تندۍ او چالاکۍ وي. چاربيته هم يو سر لري چې هغه ته "پيرو" يا "کسر" هم وايي، د چاربيتي مسرۍ اوږدې وي اوعموماً چاربيته دوه قسم ده، يو هغه چې هر بند ئې دوه بيته يعني څلور مسرۍ ولرى بله هغه چې هر بند ئې څلور بيته يعني اته مسرۍ وي، په اول صورت کې ورته مجازاً چاربيته ويله کيږي، کله چاربيته په مستزاد شکل هم راځي، مګر په هغه کې هم اوږدې مسرۍ وي د چاربيتي د هر بند آخر بيت د سر سره همقافيه دی.

مثالونه د اول قسم:

څوك به پيدا نه شي د فرهاد او شرينۍ په شان

يو ځای به څوك نه شي د آدم او درخانۍ په شان

يو ځای به څوك نه شي لکه وْ عاشق فرهاد

بل به ئې کولو په آشنايي پسي فرياد

وئې کړه خواری ځکه حاصل ئې شه مراد

کړي به ئې خبري د طوطا د ښارونۍ په شان

دوهم قسم : دا دوهم قسم درې ډوله لري يو دا چې د هر بند اول درې بيتونه پخپل کور کي سره يو قافيه وي او آخر بيت ئې د سر سره په قافيه کي يو وي، دوهم دا چې د هر بند د اولو درې بيتونو اولي مسرۍ ئې پخپل منځ کي په يوه قافيه وي او آخري مسرۍ په بله قافيه وي، دريم دا چې ټوله مقفي وي يعني هر بيت ئې پخپل منځ کي قافيه داره وي بلکه هره مسرۍ ئي. دغی چاربيتې ته "زنځيري" چار بيته وايي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول مثال:

شاگرده او نص د الهی پروردگار دی

استاذه بل حدیث د محمد نبي حضرت دی

شاگرده په جهان کي جبرائیل نومی ملك دی

استاذه خاص مقام دده په اووم آسمان فلك دی

شاگرده ټول وجود ئې د حجر حدیده کلك دی

استاذه سر ترپایه په وزرو باندي چك دی

شاگرده د رحمت په ډنډ کي ډوب لکه سمك دی

استاذه ما په دې خبره هم ویستلی شك دی

بېحده ښایسته د نور په شان شعله انگار دی

د باد په شان ته گرځي په هوا باندي اوچت دی

ترپایه .............. (میاگل)

دوهم مثال:

د ښایست آواز دي ولاړئ په عالم کي لور په لور

زه دي سوی یم په اور ټیك دئ کوز که له جبینه

د ښایست آواز دي لاړه په کابل په هندوستان

ځکه ناست یمه حیران ، را رسېږي یا نصیبه

عاشقي ده ډېره گرانه ځي د اوښکو مي باران

پرې لوند مي شو گگریوان پوه نه شوم په ترتیبه

په هر چا باندي تیرېږي دفاني دنیا دوران

څوك راځي څوك تري روان، کاندي یاروته قریبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باري خپل دي که پردي دي راکوي راته پېغور

سترګي نشمه نيولی ګوره ډوب يم ستا په مينه

ترپایه ................ (محمد دين)

دريم مثال:

کله به راشي په پوښتنه د ملنګ کړي ځنګ

لري کړه زنګ شوم رنګ ستا په تهمت کي

کله به راشي چي دي وکړمه ديدار سهار

زړه مي پرهار د يار دلاسه ډېر دی

شومه په غم کښي ستا د ميني ګرفتار په جار

وسوم په نار آنګار راته چاپېر دی

آخر به تېر شي د نيمکړي دنيا وار په خوار

مه اخله آزار بيمار په زلفو ګير دی

مخ دي ځراغ دی پرې راځم لکه پتنګ په شرنګ

لري کړه زنګ شوم رنګ ستا په تهمت کي

ترپایه ............ ( محمد دين)

(6)رباعی:

د پښتنو په عامه طبقه کي کوم شعر ته چي رباعي وايي هغه د پارسي رباعی په شان نه ده، بلکي کوم شعر ته چي خاصه طبقه غزل وايي د پښتو بې سواده او عوام شاعران ورته رباعي وايي، که څه هم عوامه طبقه شاعران چي ملي اشعار وايي له ځانه جلا غزل هم لري او فرق ئې دا کوي چي په رباعي کي اکثره د پند او نصيحت خبري وي او په غزل کي عشقي او په وزن کښي هم فرق سره لري غزل په چست او تند آواز ويل کيږي او رباعي په آرام او اوږده ږغ کوم وخت چي مجلسيان مجلس شروع کوي نو رباعي تر غزل او چاربيتي دمخه وايي او مجلس ملتفت کوي. تر کومځايه چي زه په دې باره کي معلومات لرم هغه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رباعي نمونه:

خدايه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلك

په ظاهر په باطن سپين سپېڅلي خلك

هيڅ خندا مي ددې خلکو سره نه شي

ژړه وي مي هغه تللي تللي خلك

خبر نه يم چي وکومي خواته لاړل

ليده نه شي هغه ما ليدلي خلك

دريغ يو ځلي خو بيا په دنيا راغلي

له جهانه په ارمان وتلي خلك

"رحمان" هسي گوښه خوند له خلکو بيا موند

چي هر گز نه دی دا خوند موندلي خلـــــــك

)رحمان بابا(

(7)غزل:

د پښتو غزل او رباعي څه نور فرق نه لري فقط په رباعي کي د پند او نصيحت خبري وي او غزل عشقي کلام وي، رباعي ورو ورو ويله کيږي او غزل چسته او تنده.

د پښتو غزل له پنځو بيتو تر پنځلسو پوري وي او دپښتو په ټولو دېوانو کي غزلي زياته برخه لري او هغه ته عام شاعران کتابي غزل وايي. څنگه چي د غزلي مثالونه ډېر او هر چاته معلوم دي له مثاله ئې صرف نظر وشو.

(8)بدله:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدله په پښتو کي ځانته ځانته معناګاني لري، د کندهار په اصطلاح کي يوازي د ښځو آوازو ته بدلي وايي، د نارينه آوازونو ته بدلي نه وايي د جنوبي او مشرقي او ځينو نورو پښتنو په اصطلاح کي د بدلو اطلاق عام دی، هم د ښځو او هم د نرو آوازو ته هم بدلي ويل کېدای شي.

ځني پښتانه لا لنډۍ ته هم بدله وايي.

(9)لوبه:

په لوبه کي ډېري اصطلاح ګاني موجودي دي په ځينو اصطلاح ګانو کي لوبه لکه د بدلو يو عام نوم دی. او داسي يوه خاصه نوعه نه لري بلکي په ټولو اشعارو يې اطلاق کېږي دا اصطلاح په کندهار او جنوبي کي نشته، بلکي دا د کوزي خوا د پښتنو اصطلاح ده، او په ځينو اصطلاح ګانو کي لوبه هم لکه د بګتو او د غزلو يو خاص نوم دی اود شعر په يوه خاصه نوعه ئې اطلاق کيږي .

بيا په دي کي هم دوه اصطلاح ګاني دي په يوه اصطلاح کي د لوبي اونيمکۍ هيڅ فرق نشته بلکي دواړه يو شی دی، او هغه نيمکۍ چي مخکي تېره شوه، دغي ته بعينه لوبه هم وايي، او په بله اصطلاح کي د نيمکۍ او دلوبي په منځ کي هم فرق شته هغه دادی چي د نيمکو په منځ کي ټکۍ رالويږي، اود لوبي په منځ کي ټکۍ نه رالويږي بلکي عليحده د لنډو لنډو مصرو بندونه لري، سرئې د نيمکۍ په شان وي او په منځ کي ئې د ټکيو په غير نور بندونه راوړلي شي او دهر بند آخره مصره ئې د مطلع سره په قافيه کي موافقه وي او دمطلع هغه لنډه مصره هم ورسره تکراريږي .

دلوبي نمونه داده:

د حکيم جاني خلك ډېر ډېر صفت کوي

توري سترګي خاري

حکمه ئې سيند ته کړه ګزاره

بيا يې پرې تيرې کړه انباره

چي راو نه وځي دوباره

تقدير له ګوره چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبو، اوبو کړه سرسري

توري سترګي خماري

(10)سندري:

دا تسمیه یا دا نوم هم په پښتنو کي مشهور دی، او اکثر پښتانه ئې استعمالوي سندري هم لکه د بدلو یو عام نوم دی، او کمه یوه خاصه نوعه نه لري د سندرو او د بدلو فرق صرف دومره دی چي دبدلو اطلاق په یوه اعتبار سره د سندرو نه هم عام دی ځکه چي سندري یوازي د ښځو آوازونو او بدلو ته وایي، او بدلي د نارینهْ آوازنو ته هم وایي، او د ښځو هغې ته هم ، د سندرو اصطلاح یوازي په مهمندو او باجوړ کي وجود لري، او په بل محیط کي دا اصطلاح دومره مروجه نه ده، څنکه چي د کندهار خلك د ښځو آوازونو ته بدلي وایي اود نارینه وْ آوازنو ته غزل وایي دا رنګ دا خلك د ښځو آوازونو ته سندري واي او د نارینه وْ هغې ته یا بدلي وایي او یا لوبي، د مهمندو په محاوره کي داسي ویلی شي چي ښځي سندګري وایي او داسي نشي ویلی چي فلاني ځایکښي سږي سندري وایي.

مشترك اقسام:

دا اقسام د عربي او پارسي او پښتو په منځ کي مشترك دي او د عربي او فارسي رنګ پرې پروت دی، لکه : مخمس، مسدس، مستزاد، یا داسي نور چي په پښتو کي ویل شویدي، دا نوع اشعار یا دا تسمیه په عامو پښتنو کي نشته، او نه مخمس او مسدس پېژني، بلکي دا نومونه د پښتو ځیني ادیبانو د بلي ژبي نه پښتو ته راګډ کړیدي:

(1)مربع:

مربع یوداسي شعر دی چي د وزن او آهنګ په لحاظ د غزل یا د رباعي په رنګ دی، مګر فرق ئې د قافیې او د یو مخصوص اسلوب په واسطه سره کېدای شي، هغه دادی چي مربع د اول څخه تر آخره پوري څلور څلور مصرع، یعني دوه دوه بیته ویلی شي او لومړی څلور واړه مسری په یوه قافیه بناء کیږي، او وروسته به بیا دری مسری متحده القافیه او څلرمه به ئې د اول بند په قافیه سره ویلی شي، دا سلسله به په دې ډول تر آخره پوري جاري وي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر د مربع د ويلو طريقه داده : چي کم وخت چي څلورمي مسرۍ ته را ورسيږي نو هغه اول بيت هم ورسره تکرار شي. خوشحال خان ختټك وايي:

1

دريغه بيا مي دوه په دوه ويلی راز وي

لا يو رازويلی نه د بل آغـــــــــــاز وی

ستا له لوري واړه ناز له مـــا نياز وي

په مزه مزه خواږه ويل باز بــــــــاز وي

2

هميشه په هغه خوي کښي چي دي خپل وْ

هغه خيال چي دي د زلفو د اور بــــــــل وْ

دا خسته خاطر مي هسي لکه تـــــــــل وْ

فراغت بېغمه تا سره دم ســـــــــــــاز وي

3

چي به تا پياله د ميو راکـــــــــــــــــــــوله

ستا د شونډو د بوسې سره مي چښـــــــــــله

زه مست وي ته هم مسته لايعقـــــــــــــــله

مي خوری دي په سر تور سر گريواني واز وي

4

له همه واړه عالمه ئې ورتـــــــــــــړلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له لاسه زما دم باده خـــــــــــوړلی

صراحي راته خندا کړي شمـــــــع ژاړي

په جهان کي خو دا دوه تږوکه انباز وي

5

ښه آواز که ډېر دبربط د موسیقار دی

یا د جنګ د مغني یا د مزمار دی

د رباب د چاري تار یا دبل تار دی

مه وي دا ستاد جراو وښو آواز دی

6

د وصال په کـــامرانۍ مي دسترس وي

لـــــــــــکه وه تر هغه مینه یو په لس وي

په نیکخوا باندي ښادي هوا هوس وي

په ډېر غم کـــي چهره زرده د غماز وي

7

چي يې ولیدی د یار په خط وخال کي

په هزار رنګه خوښي ئې په وصال کي

هومره غم بېلتانه کېښود په خوشحال کښي

مه بېلتون وي مه ئې دا سوز وګـــــــــداز وی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2)مخمس:

مخمس د وزن او د آهنگ په حیث د مربع سره هېڅ فرق نه لري، بلکي یو شی دي مگر صرف فرق ئې دومره دی چي مخمس د پنځو مصرو یعني د دوه نیمو بیتونو څخه شروع کیږي، دا رنگ د مخمس پنځه اولي مصری هم په یو قافیه سره ویلي شي، او وروسته به بیا د هر بند څلور مصری پخپل مینځ کښې په یوه قافیه سره راځي او پنځه مسره به ئې د اول بند په قافیه سره ویلی شي دا سلسله به تر آخره پوري چاري وي د مخمس نمونه داده، خوشحال خان ختټك وایي:

و عاشق ته دوه قدمه بحر وبر دی
نه ئې گرد په لمن پروت نه دامن تر دی
په فریاد نارې وهي په نارو سر دی
چي د عشق په گرانه لار کښې ډېر خطر دی
هر قدم چي پکښې اخلې ډار د سر دی
عاشقان د ستا د خولې په جامي سپیني
قلندر دی نه لباس جامې رنگیني
اندرون مي واړه پرشه درست په میني
که سینه مي سوه چاك کړي وبه ویني
چي مي ستا له غمه ویني درست جگر دی
نتیجه ئې سوړ سوړ آه سپیني اوبه وي
آبله دننه زړه لمبه ئې سره وي
مشقت مي هم په ځان هم مي په زړه وي
زه خبر نه یم له عشقه چي عشق څه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره اورم چي له حسنه ئې اثر دی

د بلبلو خوشحالي وي په گلزار کي

د عاشق د زړه خوښي وي په دیدار کي

څو به عمگرتېروم په انتظار کی

صبر مه غواړه له ما دعشق په کار کي

جو دانه صبر په ما باندي لوی غر دی

اول مینه د یوسف و زلیخا وه

بیا د پسه د مجنون او د لیلی وه

د هغه پسه د وامق او د عذرا وه

عاشقي لا زه ته نه وْ چي پیدا وه

نه چي ما اوتا گډ کړی دا هنر دی

که پلو له مخه لیري محبوبا کا

بیدلان به پروانه په خپل لقا کا

تل له ماسره فتنې جنگ و غوغا کا

خو ځما طالع ښه نه دی یا جفا کا

گنه کوم یو په وفا تر ما بهتر دی

یو زمان مي خالي مه اوسه له خیاله

په خوله گونگ اوسه د عشق له قیل وقاله

په ناله دي که بتر شي تن تر ناله

د عشق غم له خلکو پټ لره خوشحاله

څه ئې پټ کړم چي عالم ځیني خبر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(3)رباعي:

دا رباعی دپښتو د مخصوص رباعي سره فرق لري، دلته د رباعي اطلاق پر دوو بيتو باندي کيږي، رباعي خامخا څلور مسرۍ وي د رباعي د اول بيت مسرۍ په قافيه کي د يوبل سره برابر وي او د دويم بيت دويمه مسرۍ ئې بيا د اول بيت سره په قافيه کي شريکه وي درباعي نمونه داده، خوشحال خان خټک وايي:

زه دي کباب کړم، خداي دي کباب کړه
غليم خو نه يې څه خوحساب کړه
نه دي وفا شته ، نه دي جفا شته
ناکسه درومه خدای دي خراب کړه

يو چي ډېر خوري سوگندونه
بل چي ډېر کاندي پورونه
آشنايي ورسره مه کړه
د بې پت دي دا خويونه

ښکلې دلبره د څورلس کالو
خوله يې خوشرنگه حقه د لالو
راغله ژر ولاړه زما زړگی ئې
يو ووړ په دواړو سترگو ملالو

(4)قطعه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطعه په وزن او آهنګ کې د رباعي په شان راځي، مګر فرق دومره دی، چې رباعي د دوو بیتونو څخه زیاته نه راځي او قطعه دوه بیته هم وي او د دوو بیتو څخه زیاته هم وي او بل فرق دادی چې د قطعې د اول بیت اوله مسره د دوهمی مسرۍ سره په قافیه کې برابره وي د قطعې د دواړو بیتونو دویمي مسرۍ په قافیه کې سره موافقي راځي، قطعې ته قطعه ځکه وايي، چي دا د غزل یا قصېدې یو ټوټه ده، د قطعي نموني دادي خوشحال خان خټك وايي:

چا په وخت د ځکندن ووې مجنون ته

وخت آخر دی په زړه یاد ولره خدای

ده وې زړه مي د لیلی په یادو پور دی

پکښې نشته دی د نورو یادو ځای

اندېښنه که په غګره کېږدي

غر به هم لکه وېښته کا

خوار سړی ملامت نه دی

که په غم کښې ځان اوبه کا

چي هاتیان ساتې پیدا که لویه خونه!

چي هاتیان پرې ننوزي هسي ور

کیدړ هر چرته خپل وخت ساعت بدل کا

لوی ځنګل بویه زمري لره یا غر

(5)مسدس:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسدس هغه شعر ته وايي چي هر بند ئې شپږ شپږ مسرۍ وي او د اول بند ټولي مسرۍ ئې په يوه قافيه ويلي شوي وي او بيا د هر بند شپږمه مسره د اول بند دقافيې سره موافقه وي، کله د مسدس اطلاق په هغه نظم هم کيدای شي چي څلور مسرۍ ئې په يوه قافيه وي او دوه مسرۍ ئې په بېله قافيه ويلي شوي وي د مسدس نمونه داده، خوشحال خان ختټك وايي:

مه کړه رخ دي نه دی د غمزې په تېغ خونونه

خون د عاشقانو خون بها لري لکونه

ته چي راښکاره شې په وربل اينښي گلونه

نر ناحقه لافي د ښايست کا نوري جونه

ته چي په گلرنگه جامو درسته شې گلگونه

سرې لمبگې کړې بلي د حيران عاشق په خونه

خوله دي غونچه گل ده تيارېږي شگفتن ته

تور بانړو نېزې لري د زړونو و شفتن ته

مه پرېږده زلفين په عذارو آشفتن ته

ورځ د عاشقانو نژدې کيږي و خفتن ته

ته چي پلو واخلې د جمال و تن ته

ولي هسي کار کړې چي بې اوره سيزي زړونه

ورځي دي محراب دي د عاشق ورته سجود دی

مخ دي سپين کاغذ دی دا خط ښکلی پرې ودود دی

خال دي چي د ورځو په پيوند باند نمود دی

واړه د آهونو په لوگيو تور کبود دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



درست دی سر ترپایه نندارہ سرہ وجود دی

ونه د جائفلو واړه ګنج وړی ویغونه

ناز دی عاشق کش وْ، اوس دي خال باندي زیاتی شه

رنګ دي وداني کا خوي دي خیر په وېراني شه

تا ګیسو پرېښان کړہ درسته جهان په پریشاني شه

تا چي مخ ښکارہ کړ، درست جهان په حیراني شه

خلك ځان ځاني شه د خپل ځان په آساني شه

څوك دی چي به اخلي دخوشحال ختټك غمونه

(6)مثنوي:

مثنوی هم د شعر د انواعو یوه نوعه ده، او د شعر په انواعو کي دا نوعه ډېره عامه او آسانه ده، مثنوي هغه نظم ته وایي چي هر بیت ئې په جدا جدا قافیه ویلی شوی وي، او هر یو بیت ئې مقفي وي، د مثنوي بیتونه د قافیې په لحاظ د یو وبل سره هیڅ ربط نه لري بلکي هر یو متفاوت او په بېله بېله قافیه وي، دمثنوي تعداد څه معلومه اندازه نه لري، په هره اندازه لږ وي که ډېر د مثنوي اطلاق پر کیږي، د پښتو ځیني کیسې او حکایتونه، رومانونه اکثره په مثنوي کښي لیکل شویدي، د مثنوي یو بیت ته فرد یا بیت وایي د مثنوي نمونه داده.

خوشحال خان وایي:

د هر چا سره چي یو نفس قرین شوم

د هغه له خویه بویه په زړہ شین شوم

زړہ مي خوښ په هیچا نه شو په عالم کښي

له عالمه سره زیست کړم په ډېر غم کښي

خود سود له مخه څوك راسره یار شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ئې خپل مقصود پوره شو نو ويزار شو

هر چي تا سره ياري کا نه ياران دي

همګي واړه لړم دي يا ماران دي

زامن واړه د زړه رنځ د خپل بابا دي

لوڼه کُل د زړه ژوري د ماما دي

که دي يار دی که دي خپښ دی که دی ورور دی

دخپل ځان دی د خپل سود دی د خپل کور دی

تش د خولې لباس مباس دی سره کيږي

د هر چا خاطر خپل سود وته پر کيږي

د راحت په وخت سل لافي د ياری کا

د محنت ساعت چي راسي ويزاری کا

(7)قصيده:

قصيده هم د شعر يوه پراخه نوع ده، په قصيده کي اوږده اوږده مضامين ويلي شي د وزن او د آهنګ په حيث قصيده د غزل مرتبه لري او ټول قصيدې قافيه د اول بيت په مسرو بناء کيږي، قصيده په هره ژبه کښي عليحده انداز لري، په عربي کښي د لسو بيتو څخه په پورته ټولو ته قصيده ويلی شي او په پارسي کښي قصيده د پنځه ويشت بيتونو څخه کمه او د يو سلو اوياو نه زياته نه وي او په پښتو کي د شپاړس او لس بيتونو څخه کمه او د يوسلو اويا ؤ نه زياته نه وي، خوشحال خان په خپل دېوان کي قصيدو ته لويه حصه ورکړې ده او په پښتو کي ئې دا نوعه ډېره پراخه کړېده، د قصيدې نمونه داده، خوشحال خان وايي:

**قصيده**

(8)ترجيع بند:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجیع بند داسي اشعارو ته وايي، چي د غزل په طور پنځه يا اووه بيته ووېل شي، او وروسته بيا شپږم يا اووم يا لسم بيت په بله قافيه راوړلی شي چي د اولو بيتونو نه په معنی کي هم مختلف وي، او په قافيه کي هم، او بياپه دې ډول دهرو پنځو يا اوو يا نهو بيتونو څخه وروسته هم دغه بيت تکرار شي په ترجيع بند کي هر يو بند اکثره طاق راځي يعني يا پنځه او يا اوه، يا نهه، بيته وي، مگر سره ددې هم ددې پوره تخصيص نشته، کله د ترجيع بند بندونه جفت هم وي لکه چي په دې مثال کښي معلوميږي. د ترجيع بند بندونه غالباً د پنځو او لسو بيتو په مينځ کي وي اګر چي د خوشحال خان په دېوان کي تر نولسو بيتونو پوري هم يو يو بند راغلی دی:

ترجيع بند ستا دلوري که هزار جور وجفا وي

له عاشقه به په سل رنګه وفا وي

په عاشق باندي معشوقه عنايت کا

ستا مدام په عاشق باندي عنا وي

ښه ما ومنل چي ته بې حد زېبا يې

په جهان به کم څوك تا غوندي زېبا وي

ولي خدای چي ښه جمال وچاته ورکا

نه په دا چي دی بې مهره کبريا وي

که قضا په ما زړه سوی کا هم به ومرم

که يو څو ورځي جنګ او فتني دا وي

که تل زما سره غوغا جنګ و جفا کړې

ستا د در په خاورو پروت بې قدره ښه يم

په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2

زه چي تل ژړا زارۍ کوم وتاته

ته هم کله کله غبږ وګوره ماته

دا همه واړه زما د بخت اثر دی

ګنه تا کله ترخه ویل وچا ته

چي په حسن و جمال تر نورو زیات وي

په هغه باندي د زړه مینه وي زیاته

که جفا کړې که ستم کړې که عتاب کړې

هر څه ستا پر ما خواږه دي تر نباته

زه چي ومرم څه به بل سره جفا کړې

جګي جګي لا ژوندی یم ستا جفا ته

ستا په کوی کي لکه پروت یم پروت به اوسم

عهد قول زما هم دا دی تر مماته

ستا د در په خاورو پروت بې قدره ښه یم

په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

3

د رقیب په ویل مه وژنه ما یاره

د یارۍ حق په تا ګڼم بې شماره

که مي وژنې بل ګناه په ما ثابت کړه

چي را ښه د رقیب زړه نه شي یکباره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه ستا له لاسه ومرم بختور یم

خو وينا ده د رقيب په ما د شواره

ستا د مخ محبت هسي په ما ډېر دی

لکه مينه د بلبل په ګل بسياره

تل جفا د ښايسته ؤ سره مل وي

په جهان کښي هيڅ ګل نه وي بې‌له خاره

که ته هرڅه جفا کار او دل آزار يې

زه "خوشحال" به دي لاړ نه شم له دلباره

ستا د در په خاورو پروت بېقدره ښه يم

په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه يم

(9)ترکيب بند:

ترکيب بند هم د ترجيع بند غوندي قاعده لري چي پس د هر يو بند نه يو يو بيت د فصل په تور راوړلی شي، مگر فرق صرف دومره دی چي په ترجيع بند کي هم هغه يو بيت فاصل واقع کيږي چي دمعنی او قافيې په لحاظ پکښي څه تغير نه وي او په ترکيب بند کي بېل بېل بيت فاصل واقع کيږي چي هم په معني کي د يو بل نه جدا وي او هم په قافيه کي د ترکيب بند نمونه داده، خوشحال خان ختټك وايي:

دل آرامه که دما د درد دوا کا

سکه اول دی د مهر دوا راکا

د دلدارو هوادار له در او دوکه

دما دم له اه سرد سره واوا کا

د وصال سودا سودا د سر ومال ده

هر ګدا کله دا سود او دا سودا کا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آدم آل اولاد سره کل مکر

که د دور رسم هم داوْ اوس هم دا کا

درومه درومه ګله مه کوه له درده

کله کله درد هم مراد اداء کا

د ملوکو مهر وګوره له اصله

کله دوی د مردمراد ورکړه له وصله) 10(

2

تا چي کړې له هر چا سره ياري ده

ښکاره کړې دي له ياره طراري ده

ته چي ځان ګڼې دلداره اې دلداره

کله چا له تا ليدلي دلداري ده

ستا دقهر طاقت هيڅ راسره نشه

راشه قهر له زړه لېري که زاري ده

ترکيب بند

دا چي کله عاشق خاندي کله ژاړي

دا ئې تللې له خاطره قراري ده

که سر ښندنه ګرانه تر هر څه ده

چي له ياره سر ساته شي اغياري ده

ته چي سر ساتې له ياره اغياري کړې

شيرين ځان تر آشنا ځار کړه که ياري کړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



3

زه زائر یم ځانه ستانه تل تر تله) 11(

تر تا ځار شم ځانه ډېر ښه ئې تر بله

چي د غم په ګزه دي زه زهیر شهید کړم

تل تل خانده ! تل تل خانده ! ته قاتله!

چي تل تل په قهقه خاندې زهیرېږم

چي ئې ترخه تویوي دخوږو تله

یو په شله ښایسته تر جونو خانه

تا به ستایم تابه ستایم یو په شله

ته جانان تر وتازه تر نسترن یې

زه زهیر خسته جلیا یم تر بلبله

تر بلبلي جلیا زه زهیر خسته یم

چي بلبله په غوغا زه فم بسته یم

(10)مستزاد:

مستزاد هم د اشعارو یو نوعه ده مستزاد هغه شعر ته وایي، چي یوه مصرع ئې اوږده وي او بله یې لنډه وي، د مستزاد هر یو دغه لنډه مصرع په آخر کښي لري، لکه دا چي ورباندي زیاته کړي شوي او مستزاد هم ورته په دې نسبت وایي. د مستزاد اول بیت چي په هره قافیه وویلی شو هغه نو داسي دی لکه دغزل یا د چاربیتي سر، چي د هر بیت نه وروسته دویم بیت، به هم په دغه قافیه سره تکراریږي د مستزاد نمونه داده:

موږ پښتانه یو ، د غیرت په ځای کي سر ورکوو هم مال و زر ورکو

همدارنګه نور بیتونه.

(11)مسبع:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسبع یو داسي شعر دی چي هر یو بند ئګي اوه مسرۍ وي، د مسبع اول بند یعني اوه اوه مسرۍ په یوه قافیه سره ویلی شي او ټولي مسرۍ به په قافیه کي یوتر بله برابري وي. د مسبع قافیه په اول بند شروع کیږي، اول بند چي په کمه قافیه شروع شو نو د مسبع قافیه به هم هاغه وي او د هر بند په آخر یعني په اومه مسره کي به هم دغه قافیه تکراریږي.

(12)مثمن:

مثمن هم د مسبع په طرز یو شعر دی چي په قافیه او لهجه او وزن کي د مخمس خیلو سره ما به الافتراق نه لري. په کم وزن او آهنګ چي مسبع او مسدس او مخمس راتلی شي په هغه وزن او آهنګ مثمن هم راتلی شي، صرف فرق دومره دی چي د مسبع بندونه اوه اوه مسرۍ او د مثمن بندونه اته اته مسرۍ وي.

(13)معشر:

دا نوعه هم د مثمن او مسبع په شان یوه نوعه ده، د وزن او آهنګ په لحاظ ددې دواړو سره څه فرق نه لري، په کم وزن چي مثمن او مسبع راځي په هغه وزن معشر هم راتلی شي د معشر هر بند لس لس مسرۍ وي. د معشر قافیه په لسو مسرو بناء کیږي، د معشر نمونه د خوشحال خان له دېوانه داده:

جلوګر ئې خط وخال وي خوښ خرم د یار په حال وي

**لمن لیکونه**

.1المعجم فی معائیر اشعار العحم 20 مخ

.2علم الادب یسوعي لومړی جز 360 مخ

.3علم الادب یسوعي لومړی جز 360 مخ

.4دخلیل وفات په 174 هـ (791 م) کي واقع شویدی

.5علم الادب ا. ج. 360 مخ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



6.المعجم فی معائیر اشعار العجم 23،24 مخ

7.المعجم فی معائیر اشعار العجم 35 مخ

8.ددې قسمت مهمه برخه صدیق الله رښتیت له مقالو څخه د کابل د 1318 کال په کالنۍ کښې نشر شوې اقتباس شوې ده. "بېنوا"

9.د ژوند مجله ، منطبعه دهلي

10.په دغه بند کي غیر منقوط صنعت هم شته

11.په دې بند کي هم یو لفظي صنعت راغلی، یعني یو توری ټکي لري او یونه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ليکني اصول

## د ليکني لنډ تاريخ:

د زړه د راز د څرګندولو دپاره خبري پيدا شوې، مګر د انسانانو د يو بل د ارتباط په اثر يوازي خبري کافي نه وې، ځکه چي دوو انسانانو که يو د بل په غياب کي خپل ارتباط سره ساتلای او غوښتای ئې چي يو بل ته د زړه راز ښکاره کړي، کومه وسيله په منځ کي نه وه، نو له دې وخت څخه ليکني ته ضرورت پيښ شو نو وار دواره يې د هرشي شکل سره له ځينو مخصوصو علامو ليکه يعني د انسان له شکله به ئګې د انسان مفهوم اخيست او د غره له شکله به ئې د غره مفهوم. همداسي نور شکلونه ، مثلاً مصريانو د کور دپاره داسي يو مربع شکل ليکه:

مګر په دې صورت انسانان له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شول ځکه چي د هرفعل دپاره ئې بايد جلا جلا شکل ټاکلی وای، نو په دې نسبت ئې دخپلو آوازو دپاره اشکال وټاکل چي اوس ئې موږ توري بولو، او مقطعه و حروف ئې جوړ کړه او دهر مطلب دپاره به ئې يو حرف وضع کاوه) .1(

د خط لومړني مخترعين فنيقان دي چي ورو ورو بيا نورو معاصرينو هم اقتباس او زده کړه (2) چي له هغو څخه پخواني يونانيان او آثوريان بيا د يوناني له اقتباسه يعني له پخوانۍ لاتيني څخه د فرنګ او اروپا خطونه تشکيل شوه، او آثوري حروفو څخه بيا د مشرق ټول ليکونه لکه د عرب، نيونس، مصر، مراکو، سودان، عراق پارس، افغانستان او نور پيدا شوه (3) وروسته ئې د ډېر زيار په نتيجه کي تکميل وموند او پای يې دغه چي وينو ئې.

## املاء:

املاء په لغت کي مهلت ورکولو،ځنډولو، او ډکولو ته وايي او په اصطلاح کي دې ته وايي چي يو سړی يو ليك بل ته وايي او هغه ئې ليکي او کله پر هغه ليك هم اطلاقيږي چي يو سړی يو څه وايي او بل هغه ويل ليکي) .4(

د املاء په زده کړه کي ددې شيانو مراعت ضروری دی:

### (1)د کلمو صحيح تلفظ:

ليکونکي ته بايد د کلمې صحيح تلفظ معلوم وي، چي دليکني پر وخت غلط نه شي، ځکه چي په هره ژبه کي لږ يا ډېر ليکل او د عامو خلکو تلفظ توپير لري خصوصاً په اروپايي ژبو کي مثلاً : په پارسي کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



( آب ته "او" خواب ته " خو" ) وايي، او د "من چه ميدانم" پر ځای "مچم" وايي يا په پښتنو کي د " نه يم خبر" پر ځای "نيخه" استعمالوي يا نور داسي.

نو که ليکونکي ته د لغت صحيح تلفظ څرګند وي او څه چي وايي يا ئې اروي هغه وليکي دا کومه املائي غلطي او اشتباه ځيني ښېله شي، ځکه چي په ليك کي د ګرامري اصولو مراعات لازم دی.

(2)د کلمو نښلول:

د کلمو په نښلولو کي بايد ډېر دقت وشي، داسي نه چي يوه بشپړه کلمه د بلي بشپړي کلمې سره ونښلول شي دا غلطي علاوه پر دې چي د املاء له اصولو مخالفه ده اکثراً د کلمې معنا هم اړوي مثلاً : "نه وي" چي د "نباشد" معنی لري کله يو ځای وليکل شي "نوی" د "نو" په معنی ورکوي يا مثلاً يوه بشپړه کلمه له بلي سره ونښلول شي لکه "ټولو ګړی" ځکه چي ټول ځانته کلمه او "وګړي" ځانته کلمه ده مګر ټوليمشر چي د ټول او مشر څخه يوه کلمه ده ترکيب شوېده بايد يو ځای وليکل شي دا ځکه چي دلته ئې دريم مفهوم پيدا کړيدی (5) يا داسي نور مثالونه.

(3)د پښتو مخصوص توري:

د پښتو د مخصوصو تورو د اشکالو ځای پېژندل او د هغو مراعات کول دي، اکثر ليکونکي د "ځ" او "څ" فرق نه کوي همدارنګه د "ږ" او "ژ" فرق ته ملتفت نه دي کله لا د "ز" او "ځ" پر ښېلوالي نه قائليږي مګر دا فرقونه خورا ضروري دي که ونه شي معنا غلطيږي مثلاً د پښتو د مخصوصو تورو په ليکلو کي داسي اشتباهات پيښيږي:

ږ:

دا توری دوه تلفظه لري بلکي کله کله پر درو لهجو ويل کيږي " ږ" چي يو رقم د " ژ" ډېل آواز دی چي دا تر غزني پورته خوا لهجه ده، بل "ګي" چي د کابل کښته خوا لهجه ده او دريمه لهجه د " ګ" او "ږ" ترمنځ لهجه ده چي دلوګر شاوخواته ده. نو ليکونکي بايد پخپل ليك کي ددې توري ځای وپېژني او هغه د پارسي په "ګ" ونه ليکي که نه وي معنی ئې تغير مومي مثلاً : " لږېدل" د "کم شدن" په معنی او "لګيدل" د "چسپيدن" يا د "ګرفتن" په معنی راځي بايد سره ښېل وي، په تلفظ کي څه فرق نه کوي په هره لهجه چي وي مګګګر په ليکلو بايد يو شکل وي.

همدارنګه ځيني زلمي ليکوال د " ږ" او " ژ" فرق نه کوي د "ږېړي" پر ځای " ژيره" ليکي د " کوږ" په عوض " کوژ" ليکي چي دا هم لويه غلطي ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښ:

دا توری هم تقریباً درې تلفظه لري چي يو "ښ" بل "خ" او بل ددې دوو تورو ترمنځ يوه لهجه ده.

په دې توري کي هم اکثر ليکونکي اشتباه کوي څوک د "ادم" پر ځای چي عربي کلمه ده " ښادم" ليکي او څوک بيا د "ښندل" په عوض چي د نثار کردن په معنی دی "خندل" چي د خنديدن په معنی دی ليکي. مثلاً : خندل او ښندل، ښور او خور،پوښ او پوخ، پښه او پخه او داسي نور.

څوک لا دا توری په شين ليکي اوتلفظ کوي مګر دا هم غلط دی مثلاً : خندل ، ښندل ، شندل . درې سره جلا جلا معناوي لري

همدارنګه : ښور ، خور، شور بېل بېل دي. نو ځکه پر ليکونکي ددې توري د ځای پېژندل او پر خپل ځای استعمالول لازم دي.

ځ:

چي تر " ز" لږ شانته دروند ويل کيږي ددې توري بايد له "ز" څخه فرق وشي بعضي ليکونکي ئې نه کوي. مثلاً : "زما" او "ځما" دواړه په "ځ" ليکي او دا ئې خيال دی چي هر ځای "ز" وي هغه "ځ" ليکل کيږي ، مګګر دا عقيده غلطه ده، " ز" خپل ځای لري او "ځ" خپل ځای. مثلاً : " زه" د من په معنی "ځه " امر دی يعني "برو" يا ځر او زر يا ځوړ او زوړ يا نور...

څ:

دا توری هم اکثر زلمي ليکونکي له "س" سره ګډوي اوعقيده لري چي "س" او "څ" فرق نه لري،مګر اشتباه کوي هم په تلفظ او هم په استعمال کي فرق لري مثلاً "څوک" او "سوك" په يوه معنا نه دی همدارنګه "څا" او "سا" "څر" او "سر" او " اوڅار" او "اوسار" يوه معنا نه لري يا نور...

ډ:

دا توری هم چي دانګليسي (D) اواز لري اکثراً د "دال" سره مشتبه کيږي او ځيني زلمي ليکونکي چي هر ځای "دال" ويني " ډ" ئې ليکي مثلاً : په ډېرو ځايو يا اخبارو کي وينم چي " ځرګند" ځرګنډ ليکي او دا غلط دی. په پښتو کي "د" هم شته او "ډ" هم، او خپل خپل ځايونه لري مثلاً : "رډ" او "رد" "ډم" او "دم" ډډ او دد، ډډه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دده ډېر فرق سره لري.

ږ:

ددې توري ځای هم باید د "ر" څخه جلا وپېژانده شي هم په تلفظ او هم په معنی کي فرق لري مثلاً : موږ او مور، چاږه او چاره، پږ او پر ،خوږ او خور، یا نور داسي...

ټ:

دا توری هم چي د انګلیسي ( T ) آواز لري له " ت" څخه هم معناً او هم لفظاً جلا دی او دواړه په پښتو کي شته مثلاً : پټ او پت، سټ او ست، کت او کټ، ټول او تول یا نور داسي...

ڼ:

د پښتو دا نون هم د مشترك او عمومي نون څخه فرق لري او په غُنه ویل کیږي او داسي آواز لري لکه : "ړ" او "ن" چي سره یو ځای اداء شي ددې توری یو خصوصیت دادی چي هیڅکله د کلمې په سر کي نه راځي، او د نون سره هم معناً او لفظاً فرق لري مثلاً : باڼه او بانه، کاڼه او کانه، چڼه او چنه او نور...

(4)د "ی" د اقسامو پېژندل:

په پښتو کي د "ی" لیکل دا شکلونه لري:

الف : معروفه "ی"

لکه خپلوی، ورور ګلوی، دا "ی" بې له کومي نښي لیکله کیږي.

ب : مجهوله "ې"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې تورى شكل لومړى چپه "يا" وه چې اوږده لمن ئې درلوده مگگر ښنگه چې دا شكل كه د كلمې په منځ كې راشي اشكالات پېښوي، نو "ې" يعني معروفه يا ته دوه ټكي سرپر سر وركړه شوه چې په منځ او آخر كي يو شان وي او دا تورى اوږد او كشاله وايه كيږي لكه: نارې، غلبلې، مېلمه، مېرمنه يا نور...

په ليكلو كې د معروفي او مجهولي "يا" فرق په كار دى كه نه وي معناً غلطيږي مثلاً : خاندي ( معروفه ى ) خاندې ( مجهوله ې) معناً فرق لري، يو غائب او بل مخاطب فعل دى، يا لكه : مستى او مستې، مينه او مېنه...

ج : تانيثي "ۍ"

دا "ۍ" په آخر كي يوه كوچنۍ "لکۍ" لري چې د نورو ياگانو سره ئې فرق وشي لكه : چوكۍ، خولۍ، ډوډۍ، نجلۍ او نور...

د : ثقيله " ئ: "

ثقيله ( ئ ) هم د تانيثي يا په شان ثقيله اداء كيږي مگر په ليكلو كي ئې شكل فرق كوي يعني په آخر يا پر سر همزه لري مثلاً : راغلئ ، ځئ، چې دا اكثراً د جمع مخاطب په آخر كي راځي.

ــ (5)د تنقيط د علامو پېژندل:

د تنقيط اصول ددې دپاره دي چې د ځينو اشارو د راوړلو په واسطه د كلمو يا جملو خصوصي روابط يا جلاوالي ښرگند شي، دا اشارې عموماً يوولس دي:

ــ (1)وير گول:

يا چپه واو ( ، ) چې يوه لنډه او مختصره وقفه راښيي، دې ته فاصله او سكته هم وايي، او ددې علامې د استعمال ځايونه دادي:

الف : د يوې جملې د مشابهو قسمتو دجلاوالي دپاره يعني اسمونه، فعلونه، صفتونه، او نور لكه دا چې : "راغلل، ولاړل، هيڅ ئې ونه كړل ) "6.(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب : تر هغو کلماتو وروسته چي د التفات په صورت راغلي وي يعني بل ځانته ملتفت کوي مثلاً : " زما ورونو، يو له بله مه بېلېږئ ) " ! 7(

ج : د عاطفه واو په عوض مثلاً : " زه، ته ، دی او هغه ټول پښتانه يو" مگر دلته دا نکته بايد ذکر شي چي د وروستنۍ عاطفې پر ځای بايد پخپله عاطفي توری "او" راوړه شي.

تبصره:

په اروپايي ژبو کي وير گول د راسته (و) شکل لري مگر په شرقي

ژبو کي ددې دپاره چي التباس پېښ نه شي (،) راوړه کيږي.

(2) کامه) :،(

دا علامه يوه منځنۍ وقفه وښيي چي د يوې جملې د شبيهو برخو د جلاوالي دپاره راځي خصوصاً هغه جملې چي دمخه د ويرگول په واسطه ويشلي شوي وي مثلاً : "ښه وکه، د خلکو به کست درکيږي ، تر هغه لا ډېر ښه وکه ، هغوی به هم ستا طرفداران شي"

(3) دوه ټکي: (:)

دا د شرح او بيانيي علامه ده او په دې ځايو کي راځي:

الف : تر جملې وروسته چي شرح ئې وروسته راځي لکه : احمد درې ورونه لري : محمود،مسعود، او مقصود.

ب : د هغي جملې تر يوې برخي وروسته چي د بل چا له قوله اخيسته شوي وي ( 8 ) مثلاً : لا هيڅوك نه شي ويلای چي : زه بالکل خوشبخته يم".

ج : تر هغي جملې وروسته چي دمخي جملې تشريح وي مثال : "پرېږدئ ، ناپوهان چي هرڅه وايي ودې وايي : پوهنه خپل قيمت نه بايلي ) "! 9(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د : د مخه یا وروسته تر یوه نمبر لرونکي بیان راځي، نوکه دا تعدادي بیان جمله شروع کړي او که ئې ختم. مثلاً : "د انسان د ژوند تاریخ په درو کلمو کي خلاصه کیږي : زېږېدل، زحمت لیدل، مړل" یا په معکوس صورت : " زېږېدل، زحمت لیدل او مړل : په همدې درو جملو کي د انسان د ژوند تاریخ خلاصه کیږي."

(4)استفهامیه : (؟)

دا علامه د پوښتني په پای کي راځي یعني د هغي جملې چي پوښتنه افاده کوي مثال : څه کوي؟ ولي ولاړ یې؟ څه وایي ؟.

(5)ټکی: (.)

دا علامه یوه لویه وقفه راښیي او تر یوې داسي جملې وروسته راځي چي کاملاً تمامه شوې وي مثلاً : "د وظیفې سره عشق د هغې سترېیا او زحمت سپکوي" .

(6)ندائیه: (!)

دا علامه د هري ندا په پای کي راځي او هم د هغو جملو په پای کي راځي چي مسرت، تعجب، تحسین، درد، دهشت او نور افاده کوي، مثالونه : "آ زلمیه !" یا دا "اوه !" "آفرین ! " "ډېر ښه ! ښومره ښکلی دی !" یا نور...

(7)دوه قوسه: ( )

دا علامه معترضه هم بولي او د جملې له منځه د یوې یا څو کلمو د جلاوالي دپاره راځي چي دا کلمې د جملې د حقیقي معنا سره لزوم ونه لري. او ددې دپاره په جمله کي داخلي شوي وي چي کاملاً یو فرعي فکر په یاد کړي مثال : "په دې ورځو کښي لویه تبه ( چي دا ئې پښتو نوم دی) د خوارانو په پېښه ده."

(8)ممیزه یا دوه غبرګ قوسونه: " "

ددې علامې په منځ کي د بل چا اقتباس شوی قول راځي او کله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله هم د هري اقتباس شوی ليکي په سر او پای کي راځي، مثلاً : ناپليون ويلي وه : " محال د لېونو د قاموس لغت دی."

(9)درې ټکي: ( ... )

دې ته د انصراف علامه هم وايي او د يو موضوع په پرېکړه او يا ناتماموالي دلالت کوي يعني ددې ټکو راوړل پر دې دلالت کوي چي ددوی پر ځای د ليك يوه لړ برخه پاته ده لکه : "ده چي ستاسي په باب کښي ... خير دا به سبا درته ووايم".

(10)خط کښ يا رابطه: ( ـــ )

دا علامه په څو ځايو کي استعماليږي:

الف : په هغه ځای کي چي يوې کلمې ته د بلي کلمې سره ربط ورکوي ( 10) لکه : هغه ـــ دغه ټول يو دي. يا شپږ ـــ اوه تنه راغله.

ب : د يوې کلمې څه توری چي په يوه ليکه کي او څه توري په بله ليکه کي راشي نو دا علامه د لومړۍ ليکي په پای کي يا ددوهمي ليکي په سر کي راځي ( 11 ) مګر دا په اروپايي ليکنو کي راځي په شرقي ليکنو کي د يوې کلمګې توري سره وېشل عيب دي.

ج : د هغو جملو په سرکي چي د محاورې په توګه وي يعني سوال او ځواب وي نو په دې صورت د "ده وويل" ځای نيسي. مګر شکل ئې لږ اوږديږي او په دې وخت کي نو فارقه علامه هم ورته وايي.

(11)تفريقيه: [ ]

کوم وخت چي د معترضه جملې په منځ کي بله معترضه جمله يا کلمه راوړه شي هغه ددې علامې په مينځ کي ليکل کيږي مثال:

"خوشحال خان ختك ( خدای [ج] دې وبخښي ) د پښتو پلار وْ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انشاء یا لیکنه:

انشاء د عربو په لغت کي ایجاد او نوی شي او اختراع ته وایي

(12)مگر په ادبي اصطلاح هغه لیك او بیان دی چي له خپله فکره ولیکل شي یا به بل عبارت هغه علم دی چي هر لیکونکی د هغه په مرسته کولای شي چي خپل افکار په ښه صورت د الفاظو په واسطه ښکاره کړي او له انشاء څخه اساسي غرض د نوي فکر او نوي مضمون پیدا کول او په ښو الفاظو کي مجسم کول دي.

## د لیکني شرطونه او محاسن:

په لیکنه کي باید لیکونکی د لاندي شرطو مراعات وکړي:

### (1)تر لیکلو د مخه باید فکر وشي:

چي تاسي غواړئ څه ولیکئ؟ څه مقصد او غایه لرئ؟

### (2)چي مقصد مو وټاکه:

اوس نو کولای شئ خپل لیك لکه وینا پر درو برخو وویشئ : مقدمه یا مدخل، بیان یا د مطلب افاده او خاتمه یا نتیجه.

### (3)صاف او واضح لیکئ:

په لیکلو کي تر هر څه دمخه صاف او واضح لیکل ډېراهمیت لري او دې ته اصطلاحاً "وضاحت" وایي او وضاحت دادی چي په لیك کي هیڅ ابهام، التباس او خفا نه وي او لوستونکي بې له کوم اشکاله په پوه شي او دې مقصد ته رسېدل ډېرگران کار نه دی :

لومړی: داسي مفرد کلمات وټاکئ چي د خپلي معنا په دلالت کي ډېر روښانه وي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم : دا چي په يوه جمله کي ډېر آدات او روابط او عوامل رانه وړه شي د ضميرونو تعدد او تشتت پکښي نه وي. معترضي جملې ډېري نه شي.

(4)په ليك کي بايد صراحت وي:

او صراحت خو دمخه درته تېر شو چي په کلام کي د تاليف او ترکيب ضعف نه وي، د صريح او واضع تر منځ دا فرق دی چي هر صريح واضح وي مگر هر واضح صريح نه وي. لکه د عوامو کلام.

(5)حتی الامکان د الفاظو له تسلسل او تکرار څخه ځان ژغورئ:

له حاجته زياتي کلمې په ليك کي مه راوړئ، د کلماتو په تقديم او تاخير کي دقت کوئ، دې ته اصطلاحاً " ضبط" وايي.

(6)طبيعي اوسئ:

په ليکلو کي مو څو توان وي، د طبيعت مراعات کوئ، يعني حتی الامکان څه چي واياست هغه ليکئ، ځکه چي تکلفي تعبيرات او ډېر لوړ اصطلاحات راوړل چي هغه هم ستاسي له مقصده سره په تکلف برابر شوی وي ډېر بد او مضحك ښکاري.

(7)وحشي او نامانوسی کلمې مه راوړئ:

نرم او پاسته کلمات چي په ژبه درانه نه وي استعمالوئ. ابوالفتح

بستي پخپل يوه شعر کي وايي:

"خپل کلام خپلي خوښې ته پرېږدی، زړه ئې چي هره معنی اوالفاظ خوښوي، پر خپل بيان هيڅکله زور او جبر او اکراه مه کوئ، ځکه چي د بيان په دين او آئين کي اکراه نشته (13)" دې ته اصطلاحاً "سهولت" وايي.

(8)په ليك کي بايد د کلماتو انسجام وي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسجام په لغت کي د اوبو جريان ته وايي او اصطلاحاً هغه کلام منسجم باله کيږي چي تعقيد پکښي نه وي.

(9)د ليك معاني بايد التساق ولري:

التساق د معانيو ټينګ اتصال او ارتباط دى چي بې ربطه معنى را نه وړه شي.

(10)ليك بايد جزالت ولري:

جزالت دادى چي د سپکو او رکيکو معناوْ او الفاظو څخه قلم او ژبه وساتل شي، شريفي معناوي په وړو الفاظو کي راوړه شي، يعني هر کله بايد د قلم عفت وساتل شي. مثلاً : نغرل او خوړل يوه معنى لري مګګر د يوه بده او د بل ښه ده.

(11)جملې بايد لنډي لنډي وي:

مبتداء او خبر ډېر سره ليري نه وي.

(12)د هر مقصد دپاره بايد خپله خاصه کلمه استعمال شي:

او همېشه د مرادف او نورو کلمو له منځه همدغه خاصه کلمه انتخاب شي.

(13)ليك مه اوږدوئ:

ليك دومره مه اوږدوئ چي ويونکى ستړى شي.

(14)ډېر مختصر هم مه ليکئ:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره مختصر هم مه لیکئ چي مقصد فوت شي.

(15)ثنګه کلمې راوړئ:

په لیك کي باید هغه کلمې راوړئ چي د هغو په معنا ښه پوهېږئ.

(16)پښتو کلمې استعمال کړئ:

تر څو چي مو په وسه وي پښتو کلمې استعمالوئ، دا د هغي خبري مانع نه ده چي وحشي او نا مانوسي کلمې مه راوړئ.

(17)په علمي او فني لیکنو کي:

د هر علم او فن اصطلاحات پر خپل خپل ځای راوړئ.

(18)په ضمیرونو کي دقت:

په هر ځای کي د "زه او ته" پر ځای "موږ" او "تاسي" مه راوړئ بلکي د ځایو په ټاکلو کي ئې دقت وکړئ.

(19)خارجي کلمات:

که په پښتو کي استعمالوئ د پښتو د قوانینو تابع ئې بولي.

(20)د ګرامري قواعدو مراعات کوئ.

(21)جملې باید بې ارتباطه نه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ليکني مواد:

ليکنه دوه مواد لري يعني ليکنه له دوو شيانو څخه پيدا کيږي : الفاظ _ افکار. دالفاظو بحث خو څه نه څه په املاء کې درته وويل شو، دلته به د افکارو په شاوخوا کې لنډه څېړنه وکو، دا قسمت د ليکني د فن اساس دی نو ليکونکي ته تر ليکلو دمخه فکري مواد پکار دي او فکري مواد له څو لارو لاس ته راوړل کېدای شي:

(1)د شخص د استعداد او سرمايې د لاري څخه چي دې ته انشاء يا ابتکاري انشاء وايي.

(2)د بل چا افکار اخيستل او دا هم څو لاري لري :

اول : دا چي په عاريه وغوښتل شي چي دې ته اقتباس وايي.

دوهم : دا چي دخپلي ليکني د دليل او شاهدۍ دپاره راوړه شي دې ته فضل او استشهاد وايي.

دريم : د بل چا شی په ځان پوري تړل چي دې ته غلا او سرقه وايي، دا هم فرق لري يوه داسي غلاوي چي بې له کوم تغيره د بل افکار حتی الفاظ واخيستل شي. دا د سپيني ورځي غلابولي او مرتکب ئې سپين سترګي غل دی. او بله داسي غلا چي شکل ته ئې لږ تغير ورکړی دی دوهم قسم غلا ته تقلب او غولونه وايي، نو په دې ترتيب مېړه او خوشبخت هغه ليکونکی دی چي له خپلو افکارو څخه کار واخلي او څه چي زړه ورته وايي هغه وليکي، په دې ځای کي مي د "سيدني" انګليسي شاعر يو شعر را ياد شو چي هلته دبل د افکارو د نه پېروۍ کول توصيه کوي دی غواړي خپل رښتينی عشق د غزل په صورت خپلي محبوبي ته وړاندي کړي چي په دې واسطه هغه دخپل زړه په حال خبره کړي او پر ده باندي مهربانه شي. نو په ښکلو ښکلو الفاظو پسي ګرځي په آخر کي وايي : "ټول هغه بديعي صنعتونه چي ذوق خوښول ما مطالعه کړل، ديوه او بل کتابونه مي وپلټل چي ګوندي ښکلي کلمات او تعبيرات پکښي پيدا کړم. کلمات په ډېر زحمت پيدا کېدل او هره کلمه د ذوق، لطف او انتخاب ته اړه وه، بديعي صنعت چي د فطرت اولاد وُ، په مطالعه او دقت کي لاس ته رانه غی، د نورو بحرونه او اوزان او د موسيقۍ نوټونه راته پردي او نا آشنا ايسېدل، قلم مي په غاښ کړ او شونډي مي وچيچلې، په دې وخت کي ذوق چيغه وکړه چي : اې لېونيه ! د نورو پېروي پرېږده ! خپل زړه ته وګوره څه چي زړه درته وايي هغه وليکه ! ( 14 ) که تل د نورو د افکارو پېروي وشي قوي استعدادونه هم له منځه ځي او بل دا چي د نورو د افکارو نقل ته انشاء نه شو ويلای ځکه چي دانشاګء په تعريف کي موږ ويلي وه، چي انشاء نوی فکر او نوی مضمون راوړلو ته وايي، نو ځکه ليکونکی بايد له خپلو مغزو او افکارو څګخه مرسته وغواړي او دهغو په مرسته څه وليکي.

ځيني زلمي ليکوال دا فکر کوي چي زه له ځانه فکر نه شم کولای ځکه نو د نورو افکار بايد واخلم مګر دا اشتباه ده، هر انسان د فکر کولو استعداد لري، په مشق او تمرين او مطالعه سره کولای شي خپل فکر وروزي او ورو ورو لوړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او دا " چي څوك او څوك وائي د پخوانيو په شان فکر نه شو کولاي " دا هم کوم اساس نه لري، فرض کړو چي حقيقتاً هم موږ د پخوانيو په شان فکر کولای نه شو مگر هيڅ مجبور نه يو چي حتماً به هغسي فکر کوو، ځکه هره زمانه او هر وخت خپل مقتضيات لري پخوانيو د پخوا زمانې د احتياجاتو دپاره فکر کاوه موږ د نن ورځي دپاره فکر کوو نو ضرور به فکرونه سره جلاوي. د فکر د تقويت دپاره محسوسات، حافظه، مطالعه، دقت، او قضاوت ډېر خدمت کوي(15). مگر هو ! دلته بايد دا خبره هم وشي چي په علمي او فني او تاريخي مسائلو کي ليکونکي مجبور دي چي د پخوانيو د آثارو څخه به استفاده کوي او ځای ځای به هم د هغو قول د دليل او شاهد په توګه را اخلي او دخپلو نظرياتو د ټينګښت دپاره به ئې راوړي ليکن دا خبره نو دا معنا نه لري چي په داسي مسائلو کي به نو ليکونکی د بل چا افکار په ځان پوري تړي او يا به خپله نظريه په هيڅ نه راوړي بلکي ليکونکی بايد د هغو سم او ناسم، غلط او صحيح سره وسنجوي او سم له ناسمه جلا کړي.

(1)تصوير :

تصوير د عقلي صورتو ښودل دي چي دواقع سره مطابق وي ( 16 ) تر ليکلو دمخه ليکونکی بايد خپل هغه مطلب چي ليکي ئې پخپل ذهن کي سره وسنجوي او کلمات په خپل فکر وتلي مثلاً : که چاته خط استوي بايد دهغه مقام او حيثيت په فکر کي ونيسي او دهغه د شانه سره سم کلمات پيدا کړي که مشر وي د مشرتوب الفاظ او که کشر وي د کشرتوب کلمات ورته استعمال شي، همدارنګه که اديب وي ادبي تعبيرات او که رسمي سړی وي رسمي القاب ورته راوړه شي، ځکه چي د موضوع ترليکلو دمخه د موضوع تصوير د ليکلو په وخت کي ډېر سهولت پېښوي او د قلم سره مرسته کوي يا مثلاً : که غواړي د چلم په بدوالي کي مضمون وليکې بايد دمخه ئې فکر وکي چي په دې مضمون کي دي څه څه نقصانونه په سترګو ليدلي او څه قصې دي له نورو اروېدلي څه څه علمي دلائل لري؟ يا همدا شان نور موضوعات دمخه فکر او تصوير غواړي.

د تصوير اقسام) 17: (

د تصوير قسمونه بالنسباً دي مثلاً:

نستب و طبيعت ته:

پر درې قسمه دی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدوي تصوير : يعني د مجرد طبيعت تصوير .

فردي يا کليوالي تصوير : يعني د کليو د معيشت تصوير او صناعي طبيعت په بسيطو حالاتو کي ليدل.

حضري يعني ښاري تصوير : چي د طبيعت په وصف کي ابتکار او د صناعي طبيعت په ليدلو کي تفنن وي.

نسبت و ليکونکي ته:

پر دوه ډوله دی:

طبيعي : چي ليکونکي تکلف ته اړه نه شي.

صناعي : چي ليکونکی پخپله ليکنه کي مصنوعي جامه واغوندي يعني داسي څه وليکي چي دده په زړه کي هغه نه وي.

نسبت ليکني ته:

دا هم دوه قسمه لري:

معنوي : هغه دادی چي عقل معنوي صورتونه رسم کړي.

خيالي : هغه دادی چي عقل خيالي صورتونه رسم کړي.

د تصوراتو ادوات:

تصوير درې شيان غواړي:

حافظه.

پوهنه.

ذوق.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ليکني قسمونه:

ليکنه ډېر قسمونه لري، بلکي پر ډېرو علومو وېشله کيږي ( 18 ) خو مشهوره ئې دا درې قسمونه دي:

.1ليك.

.2روايت.

.3وصف.

(1)ليك:

ليك دادی چي د هغه په وسيله خپل افکار بل چاته څرګند کړه شي او د غائبو خپلوانو سره دقلم په ژبه خبري وشي. دا څو قسمه دی:

الف : کورني ليکونه:

چي د پلار، زوي، مور، لور، ورور، خور، مېړه، ماندينه او نور کورني اشخاصو په منځ کي وي.

ب : د خپلوی ليکونه:

چي علاوه پر خپلي کورنۍ د نورو خپلوانو اودوستانو په منځ کي ولي لکه : تربور، دوست، ملګري، اشنای، مينه، مين، همصنفي،او نور داسي دوستان.

ج : تجارتي ليکونه:

چي په تجارتي معاملو کي د تجارانو او بېاپانو تر منځ کيږي.

د : اجتماعي ليکونه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د ښوونکی او زده کوونکی یا د بلونکي، یا غوښتونکي یا نورو تر منځ په عمومي اجتماعي موضوعاتو کي سره کيږي، لکه رسمي ليکونه چي د رسمي دوائرو په منځ کي سره کيږي یا نور...

هـ : علمي او ادبي ليکونه:

چي د علماء اوپوهانو، شاعرانو او موسيقي پوهانو تر منځ سره کيږي.

د ليك اجزاء:

په هر ليك کي د څوشيانو مراعات کول ضروري او دا اجزاء عموماً اته دي:

(1)د ليك په سر کي تاريخ:

که څه هم پخوا په شرقي ليکنو کي اکثراً تاريخ د ليك په پای کي ليکل کېده او تراوسه لا هم زموږ په هیواد کښي تر ښارو دباندي دا عادت جاری دی مگر نوره دنیا ئې خصوصاً هغه نوې دنیا چي اوس ئې موږ تقليد کوو د ليك تاريخ د ليك په سر کي ليکي او ددې مطلب به شايد دا وي چي ويونکي د مخه تر دې چي ليك ولولی د ليکلو وخت ئې ورته څرګند شي او دا تاريخ د ليك پر تندي ښې خوا یا کېڼي خواته ليکل کيږي.

(2)پيل يا آغاز:

چي دا غالباً د مرسل اليه القاب او نوم وي، مګر د اسلام په ابتداء کي ئې د مرسل اليه ترنامه دمخه : بسم الله الرحمن الرحيم ليکله بلکي حمد او درود هم ورسره ليکله کېده چي وروسته "هوالله تعالی شانهُ" ئې پر ځای راتی، څه وروسته بيا يوازي "هوالله" پاته شو. له هغه نه پس يوازي "هو" قايم مقام شو. څو کاله دمخه بيا دا "هو" هم د ابجد په حساب اليش شو يعني "11" ليکل کېده چي اوس ځينو پرې ايښي او ځيني ئې لا ليکي.

(3)مقدمه:

مقدمه تر شروع وروسته راځي او دا به يا د مخاطب د ليك د رسېدو اطمينان وي او يا به خپله مينه څرګنديږي.

(4)مطلب:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلب خو معلومدار هغه افکار لیکل دي چي لیکونکی غواړي خپل مخاطب په پوه کړي.

(4)پای:

دا هغه لنډي جملې دي چي د لیك په پای کي ددې دپاره لیکل کیږي چي تمامېده ځیني څرگند شي.

(5)لاس لیك:

امضاء یا لاس لیك تر خاتمې وروسته کیږي مگر لاس لیك باید واضح او خوانا وي.

(6)پر پاکټ د مرسل الیه پته:

لیك چي ولیکل شو په پاکټ کي اینښوول کیږي او پر پاکټ د مرسل الیه ځای، ښار، او که مشهور نه وي کوڅه او دکان لیکل کیږي تر دې پتي وروسته ئې نوم راځي.

(7)د لیکونکي پته:

د مرسل الیه تر نامه وروسته خپل نوم او پته ولیکل شي ځیني وخت لا داسي هم کیږي چي خپله مفصله پته د لیك په پای کي ولیکل شي.

د لیك اخیستونکي لقبونه:

لقبونه دوه قسمه دي :

رسمي:

خصوصي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1)رسمي:

لقبونه هغه دي چي د حکومت له خوا رسمي مامورينو ته ورکړه شوي دي او هغه دادي دا هم پر دوه قسمه دي:

ملکي : عسکري:

(1)ملکي:

د لقب

رتبه : اصل لقب مخفف شوی توری

صدراعظم جناب عاليقدر جلالتماب ج، ع، ج

وزيران عاليقدر جلالتماب ع ، ج

مستقل رئيسان جلالمتآب ج

مستشاران، مشاوران،

مستوفيان او معينان عاليقدر صداقتماب ع، ص

نائب الحکومه ګان والاشان جلالتمآب و، ج

اعلی حاکمان عاليجاه عزت وصداقت همراه ع،ع،ص

لوی حاکمان عاليجاه، عزتمند ع،ع

حاکمان عاليجاه، اخلاصمند ع،ا

علاقداران اخلاص مند ا،

عمومي مديران عاليقدر ع،

مديران صداقتمند ص،

قاضي فضيلت مآب ف،

(2)عکسري:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نائب سالار عاليشان عزت وشجاعت ع، ع، ش

فرقه مشر عاليشان شجاعت ع، ش

لوا مشر صداقت وشجاعت ص، ش

غنډ مشر حميت مند ح

کنډک مشر شجاعت مند ش

ټوليمشر غيرتمند غ

بلوکمشر بسالتمند ب

نښانونه:

زموږ په هيواد کي ځيني نښانونه شته چي د هغو په نومو کي هم تخفيف شوي دی او داسي دی:

.1المر اعلی نښان ( ا، ا، نښان )

.2المر عالی نښان ( ا، ع، نښان )

.3سردار اعلی ( س ، ا ، نښان )

.4سردار عالي (س، ع، نښان )

تبصره:

په ليکلو کي لومړی القاب او وروسته دنښانو توري ليکل کيږي.

(2)خصوصي لقبونه:

مخصوص توري يا قواعد نه لري، د هر چا خوښه چي هر څنګه لقب خپل مخاطب ته ټاکي، مګر په دې شرط چي بايد د خپل مخاطب مقام او حثيت په نظر کي ونيسي. يعني که پلار، استاد، مور يا بل مشر وي بايد د احترام په القابو ياد شي او که دوست يا محبوب وي بايد د ميني او محبت په القابو ياد شي او که کشر وي بايد د لطف په القابو ياد شي يا داسي نور...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2)روايت:

روايت د واقعې ليکنه ده ( 19 ) نو که دا واقعه پېښه شوي وي او که ئې د پيښې امکان وي ( 20 ) دې قسم ته تحکوي هم وايي يعني د يو څه څخه حکايت کول چې په دې تعبير نو قصه، حکايت، سرگذشت،

افسانه په روايت کې شامليږي) .21(

د روايت ښه والی:

ښه روايت هغه دی چې دا څلور خاصيته ولري:

(1)ايضاح

(2)ايجاز

(3)امکان

(4)تلطف

د ايضاح څخه خو مقصد د روايت واضح والی دی او ايجاز هغه دی چې حشو او فضول زوائد له کلامه ليري کړه شي اود امکان څخه مطلب دادی چې حتی الامکان بايد له داسي موضوعو څخه روايت وشي چې هغه امکان ولري او يو خارق العاده موضوع نه وي (22) او د موضوع لطف د روايت د ابتداء خوږوالی دی چې اروېدونکی يا ويونکی د ليکني ويلو ته ترغيب او تشويق کړي او خواږه تعبيرات پکښي راوړي.

د روايت انواع:

روايت درې نوع لري) 23 : (

(1)خبري

(2)خيالي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(3)قضائي

(1)خبري :

خبري روايت د يوې مشهورې واقعې ليکل دي چې په دې نوع کې

حکايتونه، فکاهيات، لطايف، نوادر او يا تاريخي پيښې دا خليږي. د فکاهي او لطيفې په منځ کې دا فرق دی چې فکاهيات هزليه حکايتونه دي او لطايف هغه حکايات دي چې د ويونکي او يا ليکونکي پر ذکاوت دلالت کوي مګر نوادر هغه نادري خبري دي چې ډېر لږ واقع کيږي او واقع ئې تعجب پيدا کوي.

(2)خيالي:

خيالي روايتو د خيالي قصې يا واقعې ليکل دي لکه په عربي کې د "الف ليلته وليلاَ" کتاب يا په پښتو کې د سيف الملوك او بدرو افسانه يا نوري خيالي افسانې.

(3)قضائي:

قضائې روايت د هغه امر ليکل دي چې پر هغه باندي شخړه وي يعني دا روايت اکثراً په دعوو کې راځي ( 24 ) يعني جګړيزي پيښې ليکل.

وصف:

وصف د يو شي يا د يوې منظرې يا يوه سړي يا يوه عادت او نور ښه والی او بدوالي ليکل او څرګندول دي. لکه د پسرلي صفت، د ګلو ستاينه، د درواغو او خيانت عنعنه، يا نور هغه څه چې صفت وباله شي او که ښه وي او که بد...

د وصف اصول:

وصف دوه اصله لري :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1)خاص

(2)عام

(1)خاص:

خاص هغه وصف دی چي بې له پخيل موصوفه پر بل شي نه صادقيږي لکه "برندي سترگي" برندوالی يو ادبي او نزاکتي صفت دی خو خاص د سترگو دپاره، مثلاً : برندي پښې نه شو ويلای يا برند غوږونه نزاکت نه لري.

(2)عام:

عام هغه وصف دی چي علاوه پر خپل موصوف پر بل شي هم صادقيږي لکه : "ښکلې پېغله" ښکليتوب داسي صفت دی چي د بل شی سره هم راوړل کېدای شي لکه : "ښکلی مخ" "ښکلی پسگرلی" يا نور...

د وصف قسمونه:

وصف ډېر قسمونه لري مگر لکه يسوعي چي خاص کړيدي مهم ئې دوه قسمونه دي) .25: (

(1)د شيانو وصف

(2)د اشخاصو وصف

په شيانو کي د درو شيانو وصف اهميت لري:

د ځايو وصف لکه : د کم ښار يا کلي صفت.

د پېښو وصف : مثلاً د کمي جگړې صفت د طبيعي مناظرو وصف لکه د هرات د غروب وصف، د اشخاصو وصف هم له دوو لارو کيږي : يا د خلق يعني پيدايښت له لاري يا د خلق يعني خوی له لاري.

د پيدايښت څخه خو مقصد د مخ او نور صورت ښکلوالی يا بدوالی دی همدا شان د حرکاتو تناسب او بد ډول والی يعني د اشخاصو کړه وړه ستايلي کيږي د خوی څخه مطلب د اشخاصو د ښو يا بدو اخلاقو او عاداتو وصف کول دي.

د وصف حسن او ښه والی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صفاتو کي هغه وصف ښه دی چي اروېدونکي یا ویونکي ته د هغه موصوف داسي مجسم شي لکه د سر په سګترګو چي ئېویني او دا په وصف کي ډېر مهم شی دی او بل دا چي ډېر صفتونه تر یوه حکم لاندي راوړی (26) یعني که غواړي د پسرلي صفت وشي باید د طبیعت ښکلا او د قدرت صنع او هغه خوندونه چي د پسرلي له مناظرو موندل کیږي او نور ټول یوازي د پسرلي د ستاینې دپاره وستایل شي.

)پای(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمن ليکونه


.1کابل مجله لومړی کال 15 مخ 9 ش.

.2جواهر الادب ج 1، ص 59.

.3کابل مجله ، لومړی کال ، 9 ش 15 صفحه.

.4روش نگارش _ 10 مخ، د ښاغلي کاظم رجوي ليکنه.

.5د ليك او وينا پوهه د ښاغلي الفت اثر .

.6فرانسوی گرامر _ د کلود اوژه اثر د ښاغلي رښتيا ترجمه.

.7فرانسوی گرامر _ د کلود اوژه اثر د ښاغلي رښتيا ترجمه.

.8فرانسوی گرامر د ښاغلی رښتيا ترجمه.

.9فرانسوی گرامر د ښاغلي رښتيا ترجمه.

.10روش نگارش _ کاظم رجوي 41 او د 42 مخونه

.11همدا پورتنی اثر .

.12جواهر الادب محمد زکي الدين 77 مخ.

.13د ليك او وينا پوهه د ښاغلي الفت اثر .

.14تاريخ ادبيا ت انگليس د لطفعلي صورتگر اثر .

.15روش نگارش 67، 69، 70، 73 او 74 مخونه.

.16فن التاليف الحديث 45 مخ.

.17فن التاليف الحديث د ، ن فريد المصري اثر 45 ، 46 مخونه.

.18دستور نگارش د حسين اميد اثر 3 مخ.

.19د ستور نگارش 4 مخ


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.20علم الادب یسوعي ج اول 253 مخ.

.21روش نگارش 127 مخ

.22علم الادب یسوعي جز اول 254 ، 225 مخ.

.23علم الادب یسوعي جز اول 262 مخ

.24علم الادب یسوعي جز 2 ، 95 مخ

.25علم الادب یسوعي لومړی جز 229 مخ.

علم الادب یسوعي لومړی جز 229 مخ _ د فن التالیف الحدیث 43 مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بدیع علم

تعریف:

بدیع نوی شي ته وايي، او بدیع هغه علم دي چي د کلام د تحسین او ښه والي وجهي په پېژندل کيږي او څنګه چي بدیع نوپيدا ته وايي نو بدعت هم له دې قسمه دی) .1(

د بدیع د علم واضع:

د بدیع د علم واضع عبدالله بن المعتز دی چي دا علم ئې اختراع کی، او په 274 هـ کال ئې د بدیع نوم پر کښېښود .
)2(

د بدیع اقسام:

د بدیع علم پر دوه قسمه دی:

معنوی

لفظي

لومړی معنوي:

معنوي هغه دی چي د معنی رعایت پکښي واجب وي، نه د تلفظ او ډېر مشهوره ئې دادی) : 3(

_ (1)متضاد:

چي دوې ضدي معناوی سره راوړي که په نثر کي وي او که په نظم کي عبدالقادر خان په لاندي بیت کي خندا او ژړا سره راوړي دي:

چي ئې تللم په خندا خندا دیدار ته

اوس ئې درومم په ژړا ژړا مزار ته

شمس الدین کاکړ وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخر به ومري په ډېر غربت کـــــــي

بې کس زما زړه تنهـــــــــا زما زړه

خراب له عشقه آباد له حـــــــــسنه

مجنون زما زړه ليلى زمـــــــا زړه

په اوښکو غرق شو له صبره وچ شو

دريا زما زړه صحرا زمـــــــــا زړه

دا لاندي بيتونه هم د طباق له قسمه دي، عبدالقادر خان وايي:

نمروته نه گورم، گورم خپل نــــــــــــــگار ته

گل ته نظر نه کړم، نظرکړم هغه رخســـــار ته

باغ وته مي بولي، نه مي بولي د يار کوی ته

کوی ته به ئې درومم نه به درومم و گلزار ته

(2)مراعاآ النظير:

مراعاآ النظير دادی چي اقلاً دوه شيان په يوه جمله يا يوه شعر کي مناسب سره راوړه شي لکه په دې لنډۍ کي:

سينه مي دېگ زړه مي غــــــــــــــــوښي

اوښکي اوبه دي بېلتون اور پسي کوينه

دېگ او غوښي او اوبه او اور مناسبت سره لري.

(3)براعآ استهلال:

د براعآ استهلال لغوی معنی ابتدائي تفوق او برتري ده، او په اصطلاح کي د کتاب د مقدمې او شروع مناسبت د کتاب د متن او موضوع سره دی مثلاً که کتاب په نحو کي وي په مقدمه کي ئې : رفع، نصب، جر، فاعل، مبتداء

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نور راوړي، چي يو فاضل سړی د کتاب مقدمه ووايي له هغه څخه پوه شي چي د کتاب موضوع څه ده چي ددې صنعت مثالونه په پخوانيو عربی او پارسی کتابو کي ښېخي ډېر ليده کيږي.

(4)عکس:

دا صنعت قلب مطلب هم بولي چي يو عبارت په خورا ښکلي ډول سره راوړي، ګل محمد هلمندی وايي:

ما په سل کرته ياد کړې ته رانغلې

زه به سل کرته درسم که تا ياد کړم

(5)رجوع:

دا صنعت دادی چي يو مطلب ووېل شي بيا بيرته دهغه مطلب باطلوالی ته رجوع وشي لکه خوشحال خان چي وايي :

که ښه وايم وچاته هم ئې بد نيسي په زړه کښې

يا بخت دی د مغولو يا زما څه عقل کـــــم دی

نه بخت دی د مغولو نه زما څه عقل کـــــم دی

دا کل واړه پېری ده چي مي کار برهم درهم دی

(6)استخدام:

د استخدام مثال هم دمخه درته وښودل شو.

(7)لف ونشر:

لف او نشر دادی چي يو وار څو شيان ذکر شي اووروسته د هغو تعبير په ترتيب سره وشي لکه حنان چي وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه یار دا څه حنان دا څه اغیار دی

دا څه گل دا څه بلبل دا څه زغـن دی

شمس الدین وایي:

یو کاندي ویشتل بل بندول دریم نتل کا

ورځي دي کمان زلفي رسۍ سیاهي کاکل

لف او نشر دوه قسمه دی یو مرتب او بل غیر مرتب، مرتب هغه دی چي شیان په ترتیب سره راوړه شي، لکه په پورته بیتو کي او غیر مرتب هغه دی چي بې ترتیبه ذکر شي.

(8)تفریق:

تفریق دادی چي متکلم دوه شیه له یوې نوعي څخه ذکر کړي او د معنا د زیاتوالي دپاره تفصل ورکړي یعني تفریق ئې سره وکړي، رحمان بابا وایي:

لږ تفاوت نه دی د رنـــــــــدی او زاهدی

چرته زلمي جونه، چرته کونډې یتیمان

(9)جمع:

جمع داسي صنعت دی چي څو شیان تر یوه حکم لاندي کړي عبدالقادر وایي:

چي پرې غم غلطوم درې مي محرم دي

یو قلم دویم کتاب دریم اشعار خـــــپل

چي قلم او کتاب او اشعار ئې د غم غلطولو تر حکم لاندي کړیدي.

(10)تقسیم:

تقسیم هغه دی چي څو شیان ذکر کړي او بیا هر یوه ته بل شی منسوب کړي، خلیل خان نیازی وایي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړي اوريځي ژاړي لـــــــه پاسه

کويله ږغ کا بېلتون له لاســـــه

يه هغه لوني گوهر په خول ستا

دا مرحبا کا ستـا زموږ مواسه

په پورتنۍ رباعي کي د رجوع صنعت هم راغلی دی.

(11)حسن تعليل:

حسن تعليل دادی چي ويونکی د يوه وصف دپاره داسي علت راوړي چي په حقيقت کي علت نه وي خو د لطافت او مناسبت له حيثه ښه علت وباله شي، لکه زاخيلي چي وايي:

ورغړوه سترگي، زلفي ليري د رخساره که

ستا ليدو ته ريږدي لمر په پاښو کي د گلو

د لمر دوړانگو درېږدېدولو علت ئې د خپل يار مخ وباله، که څه هم حقيقتاً خو دا علت نه دی مگر ډېر ښه لطافت لري، يا لکه حميد چي وايي:

چي نظر ئې د گلرخ ساقي په مـــــــخ شو

د نرگس له لاسه جام پرېوت نسکور شو

(12)حسن مطلع:

حسن مطلع دادی چي د لومړی بيت الفاظ ډېر مانوس او ذهن ته نژدې وي چي ويونکی يا اروېدونکی دې ته مجبور کړي چي راتلونکي بيتونه هم ووايي يا ئې واوری، او په ويلو ئې زړه خوش شي لکه عبدالقادر خان چي وايي:

پـــــــــــه مجالس کښي بيرون له همه

د آواز وخوت د خُم لـــــــــــــــــه فَمه

چي زه هم ستاسي ميخور زلمی وم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما له حاله مه شئ بې غـــــــــــمه!

(13)حسن مقطع : حسن مقطع دادی چي غزل یا قصیده یا نور څه په ډېره زړه وړونکي او مطبوع کلام بې له کوم شرطه قطع شي لکه دخوشحال دا لاندي قصیده:

د ښادمنو په خندا ږو

د غمجنو په ژړا ږو

د رندانو په رندۍ

د شیخانو په تقوا ږو

د وصال په سل خوښۍ

د هجران په زر بلا ږو

د بهار په ښو ګلونه

د بلبلو په نوا ږو

چي د وهمه پکښي نشته

د رښتینو په رښتیا ږو

په دا همومره سګوګندونه

صد هزار ځله بیا بیا ږو

چي تر ځان مین پر تا یم

(14)اغراق:

اغراق په لغت کي دري معناوي لري : په اوبو کښي ډوبول، یو شی تر خپل حد پورته بېول، دلنډۍ کشول، خو د بدیع په اصطلاح هغه صنعت دی چي د یوه شی ښه والی یا بدوالی یا د هغه تصدیق او تکذیب ته شدت او قوت ورکوي، داسي نه چي هیڅ نه وي او وویل شي چي شته، دا اغراق نه دی دروغ دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوك وايي چي اغراق درې مرتبې لري : لومړی دا چي مدعا عقلاً او عادتاً امكان ولري، خوشحال وايي:

د خوشحال سره كه كښيني يو ځوكاله

دا دغره ختك به واړه شاعران شي

دامبالغه هم بولي، دوهم هغه دی چي مدعا د عقل له رويه ممكنه وي مگر په عادت كښي محاله وي، شمس الدين وايي:

زړه مي داسي انديښنو دهجران ډك كی

ځای د وصل پكښي نشته يو خاش خاش

دا اغراق هم بولي، دريم هغه دی چي مدعا هم عقلاً هم عادتاً محاله وي دا نو غلو هم بولي، حميد وايي:

چي بليږي پكښي اور زما د آه

څه به نه وي د فلك مانۍ سياه

(15)التفات:

التفات په لغت كي د سترگو تر كنجكانو كتل او يو كار ته توجه كول دي، او هم لطف او مهربانۍ ته وايي اصطلاحاً داسي صنعت دی چي د عبارت سياق ته تغير وركړي، دا نو پر شپږ ډوله دی:

اول : له غيبته تكلم ته التفات ، عبدالقادر خان وايي:

ظاهربين ئې په ظاهر صورت غلط شو

په باطن په خاورو پټه خزانــــــــــــــه يم

په لومړۍ مصرع كي غيبت او دوهم كي تكلم دی.

دوهم : له تكلمه و غيبت ته التفات ، خوشحال خان وايي:

چي دي ښه له خويه بويه خبردارشوم

د خوشحال سره ياري كړې په دروغ

دريم : له غيبته وخطاب ته التفات ، خوشحال خان وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دلبره دلربـــــــــا ده هغه ته يې

چي خودرايه خودستا ده هغه ته يې

ځلووم : له خطابه تکلم ته التفات ، عبدالقادر خان وايي:

باد يې بوي عبدالقادره سحر راووړ

شگفته لکه غونچه په دغه باد شوم

پنځم : له تکلمه و خطاب ته التفات ، رحمان بابا وايي:

خبر نه يم چي ئې راوستــــــــــم له کومه

بيا مي کومي خواته استوي چي دورمه!

شپږم : له خطابه و غيبت ته التفات : لکه دا چي پلار زوی ته نصيحت کوي او ورته وايي : " زمری جانه ! زما خبري واوره، ستا دپاره وايم، زه زمری د ځان زوی بولم نو که زمری اوس لوی شوي وي او ځان تر ما پوه بولي دا نو بېله خبره ده".

(16)اعداد:

دا صنعت داسي دی چي د ممدوح څو صفتونه او يا نور شيان پرله پسې راوړه شي، لکه خوشحال چي وايي:

ناز، نخرې، مهر، خندا، فتنې، جنگونه

د خپل يار سره هم تا زده دا رنگونــــــه

(17)تنسيق الصفات:

څو صفتونه پرله پسې راوړل دي ، لکه عبدالقادر خان چي وايي:

پر لاري تلمه، په مخه راغله، يوه دلبره، پري رخســـــــاره

د لمر په شانه، لاترې روښانه، په ښکلي مخ وه هغه نگاره

غاړه بلنده، خاطر پسنده، عنبرين بويه، ياسمن مــــــــويه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شونډو لعله، په زړه الماسه، په سپینو غاښو درشهواره

بې میو مسته،خوړه نیست وهسته، ډکه له نازه خالي له نیازه

سر تر قدمه ثابته روغه، له هره عیبه پاکـــــــــــــــــــــــه ویزاره

(18)حشو حشو:

حشو په نظم او نثر کي معترضه جمله ده، یاهغه زاید کلام دی چي د جملې په منځ کي واقع شي، علي خان وايي:

اوس مي څه زده "باقي دا" چي له څه راغی

ځي به چېرته سوربا پلي زمــــــــــــــا روح ؟

حشو پر درې ډوله ده : قبیه، متوسطه، ملیحه _ قبیه حشو د کلام قیمت ورکوي.

(19)تجاهل العارف:

تجاهل العارف دادی چي ویونکی یا لیکونکی قصداً خپل ځان ناپوه واچوي که څه هم واقعه ورته معلومه وي خو د یو نزاکت دپاره خپله ناداني ښکاره کړي لکه علي خان چي وايي:

دا د دلبر مخ دی چي له شاله نیم لیده شي ؟

یازیړوتې لمر دی چي ښکاریږي نیم له غره ؟

(20)مدح ما یشبه الذم:

مدح مایشبه الذم دادی چي داسي مدح وشي چي د ذم سره مشابهه وي لکه شمس الدین چي د خپل آس مدح کوي:

تر ولاړ داوبو تېز دی په رفتار کي

د ګانټې مزل په میاشت وهي تنها

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(21)ذم ما يشبه المدح:

دا داسي دی چي داسي ذم وشي چي دمدح سره مشابهه وي لکه علي خان چي وايي:

عاشقانو به فرياد بې شانه نه کـــــــــــړو

معشوقې که په يو شان وای نا انصافي

(22)ارسال المثل:

دا صنعت داسي دی چي يو متل يا يو مشهوره جمله په نظم کې راوړه شي لکه عبدالعظيم چي دا متل "دګورشپه نه په کور کيږي" په يوه بيت کي راوړی دی:

د ګور شپه چېر دچا نه په کور کيږي

غم د چا په خوشحالۍ کلـــــه بدليږي

(23)ارسال المثلين:

دا دادی چي دوه متلونه په يوه بيت کي راوړي، لکه خوشحال خان چي وايي:

وايي چي : "له ځانه په اولاد وي پېرزوينه"

خدای په کارواني په اصلي والـــــي اوبه"

(24)سوال و جواب:

د سوال و جواب معنی خو ښکاره ده ، شمس الدين کاکړ وايي:

ما وې ستا د مخ وګل ته مي لار نشته

دې وې کره په شپه ژړا ما وې په سترګو

(25)ښه او بد:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه او بد هغه صنعت دی چي په پارسي ئې زشت او زیبا بولي هغه دادی چي په لومړی مصرع کي ښکنځل او په دوهمه کي بیرته مدح ځیني جوړه شي، شمس الدین وایي:

بد ښه

یو وار ما واخیستای پېښي د خپل نګار

چي مي رنګ کړای په نکریځو ګل انار

ته ویده وې ما به درسته شپه کولې

باری ستا په باب دعا هزار هزار

که ئې یو ځله پر سګر وربانديي کښینې

رنځ د هجر به شي دفع د بیمار

بند ئې خلاص که پورتې ونیسه پخپله

مخ پوټی په نقاب نه ښایي د یار

که هر څو پر موټه زور کړم درست په نه ځي

په رقیب کي ځما غشی د آزار

په مدار مدار بې کاږم چي خوږ نه شي

د باڼو په ستني ستا د پوندي خار

څو پر سپور یې باندي ښوره شمس الدینه!

د عشق اوښ پر لاري کله ځـــــــــــي هموار

(26)اطراد:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطراد هغه صنعت دی چي په نظم يا نثر کي د ممدوح نوم او د ممدوح د پلار نوم د ولادت په ترتيب ذکر کړي لکه په بيت کي چي دا جمله راوړي : "الامير ابن الامير ابن الامير" يا نور...

(27)توجيهه:

دا صنعت محتمل الضدين هم بولي او داسي دی چي يو کلام د دوو مختلفو وجهو احتمال ولري لکه دعربي دا شعر چي په يوه سترگه ړوند خياط ته چا ويلی وْ:

خاط لي عمر وقبا ليث عينهُ سوا

يعني کشکي ستا دواړي سترگي سره برابري وای، نو دا معنی هم ورکوي چي کشکي ړوند وای، او دا معنی هم ورکوي چي کشکي دي دواړي سترگي جوړي وای.

يا په پښتو کي چي وايي : "احمد ډېر غوړ سړی دی" دواړی توجهي روا دی : يوه دا چي کالي ئې غوړ دي او بل دا چي کالي ئې ډېر پاك او مفشن دي.

دوهم لفظي صنايع :

د بديع د علم دوهم قسم لفظي صنعتونه دي اوهغه څه چي په پښتو کي ما تطبيق کړای شوه هغه دادی:

(1)ترصيع:

ترصيع داسي صنعت دی چي شاعر خپل کلام برخي برخي کړي، نو هر لفظ ئې د بل داسي لفظ پر برابر راوړي چي په وزن او دروي په توري کي سره متفق وي لکه رحمان بابا چي وايي:

په حالت، د عاشقانو، نظر، بويه

په زيارت، د شهيدانو، گذر، بويه

(2)المشجر:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



المشجر د توشیح جزو دی، هغه دادی چي یوه غزل ووایي چي په لیکلو کي د وني شکل پیدا کړي لکه شمس الدین چي وایي:

(3)المربع:

دا هم د توشیح یو قسم دي چي یوه رباعي پر څلور برخي داسي وویشي چي هم افقي او هم عمودي وویله شي لکه عبدالقادر چي وایي:

(4)اسجاع:

اسجاع د سجع جمع ده، او سجع قمري، موزون او مقفي آهنګ ته وایي (4) نودا پر درې رازه ده:

(1)متوازی:

(2)مطرف:

(3)متوازن:

اول : متوازي : متوازي هغه بولي چي ددوو مصرعو په آخر کي داسي کملې راوړه شي چي دحروفو په عدد او وزن او روي کي سره متفقي وي لکه عبدالقادر خان چي وایي:

بد یم دا نه وایم چي زه شاغلی یم

په مریي والي دتا راغلـــــــــــی یم

مرګ مي قبول دی شړل دي نه وي

تښتی بنده یم درته راغلـــــــــی یم

دوهم : مطرف ، دا بولي چي د دوو مصرعو په آخر کي داسي کلمه راوړه شي چي دروي په حروفو کي متفق اما د حروفو په عدد او وزن کي مختلف وي لکه رحمان بابا چي وایي:

خبر نه یم چي ئې راوستم له کـــــــــومه

بیا مي کومي خواته استوي چي درومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم : متوازن هغه دى چي په دوو مصرعو كي داسي كلمې راوړه شي چي هر يوه د خپل نظير سره په وزن كي موافق وي مگر دروي په حروفو كي مختلف وي لكه عبدالقادر خان چي وايي:

بند ئې ، په تاريم د دوو زلفينو

مست ئې، په جام يم د دوو عنينو

(5)تجنيسات:

تجنيسات اوه دي : تام ، ناقص، زايد، مركب، مكرر، مطرف، خطي:

اول . تام:

تام تجنيس هغه صفت دى چي په شعر يا نثر كي دوې داسي كلمي ذكر شي چي په صورت كي هيڅ تفاوت نه سره ولري مگر معنا ئگې جلا جلا وي. په پښتو كي دا صنعت بيخي ډېر دى، بلكي په متلو كي هم موجود دى لكه چي وايي : "خواري كړې هغه مينځي چي دمينځي كال مينځي" په ادبياتو كي هم ډېر دى، پيرمحمد وايي:

فراق په ما خوري دزړگيويني

آشنا مي نسته الله مـــــــي ويني

عبدالقادر خان يوه مفصله نصيحت نامه چي تقريباً زر بيتونه دي په همدې صنعت كي ويلې ده.

دوهم، ناقص:

ناقص تجنيس دا بولي چي په تورو كي لكه تجنيس تام غوندي يو شى وي مگر په حركاتو كي مختلف وي لكه حميد چي وايي:

چي رښتنى ساده صاف نه وي حميده

بولي، بولي عاقلان دا هســـــــي بول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم . زاید:

زاید تجنیس دادی چي د متجانسو کلمو په سر یا په آخر کي یو توری اضافه وي لکه عبدالقادر خان چي وایي:

چي عاقبت به له دنیا لیږدي

ولي دا هونبره طولاني بلیږي

څلورم. مرکب :

مرکب تجنیس پر دوه ډوله دی : متشابه او مفروق. متشابه هغه دی چي د بسیط لفظ سره مرکب د بسیط په شکل راوړي لکه عبدالقادر خان چي وایي:

ربه ته زما ښښتن زه بنده ستـــــا یم

تا به غوارم تا به بولم تـــا به ستایم

په نسیم د محبت لـــــــــکه گل وایم

په تجنیس په نصیحت بیتونه وایم

مفروق مرکب هغه دی چي بسیط او مگرکب لفظونه د بسیط او مرکب په شکل راوړه شي عبدالقادر خان وایي:

چي په سترگو څراغ ووینی پتنگ

څو ونه مري له ژوندونه وي په تنگ

پنځم . مکرر:

مکرر تجنیس دادی چي د بیتونو په آخر دوه متجانیس لفظونه اړخ پر اړخ مکرر راوړه شي او معناوي ئې جلا وي نو که د لومړی حرف په سر کي څه زیاتوالی هم وي روا دی لکه پیرمحمد چي یوه غزل پردې صنعت ویلې ده چي دوه بیته ئې دادي:

بوي د زلفو چي مي تېر شو تر مشام شام

و بلبل ته مي د زړه ړدي گـل انـــــدام دام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا به سور کفن له قـــــــــــــبره پاڅم

دا مسیح که مي لږ واخلي پـه دشنام نام

دا قسم تجنیس هم د پښتو په ادب کي خورا ډېر دی او راز راز راوړل شویدی مثلاً حنان داسي راوړی دی:

هیڅ مي نه مونده په عشق کي د زړه کام کم

نه مي درومي له خاطره په پیغـــــــــــــــام غم

پوخ مین آه وفغان نه کـــــــــــړي په عشق کي

مدام وي له اضطـــــــــــــــــرابه څخه خام خم

شپږم. مطرف تجنیس:

دادی چي دوې داسي کلمې راوړه شي چي ټول حروف ئې یوشی وي خو د پای توري ئې مختلف وي عبدالقادر خان وايي:

د یار یاد لکه صیقل زړه پرې صفا که

آئیني دي د خاطـــــــــــــــر ونیوه زنگ

اووم. خطي تجنیس:

خطي دادی چي دوې داسي کلمې راوړه شي چي تحریري شکل یې یو دی نو که یوه کلمه ټکي ولري او بله یې ونه لري پروا نشته لکه محرم او "مجرم" چي سره راوړه شي عبدالقادر وايي:

چي نوم ئې وشي د محــــرمۍ

خوب به په څه کا د بېغـــــمۍ

په یوه ټکي محرم مجرم شي

وېره دي کاندي د مــــجرمۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(6)اشتقاق:

بل د لفظي صنايعو څخه دی چي ویونکی داسي الفاظ استعمال کړي چي له یوه اصله څخه مشتق وي لکه حنان چي وايي:

که په تور د تورو زلفو تور شم څه شو

د تور بخت له تورو زلفو آشنايي ده

او يا په نظر کي داسي ښکاره شي چي له یوه اصله دي مگر نه وي لکه خوشحال خان چي وايي:

هيچري د شولـــــــــــــــــــــــــــو د سږی برکت نه وي

شل شي شول شي شوم شي چي همېش شولې کرینه

(7)مقلوب:

مقلوب یعني اوښتی دا عموماً پر دوه ډوله دی :

لومړی مقلوب بعض :

چي په نظم یا نثر کي د کلمو بعضې حروف سره واوړي شمس الدين وايي:

که څه وايم د دلبر له تورو زلفو

د سواده مي په سر کي ده سودا

دوهم مقلوب کُل:

چي ټوله کلمه سره اړولې شوې وي. لکه عبدالقادر خان چي وايي:

د دوران له انقلا به لا بقا شي

اعتماد به دانا څه په دا اقبال کا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(8)تضمين:

تضمين دادی چي يو شاعر يا ليکونکی د بل شاعر يا ليکونکي يوه مصرع يا جمله دخپل شعر په ضمن کي راوړي مگر په دې شرط چي د سند او مثال په ډول وي نه دغلا په توگه، مثلاً حميد وايي:

دا شرف د عاشقۍ نه دی نو څه دی

چي سينه شوه د حميد دکان د مشکو

حنان شاعر دده وروستنۍ مصرع تضمين کړې وايي:

د حنان سينه نوخطو تور سکاره کړه

که "سينه وه د حميد دکان د مشکو

(9)اعنات يا "لزوم ما لايلزم"

دادی چي شاعر يو غير لازم شی پر ځان لازم وگڼي يعني که دهغه التزامه صرف نظر وشي هيڅ عيب نه وي مثلاً عبدالعظيم شاعر دلاندي بيتونو په آخر کي " زلزله، غلغله، ولوله، سلسله" يا نور راوړي چي دوه لامه ئې لازم کړي مگر که ئې پر ځای " فيصله، مرحله، ناله" يا نور راوړي وای څه عيب نه وْ بيتونه ئې دادی:

نن مي گډه په صورت بيا زلزلـــــه ده

راپسې د مفسدانو غُلغُلــــــــــــــه ده

ما وې نن خو به مي پرېږدی پر قراره

پرون ټوله ورځ مي کړې ولولـــــه ده

دا دُر نه دي چي په مخ څمـا ځليږي

دا څما د سپينو اوښو سلسلــــــه ده

(10)حذف:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل صنعت حذف دی چي شاعر له خپله کلامه یو یادوه حرفه وغورځوي لکه عبدالقادر خان چي وایي:

هومري اور پکښي بليږي ايري نه شوې

بلا سخت يې د عاشق ننه لړمـــــــــــونه

ننه په اصل کي "دننه" دی ، دال حذف شويدی.

(11)رقطا:

رقطا داسي صنعت دی چي په نظم کي يو حرف منقوط يعني نقطه دار او بل غير منقوط وي. مثلاً خوشحال خان وايي:

زه زاير يم ځان ستا تر تل تـــــــــــــــل

تر تا ځګر شم ځان ډېر ښه ئې تـــــــر بل

يو په مثل ته ښايسته يې د جونو خانه

تابه ستايم تا به ستايم يو په شــــــــل

ته جانا تل تازه تر تر نستـــــــــــــــرنه

زه زهير خسته جليا يم تـــــــــــر بلبل

)په پورته بيتو کي په پخوانۍ املاء (ځ) په دوو ټکو هم ليکله کېدله(

(12)خيفا:

دا صنعت داسی دی چي يوه کلمه يا يوځو توري منقوط او بله کلمه يا دتورو په شمار غير منقوط وي خوشحال خان وايي:

نن ما خپل ګنېي له طـــــــنزه

ما خو نه زده هونبره فـــــن

بختور مي يې نوم کښېښ

لا که نه شي دروغجــــــــــن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خښي تا وکا چين يې گورم

شي بنده درته ختـــــــــــــن

)په پورته لومړی بيت کي دوره توري منقوط او دوه غير منقوط دی په دوهم بيت کي درې توري منقوط او درې غير منقوط، په دريم بيت کي څلور توري منقوط او څلور غير منقوط دي(

(13)رد المطلع:

دادی چي د لومړی بيت يوه مصرع د غزل په آخر کي تکرار کړي عبدالقادر خان وايي:

خو همدا عبدالقادر ته بيا بيا وايه

"يوه زړه لره يوه مينه کافي ده"

(14)رد العجز على الصدر:

صدر د شعر او عجز ئې پای دی، دا صنعت داسي دی چي د شعر صدر په آخر کي تکرار کړي، رحمان بابا وايي:

سر زما، سامان زما، جار شه تر جانان زما

جارشه تر جانان زما، سر زما، سامان زما

دا صنعت ډېر قسمونه لري کله داسي کيږي چي د لومړی بيت عجز ئې ددوهم بيت په صدر کي راوړه شي او د غزلي تر پايه پوري همداسي وي دا قسم ډېر لږ دي، خوشحال خان وايي:

همدا شان د غزلي تر پايه پوري...

(15)الملمع:

الملمع هغه دی چي يوه مصرع پښتو او بله عربي وي، شمس الدين وايي:

که داخل مي په روضه کښي د رضوان کا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لعمري لا يطيب العيش لـــــــــــــــــولاك

خوبرويان كه د جهان شي راته جمـــــــــع

فوالله لست انظير عنك ســـــــــــــواك

(16)ذوالقافيتين:

ذوالقافيتين دا دی چي په نظم کي دوې قافيې څنګ پر څنګ راوړه شي، مثلاً عبدالقادر خان وايي:

که ورځه نه دی چي مريي ستا نومـــم

بس دی وماته چيري له تا درومـــــــم

ته به زما غوندي مريونه ډېر مومـــې

کله به تا غوندي څښتن زه بيا مومم

(17)ذوالقافيتين مع الحاجب:

چي رديف د دوو قافيو په مينځ کي راوړه شي،مثلاً عبدالقادر وايي:

مين را ياد شو دتا له رنــــــــــګه

که يو درنګ کښيني زما له څنکه

که آشنا نه يې د آشنا مثال لـــــري

جار شم قربان شم تر تا ملنګــــــه

(18)ذولسانين:

چي نظم په دوو يا ډېرو ژبو راوړه شي، لکه خوشحال خان وايي:

افغان بچه شوخي، هرګز په عاشق بانـــــــــــدي

لطفي نکني رحمی، دا هم کله څوك کانــــــدي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يك لحظه بيا بنشين ما خوښ په ښه خندا كړه

قربان سرت گردم چي نورو وته خانـــــــــــــــدي

(19)غير منقوط:

دا داسي صنعت دى چي په شعر كي بې ټكو الفاظ استعمال شي، لكه د شمس الدين دا بيتونه:

خوشحال خان وايي:

د دلدار هوا دار له درد او دوكه دما دم د آه سرد سره راوا كا

درومه درومه گيله مه كوه له درده كله كله درد هم مراد اداء كا

(20)منقوط:

منقوط هغه دى چي په شعر كي ټول نقطه دار توري راوړه شي، لكه خوشحال چي وايي:

ښې ښې شپې شي ځيني پيښـي

غېږ په غېږ شي شفت ځبيښي

ځښي ځښي ښيښي تشـــــېږي

نن بشي بخښني ، ښي ــ ښي

(21)مقطوع:

مقطوع دادى چي د شعر ټول توري سره بيل ئې مثلاً خوشحال وايي:

دل آزاري ! م دى ځ ل رب ډار دى

زړون م آزاروه روى ددا دار دى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ت چ پ ژاړې زار زار ژړا دي اروم

دادي واړه درد او دوك زړه دي آزار دى

چ اول دي د زړه داغ وت آرزو وه) 5(

اوس ور دروم زړه دي ښ ش چ داغ دار دى

(22)موصل:

موصل دادى چي د شعر ټول حروف سره ونښلي، او دا درې قسمه دى : لومړى دادى چي د شعر توري سره ونښلي لكه خوشحال خان چي وايي:

پورته دوه بيته منقوط هم دي، د موصل دوهم قسم دادى چي دوه توري سره نښلي، لكه د خوشحال دا بيتونه:

مخ په مخ شه ماته خانده چي خاطـــــر مي

هوسي شي په خوښۍ شي هم بې غـــــــم

گل، مل چي مخ په مه شي په خوښۍ شي

طوطا كله گويا يي كا بې موســـــــــــــم

د مرصل دريم قسم درې حرفي دى _ لكه دا بيتونه:

ځيني خپل جيش، لښكر، حشم كسي

ځيني خپل لعل، گوهر، نعم كســــــي

ځيني خپل علم، هنر، قلم كســـــــــي

ځيني ختك، هغه، صنم ، كســــــــي

(23)لغز:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغز په پښتو کیسۍ یا دوړۍ بولي چي په پارسي ورته چیستان وایي دا هغسي دی چي یو پوښتنه وکي د یو شی نښاني ووایي او له مخاطبه د هغه شی د نومو پوښتنه وکړي. دکیسۍ مثالونه په پښتو کي ډېر دي.

(24)معما:

معما داده چي د معشوق یا بل شي نوم په بیت کي پټ او په رمز کي راوړي، نو که د تصحیف دلاري وي که د قلب او یا حساب او یا تشبیه او نورو لارو، مګر په دي شرط چي له ښي طبع څخه بېخي لیري نه وي، اوږده اوږده ناوړه الفاظ پکښي نه وي لکه یونس چي د محمد (ص) په نامه معما لیکلي ده:

خم چي یونس واړاوه څڅوپکي ځینـــــي پريوت

هوښ له مدهوښ ورك کا ، اسم لوی وه د هغه

## لمن لیکونه

.1مختارالصحاح

.2عبدالله بن المعتز د عباسیه د خلفاء څخه دی چي د مقتدر خلیفه د مریانو دلاسه مړ شو (په 296 کي ) "دکابل مجله _ لومړی ګڼه څلرم کال"

.3مخصوصاً دلته هغه صنعتونه ټاکلي شویدي چي مائې په پښګتو کي مثال پیدا کړیدی، ممکن دی چي ډېر نور به داسي هم په پښتو کي وي چي ما نه وي لیدلي. "مؤلف"

.4مدارج البلاغه 205 مخ

.5په پخوانۍ املاء کي غیر ملفوظي (هـ) لکه ( په، ده ، زه او نور) نه لیکله کېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بیان علم

بیان په لغت کې کشف او ایضاح ته وایي (1) خو په اصطلاح کې هغه علم دی چې د یوې معنا دلالت پر مختلفو لارو رانښيي (2) یسوعي بیا وایي : بیان په اصطلاح کې هغه فصیح منطق ته واي چې له ما فی الضمیر څخه تعبیر په وشي) 3.(

د بیان د علم لومړی کتاب:

په دې علم کې لومړی کتاب (مجازالقران) دی چې ابی عبیده د خلیل شاگرد لیکلی دی.

اصول:

دا علم درې اصله لري یعني په درو شیانو کې بحث کوي) 4: (

.1تشبیه

.2مجاز

.3کنایه

تشبیه:

تشبیه د دوو شیانو معنوي اشتراك ته وایي، نو که دا اشتراك حقیقي وي او که خیالي او مقصد له معنو ي څخه هغه صفت دی چې د باندنیو موجوداتو څخه نه وي لکه : پوهنه، زړه ور توبې ، ځکه چې د دوو تنو اشتراك په کور او کالو کې تشبیه نه باله کیږي) .5(

د تشبیه رکنونه:

تشبیه څلور رکنونه لري :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی رکن : ئې د تشبیه دوې خواوي دي چي یوه خوا ئې مشبه او بله خوا ئې مشبه به بولی او په عربی طرفین ورته وایي.

دوهم رکن : د تشبیه توري دي.

دریم رکن : د تشبیه وجهه ده.

څلورم رکن : د تشبیه غرض دی.

د یوه شي تشبیه چي له بله شي سره کیږي لومړی شی مشبه او دوهم مشبه به او ددوي منځ کي معنوي اشتراك وجهه شبه یا د تشبیه وجهه ده، او په کوم توري چي دا تشبیه راغلي وي هغه د تشبیه توري بولي او کوم مقصد چي پر بناء وي هغه ته د تشبیه غرض وایي.

لومړی رکن:

د تشبیه دوې خواوي : یعني مشبه او مشبه به مثال " پوهنه د رڼا په څېر ده" پوهنه مشبه ، رڼا مشبه به شوه. نو تشبیه د خپلو دوو خواو په اعتبار پر څلور ډوله ده:

(1)د مفرد تشبیه له مفرد سره:

(2)د مرکب تشبه له مرکب سره:

لکه د مخ تشبه له ګل سره یا د زړه ور تشبیه له زمری سره:

لکه عبدالعظیم چي وایي:

سره لبان دي په خندا کي هسي زیب کا

لکه ګل چي په ګلزار کـــــــــي وغوړېږي

سره لبان او د خندا ترکیبي حال مشبه او د ګل د غوړېدلو ترکیبي حال مشبه به دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(3)د مفرد تشبیه له مرکب سره:

لکه په دې لنډۍ کې:

پر ګودر سور سالو ښکاره سو

ما وې دې نورو اوبو اور واخیست مینه

سالو مفرد او مشبه دئ او دا اور او د اوبو د سوروالي ترکیبي حال مشبه به دئ.

(4)د مرکب تشبیه له مفرد سره:

عبدالقادر وایي:

لکه څوك چې په ویشتل د ګلو خوښ شي

هسې خوښ شي مشتاقان د یـــار له سوکه

ګ د ګلو وېشل ترکیبي صورت مشبه او سوك مفرد مشبه به دئ.

ددو خواوو د مادې په اعتبار:

د مادې اعتبار هم پر څلور ډوله دی:

اول : د محسوس تشبیه له محسوس سره:

شمس الدین وایي:

زړه مې بې دیار له مخه مدار نه کا

عندلیب غوندې بې ګلو قرار نه کا

زړه او عندلیب دواړه محسوس دي.

دوهم : د معقول تشبیه د معقول سره:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د ناپوهۍ تشبیه له مرګ سره او دعلم تشبیه له ژوند سره:

دریم : د معقول تشبیه له محسوس سره:

شمس الدین وایي:

د ریا طوق شو را په غـــــــــــــاړه

لکه خپور شي په جګړه دستار د چا

څلورم : د محسوس تشبیه له معقول سره:

لکه دا بیت:

یا پر جستجوي زما هسي خندا کا

لکه خاندي پر تدبیر باندي تقدیر

مفروقه او ملفوفه تشبیه:

په پورته تشبیه ګانو کي دوه رازه تشبیه راځي:

چي یوې ته ملفوفه او بلي ته مفروقه تشبیه وایي : ملفوفه تشبیه هغه ده چي د یوه بیت په یوه مصرع کي څو مشبه او بله مصرع کي څو مشبه به راوړه شي لکه حنان چي وایي:

دا څه زلفي څه رخسار او څه ذقن دی

څه سنبل او څه ګلاب څه نسترن دی

مفروقه تشبیه هغه ده چي په یوه بیت یا یوه مصرعه کي څو مشبه او څو مشبه به سره راوړه شي مثلاً بیا حنان وایي :

خوله غونچه، سترګي نرګس، زلفـــــي سنبل دي

خط ریحان دی، څه ګلزار په لاس راکښېووت

دوهم رکن : د تشبیه توري:

د تشبیه توري دري ډوله دي : حروف ، اسماء، افعال:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1)حروف:

په پښتو کي دا حروف د تشبيه دي : لکه ، غوندي، دود، ورته...

د لکه د توري مثال:

عبدالقادر وايي:

ګوندي بخت مي د دلبر د زلفو ږمونځ کا

که فلك ټوکرې ټوکرې لکه شمشاد کړم

د غوندي توری:

خوشحال خان وايي:

که زما په مرګ دي زړه دي تېغ راواخله

د قصاب غوندي مي بند پر بند جلا کړه

د دود توری:

لکه پيرمحمد کاکړ چي وايي:

ما له ياره سپينه خوله په خندا غوښته

ده له کسته د غونچګې په دود ونغښته

ورته توری:

دا توری په ادبياتو کي زما په سترګه نه شو، مګر په محاوره کي ډېر مستعمل دی : ستا کتاب زما کتاب ته ورته دی. يا نور...

(2)اسماء:

په پښتو کي دا اسمونه د تشبيه دپاره شته : شان، خېر، سيال.

د شان مثال:

عبدالعظيم وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستې په شان به سوځم ســــــــــرترپايه

چي تازه مي کړ خپل ځان وته نېران بيا

د ځېر مثال:

رحمان بابا وايي:

وړاندي هم ټوله ستــا په ځېر سرې وه

ته هم پاځه د هغو په ځېر همت کړه

د سيال مثال:

عبدالقادر وايي:

نمر له تانه منــــــــــــــور شو دا له نمره

ځوك به مياشت كا ستا له مخه سره سياله

(3)افعال:

په پښتو کي دا افعال د تشبيه دپاره راځې : ته وا ، ته به وايي، وائې ته چي وائې، تابه ويل:

د ته وا مثال:

مخلص وايي:

رامو نه وړو د پردو له کـــوره ګټه

يو د بل له جېبې کاړو ته وا غله يو

د ته به وايي مثال:

خوشحال خان وايي:

ته به وايي د ګلاب په ګل شبنـــــــــــــــم دی

چي باړخو دی د نماشتې په وخت خولې شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وائي مثال:

عبدالقادر وايي:

ژړ او سره نمرى اغوستي ګلرخانو

وايي سپروني ونيول ګلونـــــــــــــــه

تا به ویل مثال:

پر دې ښاغلي سپی داسي ګران وْ تا به ویل زوی ئې دئ.

د ته چي وايي مثال:

مدیر صاحب داسي پر چوکۍ ناست دی ته چي وايي د پرنګي سر ئې په توره وهلی دی.

د تشبيه اقسام د تشبیه د اداتو په اعتبار:

که په تشبیه کي د تشبیه ادات نه وي راغلي موکده ئې بولي، او که راغلي وي مرسله یا مطلقه ئګې بولي هغه چي د تشبیه توري نه وي پکښي راغلي لکه رحمان بابا چي وايي:

شام سحر مي دغه ستا زلفي رخسار

نور مي مه پوښته له شام او له سحره

مطلقه خو دمخه تېره شه.

(3)رکن د تشبيه وجهه:

د تشبیه وجه د مشبه او مشبه به تر منځ یو مشترکه معنی ده، چي په مشبه به کي به د اصليت او مشبه کي د فرعيت په توګه وي او دابه هم د ویونکي په نظر کي وي (6) د ویونکي نظر ځکه ضروری دي چي مثلاً که یو سړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يو پهلوان سره تشبه کړه شي که څه هم دا سړی په ډېرو شيانو کي لکه خوله، پزه، لاسونه، جسميت، او نورو کي پهلوان سره شباهت لري مگر د ويونکي نظر او مقصد غښتلوالاو قوت دی، دا د تشبيه وجه به يا د حقيقت له رويه وي لکه چي ووايو : احمد لکه زمری دی ! يعني په زړه ورتوب کي او يا به د تخيل له رويه وي لکه حسن او ښکليتوب (7) چي ووايو : مخ لکه سپوږمۍ دی.

د تشبيه د وجهه په اعتبار د تشبيه اقسام:

د تشبيه د وجهي په اعتبار تشبيه پر لاندي قسمو وېشلې شويده : تمثيليه او غير تمثيليه ، مجمله او مفصله، قريبه او بعيده.

تمثيليه تشبيه:

هغه ده چي د تشبيه وجهه ئې له متعددو شيانو څخه راوتلې وي لکه حميد چي وايي:

دا زما له غمه شين زړه پکښي خيال د يـــــــار د شونډو

هسي رنگ زيب و زينت کا لکه می په شنه پياله کښي

دلته د تشبيه وجهه له څو شيانو څخه راوتلې ده د زړه او پيالې له شينوالي، د شونډو او می د سوروالي څخه او دا چي شونډې او می دواړه د څکلو شيان دي او هم زړه د خيال او پياله د ميو ظرفونه دي ددې ټولو څخه د تشبيه وجهه راوتلې ده.

غير تمثيليه تشبيه:

هغه ده چي د تشبيه وجهه له مفرد شی څخه راوتلې وي لکه شمس الدين چي وايي:

د گلرخو په هوس شپې رونومــــــه

آموخته لکه شبنم په دا شبخون يم

مجمله تشبيه:

هغه ده چي تشبيه وجهه پکښي نه وي ذکر شوي مثلاً رحمان بابا وايي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هلال دی چي ليده شي په شفق کي

که په لاس د گل اندامي سپين وښی دی

مفصله تشبيه:

هغه ده چي د تشبيه وجهه ذکر شوي وي مثلاً حنان وايي:

تبسم ئې له دشنامه سره خوند کا

قدر ډېر لري ترخه چي شي شراب

تريخوالی د تشبيه وجه ده.

قريبه تشبيه:

هغه ده چي ببله فکره ويونکی يا آروېدونکی ته د تشبيه وجهه څرگنده شي عبدالقادر وايي:

که مو عمر د چمن تر گـــــــــــلو کم دی

د لاله غوندي سور مخ د زړه په داغ يو

بعيده تشبيه:

هغه ده چي د تشبيه وجهه تر ډېر وخت وروسته څرگنده شي لکه محمد هوتك چي وايي:

د بيلتون په تاريکوکي مي زړه شين شو

رڼا لمر د جام د ميو په ظـــــــلام را) 8(

لمر د شرابو سره تشبيه شويدی، په لومړی وار د تشبيه وجه سړی دستي نه شي موندلای څو ورته ډېر دقيق نه شي وروسته څرگندېږي چي شايد د تشبيه وجه به حرارت وي ... دا تشبيه په پارسي کي ډېره ده.

(4)رکن د تشبيه غرض:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تشبیه غرض د مشبه تعریف دی یعني د مشبه د حال بیان او وصف غرض دی لکه ښکلیتوب ، ښه والی، بدوالی او نور ځکه د تشبیه غرض اکثراً مشبه ته راجع کیږي، دا غرض پر څو ډوله دی :

لومړی دا چي د مشبه بدوالی غرض وي لکه چي حمید متملق او مداح او غوړه مال شاعر ته وایي:

لکه سپی چي په مردار شاوخوا کیږي

هسي ته کس وناکس په اسره ستایي

دویم دا چي د تشبیه غرض د مشبه د حال ایضاح او بیانول وي لکه علي خان چي وایي) : 9(

زه درپسي درسته شپه پټ ژاړم لکه پرخه

ته سبا خندان لکه ګل وازګړیوان د چایي؟

په دې بیت کي د تشبیه غرض د مین پټه ژړا او د معشوق خندا ده چي دواړه د مشبه حال باله کیږي.

دریم دا چي د تشبیه غرض د مشبه د حال د مقدار څرګندول وي لکه حمید چي وایي:

که ئې سپك کا عاشقي لـــكه بڼه

هغه کس تر کوه قاف دروند وګڼه

یا نور داسي مثالونه چي غرض پکښې ښکلیتوب زینت یا نور وي، مګر کله کله د تشبیه غرض مشبه به ته هم رجوع کوي دا هغه وخت چي د تشبیه د وجهي له رویه چي هره خواناقصه وي هغه مشبه به شي او غرض ځیني اکملیت او بشپړتوب وي، دې ته مقلوبه تشبیه هم وایي ځکه چي مشبه به د مشبه پر ځای راوړه شوی دی لکه رحمان بابا چي وایي:

دا هلال دی چي لیده شي په شفق کــــــي

که په لاس د ګل اندامي سپین وښی دی

په دې بیت کي هلال مشبه او وښی مشبه به دی، مګر په مشبه به کي د تشبیه وجهه ناقصه ده ځکه چي هلال خو تر وښي په ښکلیتوب کي اکمل دی خو د تشبیه غرض وښي ته راجع دی.

د تشبیه نور عمومي اقسام:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عموم طور تشبيه نور قسمونه هم لري چي مشهوره ئې اوه دی:

.1مطلقه تشبيه:

چي شرط او قيد ونه لري لکه د خوشحال دا بيت:

د اميد غوټۍ مي واړه شگفته شي

چي د دوويم پر ما لــــــــکه صبائي

.2مشروطه يا مقيده تشبيه:

چي يو شرط يا قيد پکښي وي لکه پيرمحمد کاکړ چي وايي:

مخ که دي گلشن دی يا څراغ دی يا سورگل

زه باندي بورا يم يا پتنگ يم يـــــــــــا بلبل

"که" په پښتو کښي د شرط توری دئ .

.3تشبيه تفصيل:

چي يو شی د بل شي سره تشبيه کړي بيا بيرته ووايي چي داسي نه ده او د مشبه به افضليت ثابت کړي مثلاً خوشحال وايي:

چي و مخ وته دي گورم لکه لمر هسي ځليږي

قربان دي تر جمال شم په معنی تر لمره غټ يې

.4د تسوياَ تشبيه:

چي د يو شي صفت د مطلوب له صفته سره مساوي وباله شي لکه گل محمد هلمندی چي وايي :

لکه څښي چي دي ستـــــــا پر مخ پريشاني

هسي شان مي د خاطره پريشاني ده) 10(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.5د اضمار تشبیه:

د اضمار تشبیه داده چي تشبیه مضمره وي لکه پیرمحمد کاکړ چي وايي:

محبوبا پر پالنگ واوښته په خوب کي

که هوسۍ وه د بهار پر گلـــــو رغښته

.6کنایه تشبیه:

کنایه تشبیه هغه ده چي د تشبیه توری وغورځول شي او یوازي مشبه به راوړه شي لکه عبدالعظیم چي وايي:

سپیني مرغلري د گلاب په گـــــــــــل بهیږي

روغ زړه مي غوځیږي چي اوریږي له نرگسه

.7معکوسه تشبیه:

د عکس تشبیه داده چي دوه شیه یو له بل سره تشبیه کړی شي رحمان بابا وايي:

پخواني هم ټوله ستا په ځېر سړي وه

ته هم پاځه د هغو په ځېر همت کــــړه

دوهم اصل مجاز:

مجاز لغتاً د لاري او تېرېدو معنی ورکوي او اصطلاحاً د لفظ هغه معنی ده چي حقیقتاً دده دپاره نه وي وضع شوي یعني مجاز د حقیقت عکس دی نو حقیقت باید وپېژنو:

حقیقت:

حقیقت د لفظ هغه معنی ده چي دده دپاره وضع شوي وي لکه د زمری لفظ چي د یوه ځېرونکي حیوان دپاره ټاکل شویدی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حقیقت اقسام:

حقیقت پر څلور ډوله دی : عقلي ، لغوي ، شرعي ، اصطلاحي یا عرفي.

عقلي حقیقت : هغه دی چي د یوه لفظ نسبت داسي شی ته وشي چي ویونکي په عقل منلی وي لکه څوك چي ووایي " خونه بناء جوړوي" "ور ترکاڼ تراشي"

لغوي حقیقت هغه دی چي یو لفظ په لغت کي د یو شي دپاره وضع شوی وي لکه د "اور لړوني" کلمه چي د آتش کاو دپاره راغلې ده.

شرعي حقیقت:

هغه دی چي په شرع کي دیني او شرعي امورو ته یو لفظ وټاکل شي لکه د "نمونځ" لغت چي په لغوي حقیقت کي د "نمانځني" څخه چي د احترام او ستایش په معنی دی اخیستل شویدی مگر په شرعي حقیقت کي د څو مخصوصو اقوالو او افعالو دپاره راوړل کیږي.

عرفي حقیقت:

هغه دی چي په عام عرف کي کوم لفظ د یو شي دپاره ټاکل شوي وی لکه د "مېړه" لغت چي له لغوي حقیقت له رویه هر نارینه ته ویل کیږي مگر په عرف کي د ښځي د سړي یعني شوهر په معنا هم راځي.

علاقه:

د حقیقي او مجازي معنی په منځ کي باید ضرور یو علاقه او قرینه وي که علاقه په منځ کي نه وي د هغه لفظ استعمال په مجازي معنا غلط دی مثلاً که څوك کتاب ته اشاره وکړي او ووایي : "دا آس دی" دلته مجاز بالکل غلط دی، ځکه چي د آس او کتاب په منځ کي هیڅ علاقه نسته او که یوه زړه ور او جنګي سړي ته اشاره وکړي او ووایي "دا زمری دی" دلته مجاز درست دی ځکه چي د دوی په منځ کي زړورتوب او شجاعت علاقه ده. نو که پدې علاقه کي تشبیه وه مستعار مجاز ورته وایي او که نه وه مرسل مجاز ئې بولي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجاز اقسام:

مجاز پر دوه قسمه وويشل شو:

.1مستعار مجاز

.2مرسل مجاز

لومړی مستعار مجاز:

مستعار مجاز پر څو استعارو مشتمل دی. او استعاره په لغت کښي عاريه غوښتل دي او په اصطلاح کي يو لفظ د هغه شي دپاره استعمالول دي چي په حقيقت کي د هغه دپاره نه وي وضع شوی مګر ددوي په منځ کي به د تشبيه يوه علاقه وي.

د استعارې ارکان:

استعاره درې رکنونه لري : يو مستعار منه (يعني مشبه به ) بل مستعار له (يعني مشبه) چي دوي دواړو ته په عربي طرفان وايي او دريم رکن مستعار باله کيږي چي هغه د تشبيه وجه ده او په عربی جامع هم ورته وايي.

د استعارې ډولونه:

استعاره د طرفينو په اعتبار دوه ډوله لري:

يوه ممکنه

بله ممتنعه

(1)ممکنه:

ممکنه هغه ده چي د تشبيه دواړي خواوي يعني مستعار منه او مستعار له يوه شي سره يوځای کېدلای شي لکه د علم تشبيه له ژوند سره او د ناپوهی تشبيه له مړيني سره ځکه چي علم او ژوند په يوه سړی کښي سره يوځای کېدلای شي هم به سړی ژوند وي هم به عالم وي همدارنګه ناپوهي او مرګ دا استعاره وقافيه هم بولي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2)ممتنعه:

ممتنعه هغه ده چي ددواړو خواوو يوځاى کېدل امکان ونه لري او منع وي دا استعاره عناديه هم بولي لکه د ښه مړى تشبيه له ژوندي سره مثلاً وويل شي : "پښتون سيد جمال الدين ژوندى دى" او دا څرګنده ده چي ژوند او مګرګ په يوه وخت او يوه سړي که نه سره يوځاى کيږي او د عناديې د اقسامو څخه دا هم دى چي پر ضد د شي راوړه شي (11) لکه يو بې زړه سړى ته چي د استهزاء په توګه وويل شي : "زمرى دى" يا يو جاهل ته وويل شي : "د علم درياب دى" دا قسم تهکميه او تمليحيه هم بولي.

همدارنګه استعاره د طرفينو په اعتبار تحقيقيه او تخليه ته هم وېشله کيږي تحقيقيه هغه ده چي مستعار له حقيقي وي نو که محسوس وي لکه اړخګۍ د کوچنۍ غونډۍ دپاره او که عقلي وي لکه د نور استعاره د عقل دپاره، او تخيله هغه ده چي مشبه يوازي ذکر شي، خو د مشبه به ځيني لوازم ورسره وي لکه حنان چي وايي:

پر عصا نرګس تکيه کړې ده ولي ؟

شوه ورپېښه ستا د سترګو بيماري

نرګس مستعار له او بيمار مستعا ر منه دى، لکړه لګول د مشبه به يعني مستعار منه له لوازمو څخه دى.

استعاره د جامع په اعتبار:

د جامع يعني د تشبيه د وجه په اعتبار هم پر دوه ډوله ده : يوه مبتذله استعاره، بله بعيده استعاره.

مبتذله استعاره چي عاميه ئې هم بولي هغه ده چي جامع پکښي څرګند وي. او بعيده استعاره چي غريبه او خاصه ئې هم بولي هغه ده چي جامع پکښي ذکر شوى نه وي لکه چي وايو : "احمد په لوى لاس ځان بېکاره کوي" دلته په لوى لاس د قصداً په عوض استعاره شوى ده خو د تشبيه وجه ئې څرګنده نه ده. يا لکه کاظم خان شيدا چي وايي:

د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته

نه ړدم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو

کمند ذکر شوى مراد ځيني شغلې دي او جامع پکښي نرى والى او اوږدوالى دى چي ذکر يې نه دى راغلى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعاره د طرفینو او جامع په اعتبار:

یعني استعاره د مستعار منه او مستعار له او جامع درو سرو سره په اعتبار پر دوله ډوله ده : یوه مصرحه بله مکنیه مصرحه هغه ده چي مستعار منه یعني مشبه به ذکر شي او مستعار له یعني مشبه حذف وي لکه خوشحال خان چي وايي:

چي د غوړو در ئې نه وینم په سترګو

دُر ګوهر مي په هر هر باڼه سفته شي

په دوهمه مصرع کي در ګوهر مستعار منه راوړه سوئ مراد څني اوښکي دي چي مستعار باله کیږي.

دوهمه مکنیه هغه ده چي مستعار له ذکر شي او مستعار منه حذف وي خو د مستعار منه له لوازمو څخه یو شی ذکر شي، حمید وايي:

زړه مي له غیرته په کـــــــــوګل دننه دود شي

ږمونځ چي دی بې فهمه وهي ګوتي په کاکل

ږمونځ ذکر شوي مراد "مشاطه" ده او ګوتي وهل د مستعار منه له لوازمو څخه بلل کیږي دا څکه مکنیه بولي چي مشبه به پکښي پټ دی مکن هم پټوالي ته واي.

د مصرحې ډولونه:

مصرحه استعاره عموماً اوه ډوله لري : عنادیه، وفاقیه، اصلیه، تبعیه، مطلقه، مجرده، ترشیحیه، عنادیه او وفاقیه خو دمخه درته وښودلي شوې، اصلیه او تبعیه به هم وروسته په بل قسم کي درته راوړه شي، ترشیحیه، مجرده، مطلقه به دلته بیان کړو:

مطلقه استعاره:

مطلقه استعاره هغه ده چي خاص په یوه خوا (مستعار له یا مستعار منه) پوري اړه ونه لري بلکي دواړو خواوته شامله وي یعني داسي استعاره راوړه شي چي هم د مستعار له اوهم مستعار منه مناسبت پکښي وي لکه

خوشحال خان چي وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زمريو مړنتوب په لښکـــــــــــر نه وي

مټ ئې هرکله يوازې پر خپل ځان شي

زمرى مشبه به مراد ځيني زړه ور سړي دى، " پر ځان مټ" هم د زمرى او هم د زړه ور سړي سره مناسبت دى همدارنګه مړنتوب.

مجرده استعاره:

مجرده استعاره هغه ده چې يوازې د مشبه به مناسبت راوړه شي لکه د خوشحال خان دا بيت:

مست هاتيان خوني زمريو تورى وکښې

چې د سرو تر ويرې تېر شي کار آسان دى

مست هاتيان او خوني زمرى مشبه به مراد ځيني جنګيالي زلميان دي چې مشبه به باله کيږي او تورى کښل د زلميانو سره مناسبت دى.

ترشيحيه استعاره:

ترشيحيه هغه ده چې د مشبه به مناسبت تر قرينې وروسته راوړه شي لکه رحمان بابا چې وايي:

نيمه شپه ئې يار تر سره پوري کښيني

لکه شمعه چې څوك بله پر مزار کـــــا

مزار مشبه به مراد ځيني بيده عاشق دئ، د مشبه به شمع ده او قرينه ئې سرته کښېناستل دي.

استعاره د لفظ په اعتبار:

د لفظ په اعتبار استعاره پر دوه ډوله ده اصليه او تبعيه:

.1اصليه هغه ده چې د مستعار لفظ پکښې جامد وي لکه قلندر چې وايي:

نه دي چا ليدلي صبح وشام په يوه ځـــــــــــــاى کي

ماته لمر ښکاره شو ستا د زلفو په تورتم کي) 12(

ذکر لمر مراد مخ دى، او لمر جامد هم دى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(2)تبعیه:

تبعیه هغه ده چي د مستعار لفظ مشتق وي لکه عبدالقادر خان چي وايي:

له غیرته مي زړګي ټوکر ټوکر شي

چي ئې ګوتي په وېښتو وهي شانه

ګوتي وهل مشبه به مراد ځیني ږمونځول دي او ګوتي وهل مشتق دی.

دوهم مرسل مجاز:

مرسل مجاز هغه دی چي د تشبیه علاقه ونه لري بلکی له ځانه مخصوصي نوري علاقې ولري.

د مرسل مجاز علاقې څو دي ؟

د مرسل مجاز په علاقو کي اختلاف دی څوك وايي اتلس دي څوك وايي 27 دي (12) څوك وايي 36 دي (13) خو په پښتو کي دا 25 پیدا شوي چي هغه دادی : سببیت، مسببیت، کلیت، جزئیت، لازمیت، ملزومیت، اطلاق، تقلید، عمومیت، خصوصیت، ظرفیت، مظروفیت، بدلیت، مبدلیت، آلیت، مجاورت، مصدریه، مظهریه، علیه، معلولیت، متعلقیه، دالیه، مدلولیت، سلیقیت، لاحقیت.

(1)سببیت:

د سببیت علاقه داده چي ذکر سبب شي مراد ځیني مسبب وي لکه خوشحال خان په دې بیت کي:

چي دا اوښکي مي غښازي د فراق دي

زه ئې ځکه په ګـــــــرېوان کښي تویوم

په ګګرېوان کي د اوښکو تویول راوړه شوی دی مراد ځني پټوالی دی او ګریوان سبب د پټوالي دی.

(2)مسببیت:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسببیت علاقه داده چي ذکر مسبب شي مراد ځيني سبب وی لکه د خوشحال خان په دې رباعي کې:

چـــــــــــي آئينې ته ښکاره ديدار کړي

آئينه درسته سره گـــــــــــــــــلزار کړی

چي شونډې کښېږدي د جام په مورگو

اوبه په جام کښي رب انار کـــــــــــړي

ذکر مسبب چي رب انار دی مراد ځيني سبب چي د شونډو د سوروالی انعکاس دی.

(3)کليت:

کليت هغه دی چي ذکر کُل شي مراد ځيني جز وي لکه د خوشحال خان دا بيت:

گوتي ومنډه په غوړو تـــــــــــــــري تېرېږه

ذاکر زر ذکرونه کا زړه ئې په دام کښي

گوتي ذکر دي مراد ځيني يوه گوته ده

(4) .جزئيت:

جزئيت دادی چي ذکر جز شي مراد ځيني گل وي رحمان بابا وايي:

وړاندي سرای لره توښه تړه رحــــمانه

څو سفر دي کړی نه دی له دې سرايه

ذکر سرای مراد ځيني دنيا يا عقبی ده.

(5)لازميت:

لازميت دادی چي ذکر لازم شي مراد ځيني ملزوم وي لکه د لمر ختو پروخت چي وويل شي : "رڼا راپورته شوه" يعني لمر راپورته شو، ذکر رڼا مراد ځيني لمر دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(6)ملزومیت:

ملزومیت دادی چي ذکر ملزوم شي مراد ځیني لازم وي لکه د ځانښت په وخت کي چي څوك وایي : "لمر سرای ته را ولوېد" یعني د لمر رڼا سرای ته را ولوېده، ذکر لمر مراد ځیني رڼا ده.

(7)اطلاق:

اطلاق دادی چي ذکر مطلق شي، مراد ځیني مقید وي لکه خوشحال چي وایي:

د سبا باده ! گـــــــــــــذر په چمن بیا کړه

په چمن کښي رنګا رنګ ګلونه بیا کړه

د سبا باد مطلق ذکر شوي مراد ځیني د پسرلي د سبا باد دی.

(8)مقید:

مقید هغه دی چي ذکر مقید شي مراد ځیني مطلق وي لکه حمید چي وایي:

که آسمان د مهجورانو په ځان ژاړي

چي دا آه د چا په ځان وي نه دي ګرم

دلته ذکر ژړا چي د انسان په اوښکو پوري مقیده ده مراد ځیني مطلقي اوبه دي.

(9)عمومیت:

عمومیت دادی چي ذکر عام شي مراد ځیني خاص وي لکه خوشحال خان چي وایي:

د عشق غم لـــــه خلق پټ لره خوشحاله

څه ئې پټ کړم چي جهان ځیني خبر دی

ذکر جهان مراد ځیني مخصوص او شاوخوا خلك دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(10)خصوصيت:

خصوصيت هغه دی چي ذکر خاص شي مراد ځيني عام وي لکه يو باغوان چي وايي : "زما د باغ تاك نوی دی" ذکر يو تاك مراد ځيني ټول تاکان دي.

(11)ظرفيت : ظرفيت هغه دی چي ذکر ظرف شي مراد ځيني مظروف وي مثلاً وايو : "ناوه بهيږي يا واله بهيږي" ذکر ناوه او واله ده مراد ځيني اوبه دي.

(12)مظروفيت:

د مظروفيت علاقه داده چي ذکر مظروف شي مراد ځيني ظرف وي لکه دا چي چپراسي ته د اوبو ډك ګيلاس ورکو او ورته ووايو : "دا اوبه چپه که" ذکر اوبه مراد ځني ګيلاس وي.

(13)بدليت:

بدليت هغه دی چي ذکر بدل شي مراد ځيني مبدل وي لکه : پوروړي چي خپل پور اداء کي نو وايي : " ما پور له ځانه واړاوه" دلته اړول د اداء کول بدل راغلی دی.

(14)مبدليت:

مبدليت هغه دی چي ذکر مبدل شي مراد ځيني بدل شي لکه يو څوك چي دخپل پلار قاتل مړ کړي نو پښتانه وايي : "پلانکي خپل پلار واخيست" يعني د خپل پلار بدل ئې واخيست.

(15)آليت:

چي ذکر آله شي مراد ځيني هغه اثر وي چي ددې په ذريعه څرګنديږي لکه چي وايو : "د پلانکي په غوږه ژبه وغولېدم" يعني په خبرو ئې او ژبه د خبرو آله ده عبدالقادر خان وايي:

در پوهېږم چي په ژبه مي تېرباسې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي وييلپ شپ دا هســـــي مطولي

(16)مجاورت:

د مجاورت علاقه داده چي يو شی ذکر شي او مراد د هغه شي مجاور (ګاونډی) وي لکه د چا شونډي چي تر تبي وروسته ووزی نو وايي : "خوله مي ووتله" ذکر خوله مراد ځيني شونډي دي چي د خولې مجاور بللي کيږي همداشان وايي : "مرغلره پاك لمنې شځه ده" ذکر لمن مراد ځيني بدن دی.

(17)مصدريه:

مصدريه دا دی چي مجازي معنی دموضوع څخه صادريږي لکه سخي سړی ته چي ويل کيږي " په لاس کي خلاص دی" يا "دلوی لاس خاوند دی" يعني بخښوونکی دی، ذکر لاس مراد ځيني بخښه ده او لاس د بخښي د صدور محل دی.

(18)مظهريه:

مظهريه دا دی چي موضوع له د مجازي معني د ظهور ځای لکه چي وايي : "د احمد دموټ پېچلو سړی نشته" ذکر موټ مراد ځيني قوت دی يعني دده د قوت ساری نشته او قوت له موټه ظاهـريږي.

(19)عليه:

عليه دا دی چي ذکر علت شي مراد ځيني معلول شي لکه يو تږی سړی چي ووايي : "له تندي مي زړه اور واخيست" ذکر اور مراد ځيني حرارت دی.

(20)معلوليه:

چي ذکر معلول شي او مراد ځيني علت وي لکه چي وايي : " په دې

صندلۍ کي حرارت نشته" يعني اور نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(21)متعلقيه:

متعلقيه د لام په زېر دادى چي ذکر متعلق شي مراد څني متعلق وي لکه مصدر چي ذکر شي او مراد ځيني اسم فاعل يا اسم مفعول وي لکه چي وايو : " سيد جمال الدين سرترپايه علم وْ، يعني عالم وْ.

(22)داليه:

داليه دادى چي ذکر دال شي مراد ځيني مدلول شي لکه چي وايو: "د کتاب په تورو وپوهېدم" يعني په معنى ئې وپوهېدم، توري ذکر شوه مراد ځيني معنى ده.

(23)مدلوليه:

چي ذکر مدلول شي نو مراد ځيني دال وي لکه چي ووايي : "ما دا کتاب په معنى ولوست" يعني په الفاظو ، ځکه چي الفاظ لوستل کېږي او معنى فهمول کيږي.

(24)سابقيت : سابقيت يعني د پخوا په اعتبار يو شي ته کتل دي، لکه يو زلمى ته چي وايي : "هلکه دا کار مه کوه !" که څه هم اوس زلمى دى خو چي تيري شوي زمانې ته وکتل شي پخوا هلك وْ.

(25)لاحقيت:

لا حقيت يعني د راتلونکي زمانې په اعتبار يو شي ته کتل، لکه

عبدالقادر خان چي وايي:

نه ما څه کړيدي نه به څه کـــړمه

چي را کوې ئې هغه کـــــــومه

نوم د ژوندون مي نوم د علم دى

مړ يم عـــــــــالمه مړ يم مړ يمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم اوس مړ نه دی خو د راتلونکي زمانې په اعتبار چې ورته وکتل شي مري.

کنایه:

کنایه په لغت کښې د تصریح نقیض دی (13) او دبیان د علم دپوهانو په اصطلاح کنایه هغه ده چې د یو شي تعبیر په غیر صریح کلام سره وشي) .14(

د مجاز او کنایې فرق:

په مجاز کې د حقیقي معنا مرادول روا نه دي او په کنایه کې روا دی چې حقیقي معنا هم مراد شي.

د کنایې غرض : د کنایې غرض د لفظ تحسین ، دکلام خوږ والی او د اروېدونکي ابهام دی.

د کنایې اقسام:

کنایه پر درې قسمه ده : لومړی هغه ده چې کنایه له موصوفه څخه وي یعني دکنایې څخه ذاتاً موصوف مراد وي لکه عبدالعظیم چې وایي:

سپیني مرغلري د ګلاب پر مـــــــــــخ بهېږي

روغ زړه مي غوځېږي چې اوریږي له نرګسه

په پورته بیت کې مرغلري د اوښکو څخه د ګلاب ګل له مخه څخه، نرګس له سترګو څخه کنایه دی چې اوښکې او مخ او سترګې موصوف باله شي.

د کنایې دوهم قسم له صفته څخه کنایه ده یعني له کنایې څخه مقصد صفت دی لکه رحمان بابا چې وایي:

که د عقل څه اثر لـــــــــــــــــري و سر ته

لاس په سر مه شه د هر ګیډي و در ته

لاس په سر کېدل کنایه له سوال او طمع څخه دی، طمع او سوال صفت دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د كنايې دريم قسم له نسبته څخه كنايه ده اوهغه يو امر د بل امر دپاره اثبات يا نفي كول دي. لكه دا چي ووايو : "د احمد سترګي په آسمان كي دي" يعني متكبر دى كه څه هم صريحاً متكبر نه وي ورته ويل شوي، مګر دده وسترګو ته ئې په آسمان كي ځاى وټاكه او دهر چا سترګي چي په آسمان كي وي هغه متكبر دى نو احمد متكبر شو بانسبته كنايه شوه.

دكنايې ملحقات:

د بديع په علم كي ځيني انواع شته چي له كنايې سره خورا لږ اختلاف لري، ځكه ئې نو دالته راوړو هغه دادى : تعريض، توريته، استخدام ، ادماج پر اعته الطلب او نور...

(1)تعريض:

تعريض دادى چي له كنايې څخه داسي موصوف مراد شي چي هغه ذكر شوى نه وي او تعريض د هغه عبارت راوړل دي چي لفظ ئې پر يو شي دلالت كوي اود مفهوم او اشارې له لاري بل شى مرادوي لكه څوك چي بې نوبته كار يا خبري كوي او دا متل ورته ووايه شي : "ژرنده كه د پلار ده هم په وار ده."

(2)توريته:

دې نوع ته ايهام هم وايي، او دا داسي دى چي په نظم يا نثر كي يو لفظ استعمال كړي چي دوې معناوي ولري، يوه ليري، بله نژدې. لومړى وار د ويونكي يا اروېدونكي ذهن نژدې معنى ته ولاړ شي مګر مقصد ليري معنى وي. لكه پير محمد كاكړ چي وايي:

جدايي په غم شريك كړم د غمجنو

د هر چا پر غاړه ژاړم لـــــــــــــكه نى

د غاړي لفظ دوې معناوي لري نژدې معنى ئې (ګردن) او ليري معنا ئې (طرز، اداء، روش) دى. چي د شاعر مقصد هم ليري معنى ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(3)ادماج:

ادماج هغه دی چي يو داسي کلام راوړه شي چي دوې معناوي ولري مگر په دوهمه معنی تصريح نه وي شوې د ادماج او توريته فرق دادی چي په توريته کي يولفظ راځي چي دوې معناوي ولري مگر په ادماج کي يو کلام راځي لکه عبدالقادر خان چي وايي:

سر په لاس درپسي درومم نه قبليږي

نصيب مه شه د چا دا سرگـــــــرداني

سرگرځول يا سرگرداني دوې معناوي لري دلته پرېشاني غرض ده.

(4)براعت الطلب:

براعاً الطلب چي حسن طلب ئې هم بولي او د تعريض يو قسم دی يعني په ښه صورت شی غوښتل لکه په دې لنډۍ کښي:

پر دېوال هســـــــــــــــــــــکه شه خوله راکه

يو همزولتيا ده بل منت درته کومــــــــــــه

که دي خوله راکــــــــــــــــــــړه څه به وشي

زړه به مي ښه شي خوله به بيا درسره وينه

تبصره:

کنايه هم ليري او نژدې لري د نژدې مثالونه ذکر شوه او ليري کنايه لکه دا متل : "ښځه له اجاغه غواړه،اور و لنده بل ته ورکوه" اجاغ کنايه له مهمانداری څخه دی يعني سخا، ځکه چي اجاغ پر اور دلالت کوي او ډېر اور بلول پر ډوډی پخولو او ډوډی پخول پر سخا دلالت کوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمن ليکونه

(1)علم الادب يسوعي ـ لومړی جز 56 مخ.

(2)مفتاح العلوم ـ سکاکي 140 مخ.

(3)علم الادب 56 مخ.

(4)علم الادب يسوعي ـ 57 مخ مختصر المعاني 313 مخ او نور.

(5)نوادر الاصول في شرح الفصول.

(6)نوادر الاصول فی شرح الفصول 230.

(7)علم الادب 65 مخ.

(8)پټه خزانه خاتمه.

(9)د علي خان دېوان مخ

(10)د ګل محمد دېوان قلمي.

(11)حدائق البلاغه 30 مخ.

(12)د قلندر قلمي دېوان.

(13)قطوف الدانيه فی علوم ثمانيه 211 مخ.

(14)قطوف الدانيه فی علوم ثمانيه 211 مخ.

علم الادب يسوعي ـ لومړی جز 87 مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قافيې علم

قافيه په لغت کي وروسته او د غاړي پای ته وايي، مثلاً په عربی کي وايي "قفوت فلاناً" يعني په پلانکی پسي ولاړم.(1) او ځکه چي په شعر کي تر ټولو آخر او وروسته راځي او بيت په تماميږي نو اصطلاحاً هغه علم وباله شو چي د نظم له اواخرو څخه بحث کوي، او قافيه د بيت د وروستنۍ کلمې آخر ته وايي مگر په دې شرط چي هغه کلمه عيناً په يوه معنی د نورو بيتونو په آخر کي تکرار نه شي لکه عبدالقادر چي وايي:

که خبر مي شی له خوږ زړگـــــــــــــــگيه ته

شپه او ورځ به په نارو شي لـــــــــــــــکه زه

څو تاونه باندي تېر شي چـــــــــــــي پخېږي

د پخو په حال خبر نه دي اومـــــــــــــــــــه

که دي سوی چيري زړه د عشق په اور وي

ستا په هاله زړه په سويو بانـــــــــــــدي سه

عام عالم له حقيقته خبر نه شـــــــــــــــول

د تقليد خندا کوي لـــــــــــــــــــــــکه کانه

گوره بيا د کوم کم بخت سړي په خوله شو

سل ښکنځل راته کــــوي چي غواړم خوله

په پورته بيتو کي ( ته، زه، مه، سه،نه) د قافيې توري دي، که څه هم (هـ) تکرار راغلې مگر دا (هـ) ملفوظي نه ده بلکي د (زور) بدل اوعوض باله کيږي او په ټولو بيتو کي قافيه يوحرف او حرکت دی مگر که وروستۍ کلمه تکرار راغلې وه هغه نو بيا رديف بولي او قافيه تر رديف دمخه توری دی، لکه يونس چي وايي:

څو ونه ښانده په مينه باندي سر چا

کله بيا موند شرين وصل د دلبر چا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "چا" کلمه تکرار راغلې نو ردیف باله کیږي، او قافیه د "سر" او "دلبر" په کلمو کې د "ر" توری دی او څنګه چې تر "ر" دمخه حرف متحرك دی نو په دې بیت کې هم قافیه یو حرف او یو حرکت دی او کله د قافیې تر وروستی توري دمخه توری ساکن وي لکه رحمان بابا په دې بیت کې:

زغره واغونده ملا وتړه د جنګ

هله پسه مرکه کـــــــــوه د ننګ

د "ګ" توری قافیه ده، تر ګاف د مخه "ن" ساکن دی، نو دلته قافیه دوه توري او یو حرکت دی او کله د قافیې تر وروستي توري دمخه دوه توري ساکن وي چې په دې صورت کې نو قافیه دوه توري او یو حرکت دی، لکه د مېرمن حلیمې د خوشحال خان د لور دا بیت:

د آشنای په فکر خوښه هسې شان شوم

نه پوهـېږم چې ممتاز که نورجهان شوم

د "شوم" کلمه ردیف دی، نون او الف ساکن دي شین متحرك دی نو قافیه دوه توري او یو حرکت دی همدارنګه که د قافیې د کلمې وروستی توری د قافیې د اصلي کلمې څخه نه وي او د کوم علت په واسطه پورې نښتی وي نو هغه اضافه کلمه هم قافیه بلل کیږي لکه د مېرمن زینبې د میرویس خان نیکه د لور د هغې مرثیې په یوه بند کې چې دخپل ورور شاه محمود په مرګ ئې ویلې ده د "نا" توری چې د ترنم دپاره دی:

ځوان وْ، مېړه د توری جنګ ونا

ولاړ د کام په نام وننګ ونا

دښمن له ده په وینو رنګ ونا

پر میدان شیر وْ یا پلنګ ونا

افسوس چې مرګ دده په خوا سونا

قندهار واړه په ژړا سونا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر باید د قافیې کم شیان وپېژني ؟

هر ناظم ته د قافیې پنځه شیان پېژندل په کار دي، د قافیې توري، حرکات، انواع، حدود او عیبونه.

(1)د قافیې توري او د هغو نومونه:

د قافیې توري (9) دي او نومونه ئې دا دي : روی، ردف، قید، تاسیس، دخیل، وصل، خروج، مزید، نائر:

د روی توری:

د قافیې د کلمې آخر توری روی بولي، اود قافیې بنسټ پر ولاړ دی خو چې دا توری د نفس کلمې څخه وي، رحمان بابا وایي:

ته چې ماته وایي پر څه کـــــــوې ژړا

نه در معلومېږي دغه خپل جوروجفا

په "ژړا" او "جفا" کې الف د کلمې اصلي توری دی، نوځکه ددې بیت روي "الف" دی او که د نفسي کلمې څخه نه وي هغه د روي توری نه شي کېدلای لکه د پښتو په اشعارو کې د ترنم نون چې اکثگره د بیت په آخر کې راځي لکه : "کوینه" یا "ځینه" . روی د روا څخه اخیسته شویدی او روا هغه رسۍ ده چې داوښ بار په ترې نو ځکه چې په روي ټول بیتونه سره تړل کیږي مجازاً دلته راوړه شو) .2(

د قافیې نور اته توري ځلور تر روی د مخه راځي اوځلور وروسته هغه چې دمخه راځي دادي:

د ردف توری:

هر "الف، واو، یا" چې د روی تر توري دمخه راشي هغه ته ردف وایي او هغه قافیه نو مردفه قافیه بولي خو په شرط ددې چې دالف دمخه توری زورناك او تر واو دمخه توری پېښ ناك او تر "یا" دمخه توری زېرناك وي. دا درې واړه مثالونه د رحمان بابا په دې بیتو کې وګورئ:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "الف" مثال:

هسي مست يم ستا د شونډو په شراب

چي به نه وي بال دا هسي مست خراب

د "واو" مثال:

ورقونه لټوم د هر مــــــــــــــــــــــــــــــــــــــکتوب

پکښي غواړم خط وخال د خپل محبوب

د "يا" مثال:

دنيا دار د دنيا کـــــــــــــار کا زه ددين

خوانين زما په ملك دي خوشه چين

په لومړی بيت کي "ب" روی او "الف" ردف او په دوهم بيت کي "واو" ردف دی او په دريم بيت کي "نون" روي او "يا" ردف دی.

او كه تر ردف وروسته دوه ساكنه راشي لكه دوست، پوست، جوړ، كور يا نوري داسي كلمې نو ځينو پوهانو د ردف وروسته توری هم په ردف کي داخل بللی دی او دا نو زايد ردف بولي، خواجه نصيرالدين طوسي پخپله رساله "معيار الاشعار" کي دا توري په روی کي داخل ګڼي او دا روی نو مضاعف روی بولي. په پښتو کي د ردف "واو" پر دوه ډوله راځي : معروف او مجهول.

قيد:

د قافيې بل توری چي تر روی د مخه راځي قيد بولي او قيد هر هغه ساكن توری دی چي بېله فاصلې تر روی د مخه راشي مګر دا ساكن بايد "واو، يا او الف" نه وي لكه : جنګ ، ننګ، درد، غبرګ، چرګ او نور ... او كه "الف" او "واو" او "يا" هم وي بايد تر الف دمخه زور او تر "يا" دمخه زېر او تر "واو" دمخه پېښ وي، د قيد توری اختلاف روا دی لكه بحر او شهر چي سره راوړه شي (3) سعدي وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مصر وچه شام و چه بر و چه بحر

همه روستایند شیراز شـــــــــــــهر

خو د مخرج قید هم شرط دی او یوه بله خبره هم سته چي دا اختلاف تحسین نه دی بلکي په غزل کي خو قبیح دی او په مثنوي او نورو کي روا دی مگر تحسین نه گڼل کیږي.

تاسیس:

تاسیس هغه ساکن الف ته وایي چي تر روی دمخه راشي مگر دده او دروی د توري تر منځ بل متحرك توری واسطه وي لکه ځناور، دلاور، حاصل، ساتل، او نوري کلمې ... او تاسیس په قافیه کي د لزوم مالایلزم حکم لري، یعني که ئې التزام ونیسي قاقیې ته نقص نه رسوي.

دخیل:

دخیل هغه توری دی چي د "روی" او "تاسیس" په منځ کي واسطه وي لکه د ځناور د کلمې واو.

وصل:

د وصل توري بېله فاصلې تر "روی" وروسته راځي نو که د اضافت توری وي او که د نسبت او که د جمع او که د تصغیر یا ربط توری وي مثلاً د عبدالقادر په بیت کي د جمع واو د وصل توری دی، دی وایي:

تر قربان شه سل ښادی د ښادمنو

ربه مه وړه خپل غمونه د غمجنو

خروج:

خروج هغه توری دی چي تر وصل وروسته بېله فاصلې راځي، خوشحال وایي:

اې ! چي مخ دي ښایسته دی په خالونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا خپل شایست ډېر مه کوه خیالونه

مزید:

مزید هغه توری دی چي تر خروج وروسته راشي لکه په پورته بیت کي د (هـ) توری.

نائر:

نائگر هغه توری دی چي بې فاصلې تر مزید وروسته راشي لکه په پارسي کي د پرداختنیستیش ـ درسا ختنیستیش (4) دا توری په پښتو شعر کي ډېر لږ راځي.

(2)د قافیې د تورو حرکات او د هغونومونه:

دا شپږ دي : رس، اشباع، حذو، توجیه، مجری، نفاذ:

رس:

د تاسیس دالف دمخه حرکت ته "رس" وایي او رس په لغت کي په یو شي په پټه او ورو ورو پیل کول دي او دا حرکت به خامخا فتحه وي، لکه په "ځناور" کي د "نون" حرکت.

اشباع:

د دخیل حرکت ته اشباع وایي لکه په "دلاور" کي د "واو" توری.

حذو:

حذو د ردف د توري دمخه حرکت ته وایي، لکه د "ت" حرکت په "تور" کي او حذو برابر "واو" ته وایي.

توجیه:

د ساکن روی دمخه حرکت توجیه بولي او ساکن روی ته مقید روی وایي لکه په "سفر" کي د "ف" حرکت.

مجری:

د روی حرکت مجري بولي، لکه : ځمه، کومه.

نفاذ:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفاذ د وصل حرکت دی، مګر په پښتو او پارسي کي دا لازمه نه ده چي وصل به حرکت لري. که "خروج" راغلی وْ، البته حرکت لري او که نه وْ راغلی نه ئې لري.

(3)د قافيې قسمونه:

قافيه پر دوه ډوله ده : يوه مطلقه او بله مقيده، مطلقه هغه ده چي روی متحرك وي لکه : کومه،تلمه او نورو کي او مقيده هغه ده چي روی ساکن وي، نوپه دې دواړو قسموکي که د روی توری يوازي راغلی وْ، او دقافيې نور توری ورسره نه وْ، دا قافيه مجرده بولي، او که کوم بل توری ورسره راغلی وْ نوقافيه هغه توری ته منسوبيږي، مثلاً: که روی مقيد تنها وی مجرده ئګې بولي او که د ردف د توری سره راغلی وي مقيد ردف ئې بولي همدارنګه نور...

د قافيو حدود:

قافيه د وزن او حدود په اعتبار پر پنځه ډوله ده:

مترادفه قافيه:

چي دوه ساکن بېله فصله سره راغلي وي لکه د "ډېر" په توري کي.

متواتره قافيه:

چي و متحرك د دوو ساکنو په منځ کي واسطه وي، لکه محکم او محرم چي قافيه راوړه شي.

متدارك قافيه:

چي د دوو ساکنوپه منځ کي دوه متحرك راشي، لکه د "ځپلانه" توری چي قافيه شي.

متراکبه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي درې متحرك د دوو ساكنو په مينځ كي راشي، تراكب يو پر بل كښېناستل دي.

متكاوس:

چي څلور متحركه د دوو ساكنو تر مينځ راوړه شي، دا قسم مخصوص په عربی پوري دی، په پښتو كي ئې ما مثال ونه ليد، متكاوس د ګڼ او انبوه په معنی دی.

د قافيې عيبونه:

دا څو رازه دي چي مشهور ئې دادي : افوا، اكفا، سناد، ايطا، تضمين، اجازه، غلو، عدول:

افوا:

د مجری يعني روی د حركت اختلاف ته قلندر وايي:

هوسيه وخورې د سترګـــــــو توری

پر لوړ ولاړه ښكاريان په ګورې

ښكاريان لا كله د ګور بنديان شوه

خيزې ولاړې دي تشي تـــــــــــوري

"توری" او د "يا" په حركت كي اختلاف سره لري.

اكفا:

د روی د توري اختلاف ته اكفا وايي، چي دا ډېر بد عيب دی، لكه : رقاص اوخناس يا روح او پوه يا ټك اوتږګ ، لحاظ او ابراز چي سره راوړه شي.

سناد:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سناد د ردف اختلاف دی لکه کار اوکور چي سره راوړه شي، دا عیب په پښتو او پارسي کي ډېر بد دی، اوهیڅ روا نه دی، مګر په عربی کي جواز لري مثلاً په عربی کي جمیل او نزول په قافیه کي سره راتلای شي.

ایطا:

د قافیې د آخر توري تکرار دی په یوه معنی دا دوه قسمه دی : جلي، خفي . جلي هغه دی چي تکرار ئې ښکاره وي لکه ستمګر او خواستمګر. خفي هغه دی چي تکرار ئې نه وي ښکاره لکه : دانا، بینا. جلي ایطا په قافیه کي عیب دی.

تضمین:

دادی چي قافیه په وروستني بیت پوري معلقه شي، یعني لومړی بیت بېله دوهم بیته خپله معنی پوره نکړي لکه عبدالقادر خان چي وایي:

لاړم وباغ ته په نیت دګـــــــــــلو

د پرېکولو آواز د بلبلــــــــــــــــو

وکړ دستي مي له لاســـــه پرېوتي

هس رنګ مست شوم لکه په ملو

او دا ځکه عیب دی چي دادب پوهان وایي چي د نظم هر بیت باید دومره مستقل وي چي معنا تمامه کړي البته دکلام د سباق د معنی په ترتیب کي به د نورو سره شریك وي.

اجازه:

دا عیب داسي دی چي دوه مختلف روی سره راوړه شي لکه : کاسب او فاضل.

غلو:

چي د روی توری یو ځای ساکن او بل ځای متحرك راوړی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدول:

عدول څو ډوله دی : یو دا چي شاعر د وزن دصحت دپاره په لغت کي تصرف ورکړي بل دا چي په قصیده کي له یوې قافیې څخه وبلي قافیې ته ولاړ شي، دا عیب دی مګر که د قصیدې په مګینځ پخپله شاعر دې تغیر ته اشاره وکړي عیب نه دی، د ځانه څخه د شعر په پای کي لغت جوړول یا پر اصلي لغت څه شی اضافه کول یا د کوم لغت معنی اړول یا بېځایه استعمالول هم عدول دي.

## لمن لیکونه

.1المعجم فی معائیر اشعار العجم 153 مخ

.2المعجم فی معائیر اشعار العجم 153 مخ

.3حدائق البلاغه 121 مخ

.4المعجم فی معائیر اشعار العجم 212 مخ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وينا يا خطابه

تعريف:

وينا چي په عربي ئې خطابه بولي هغه فن دی چي د هغه په واسطه وينا كوونكي پخپله وينا خپل اروېدونكي قانع كوي. او خپل مطلب ته ئې رابولي، او تشويقوي ئې، ځكه نو خطابه په لغت كي د بل د پوهولو دپاره وينا كول دي، او په اصطلاح كي هغه صنعت دي چي د پل د اقناع دپاره كار ځيني واخيستل شي) .1(

موضوع:

وينا يا خطابه د نورو ادبي فنونو په شان كومه خاصه موضوع نه لري بلكي په هره موضوع كي وينا كېدالاي شي نو ځكه ټول موضوعات كه كُلي وي كه جزئي كه معقول وي كه محسوس د وينا د موضوع عنوان راتلای شي خو په دې شرط چي بلاغت پكښي وي) .2(

غرض:

د وينا او خطابې غرض د اروېدونكو اقناع او ترغيب دی، په هر كار كي چي وي او هر كار ته چي وي) .3(

اقناع:

اقناع پر دوه ډوله ده، يوه علمي او منطقي اقناع ده چي برهان ئې هم بولي او بله خطابي اقناع، علمي او منطقي قانع كول دادي چي مدعا په برهان ثابته شي او عقل ته هېڅ شك او ترديد پاته نه شي، دا راز اقناع په علمي امورو كي وي او دهغه چا كار دی چي د خطابې په موضوع كي متخصص وي يا اقلاً هغه موضوع ئې د ځان فن گرځولی وي، مثلاً : په طبي چارو كښي د ډاكټر وظيفه ده او په مهندسي چارو كي د مهندس يا نور) ... 4(

خطابي اقناع داده چي علمي اقناع ته حاجت نه وي ځكه چي ټول شيان او هر امر ددې وړ نه دی چي په برهان ثابت شي او يا ډېگر داسي كارونه شته چي ثابتوالی او نه ثابتوالی ئې نسبتي دی، يعني د يو موضوع ثبوت په يو خاص وخت او خاص ځای كي اويا نسبتاً مخصوصو خلكو ته درست وي مگر په بل وخت يا بل ځای كي يا د بل چا په نسبت درست نه وي، داسي چاري نو ددې وړ نه دي چي په برهان ثابتي شي، ځكه چي په برهان بايد هغه څه ثابت شي چي په هر وخت او هر ځای او د هرچا دپاره يو شانته ثابت وي او كه دا هم وړ وي خو د هرچا ذهن بيا د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برهان پوهېدلو او درك كولو ته حاضر نه وي له دې كبله ډېر داسي كيږي چي داروېدونكو د اقناع او ترغيب دپاره بېله علمي اقناع بلي اقناع ته هم ضرورت وي چي دا نو خطابي اقناع بولي، په خلص طور خطابي اقناع داده چي عقل دداسي مدعا تصديق وكړی چي له منل شوو يا مظنونه قضاياو څخه مركبه وي چي گويا ظن او گمان هم په دې تعريف كې شامل شوه.

د خطابې لنډ تاريخ:

نطق او وينا د بشري غرايزو څخه دي او هر كله او هر ځای چي انسانان سره اوسي غواړي چي له خپلو همنوعانو سره ارتباط او اړه ولري. څنگه چي د ارتباط مهم شی خبري او وينا كول دی ځكه نو هر څوك غواړي چي بل څوك په خپله خبره او وينا وپوهوي او دوينا په واسطه ئې د ځان ملگرى او تابع كړي. نو دې غريزې د بشر ټولني له ابتداء څخه وده موندلې ده. او ټولو وگړو كه پوهېدل كه نه پوهېدل له دې غرېزي څخه كار اخيست او يو دبل داقناع او ترغيب دپاره ئې خبري او ويناوي كولې، ځكه نو ددې فن ابتدائي تاريخ يا د وضع كولو ځای په يقيني توگه ټاكل كېدلای نه شي، هو ! دا ويلای شو چي هر ځای او هرچيري چي هر څوك سره اوسگېدل ددوي په منځ كښې دا فن وْ، مگر البته دكوم علم يا فن په سترگه نه ورته كتل كېدل، او نه چا كوم خاص اهميت وركاوه خو په مجمل او مختصر نظر دا څرگندېږي چي هر ملت چي ډېر پخوا وجود او مدنيت درلود هغه ملت ددې فن ښه پالونكى بلل كيږي، د ماقبل التاريخ حال خورا څرگند نه دی او نه ئې كوم اثر راپاته شويدی، فقط دومره را معلومېږي چي هر ملت پخپله پخوانۍ دوره كي هم پوهان درلوده چي خپلو پيروانو ته ئې لارښوونه كوله او هم دا ښكارېږي چي د وينا او خطابې زوړ شكل بايد اكثراً بلكي كاملاً د مختصرو جملو او شعر او سرود په جامه كي وْ. په دې ترتيب نو په شرق كي د خطابې لومړۍ زانگو بايد د آريانانو پخوانی مركز وبولو ځكه چي هغه وخت تر هر نژاد د آرين نژاد متمدن او د ښو سرودو خاوند وْ. چي دلته نو دا يادونه ضروري ده چي با

آريانا او خطابه:

و مو ويل چي پخوا د وينا او خطابې شكل شعري جامه اغوستې وه چي گويا شاعرانو د خطيبانو او نطاقانو وظيفه هم پر خپله غاړه اخيستي وه او اجرا كوله ئې او هم له بلي خوا وينو چي آرين نژاد څو زره كاله پخوا خورا لوړ مدنيت درلود حتی د ريگويد غوندي مهم او غټ كتابونه ئې هم لرل او "ريشي" گانو به د ملت دهري طبقې دپاره په جلا جلا توگه لارښووني كولې او انسانان به يې سمي لاري ته رابلل، نو دا اټكل كولای شو چي د خطابې او وينا لومړي پالونكي هم ددې خاوري آريانان دي ځكه چي د آرين د نژاد لومړی مركز تر آريايي هجرت دمخه همدا ځای وْ، نو له دې كبله په ډېرو پخوانيو دورو كي د سرودو د روزني دپاره چي كومه روښانه دوره شته د رېگويدا دوره ده چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1000 � 2000 کاله) د مسیح تر میلاد دمخه وه او ویدي کتاب خو د افغانستان په زړې آریایي خاوره کي مینځ ته راوتلی دی نو د وینا اوخطابې د روزني لومړۍ زانګو هم باید دغه خاوره وبولو، د ویدي عصر "ریشیا ګانو" یعني شاعرانو چي د ملت لارښوونکي او خطیبان او مبلغین وه ټولو خپله وظیفه په سرودونو کي اداء کوله او د سرودونو په واسطه ئې خلکو ته مذهبي اودنیایي قوانین ښودل، پاتي په اجتماعي توګه د مړو د تدفین یا د واده د تجلیل مراسم پر ځای کول دا ټول پردې دلالت کوي چي (څو زره کاله) پخوا په دې خاوره کي چي د آرین نژاد لا هند او پارس ته نه وه تللی د وینا او خطابې فن ته وده ورکول کېدله، هو ! آریائیانو د مصر د فرعونانو په شان یا د هیورغلیف دکیسو په څېر خپلي ویناوي په ډبرو کي ونه ګنډلي او نه ئې د پاپیروس پر پاڼو ولیکلي او نه د کلدانیانو او آشوریانو او بابلیانو غوندې ئې پر غرینو ډبرو اوپخو خټو خپلي کیسې را پرېښودلې، بلکي دوی د خوږو او جذابو سرودونو او شعرونو په واسطه پر پاکو آریایي زړو باندي خپلي ویناوي (چي ددوی د مادي او معنوي ژوندون جزئیات راښیي) نقش کړې او د صمیمي عشق او میني په شان له یوه زړه بل زړه ته بې ږغه نقل شوه څو بعضي ئې تر موږ هم راورسګېدل دا سرودونه د 18 قرن په اولو کي د کاغذ پر مخ ثبت شول (5) یعني تردې وخته د خلکو په سینواو خولو کي وه، هغه وخت ئې دې خطیبانو یا په بل عبارت شاعرانو ته " ریشي" ویله ، دې "ریشي" ګانو پخپلو ښکلو سرودو کي خطابې بیانولې کله به یې دخپلو پلرو او نژاد نجابت او پاکي او کله به ئې دقوم او ټبر قوت او واك خپلو اروېدونکو ته ستایه کله به ئې د خپلو شاهانو عظمت او هم بیاناوه کله به یې د خپلي ښکلي مځکي او هیواد ستاینه او صفت کاوه، کله به ئې زلمیانو او نجونوته د عفت او نجابت لار ښووله او کله به ئې د دهقانانو سره د کرهڼي خوږې مرکې کولې، د وینو صافوالی، د نژاد پاکي، د کورنۍ د قانون احترام، په ټاکلي وخت واده، د ټبر غښتلوالی، د اندامو تناسب، د څېګرې ښکلیتوب، د بدن صحت ، د روح نشاط، زړه ورتوب، جنګیالیتوب او نور داسي صفتونه ددوي په وینا کي په خورا ساده او طبیعي صورت لیدل کیږي. د خپلو شیدو لرونکو غواوو ، د خپلو شنو وښو، د خپلو آبادو غرو، د خپلو ډکو سیندو، دخپل د ستورو ډك آسمان تعریف په ډېرو خوږو الفاظو بیانوي ځکه نو موږ دوی د آریایي روح روزونکي او دهغو د روحیاتو ساتونکي او داجتماعي ژوندون لارښوونکي ګڼو، مثلاً د مثال په توګه : د مړوښۍ (ازدواج) لار او سعادت د اویستا "یاسنا" د کتاب 53 فصل کي په ډېر ښه ډول ښیي، چي ګویا د آریانانو دنجابت یوه ښه او برجسته نمونه ده. د واده د جشن او خوښیو په وخت کښي یو روحاني خطیب دا وینا پخپلو اشعارو کي وایي :

"زه هغو پیغلونجونو ته چي غواړې میړونه وکړي څو له نصیحته ډکي جملې وایم ! او هم تاسي زلمیانوته ئې اروومِ، ځکه چي زه په هغو جملو ښه پوهېږم .... نو تاسي ئې پخپل غوږ کي ټینګي ونیسئ!

پاك او روحاني ژوندون ددین له لاري د خپلو مندو او پلور څخه زده کړي او په دې پوه شئ چي په دینداری کي یو دبل مینه او محبت سره غواړئ، ځکه چي یوازي محبت کولای شي تاسي نیکمرغه او خوشبخته کړي) . 6(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا داسي نور مثالونه چي تر ټولو مشهور د زردشت مشهور ګاتونه دي چي هر ګات ئې معناً يوه وينا او خطابه بلل کيږي د آريانا نور خطيبان تر اسلام دمخه ټول هغه پوهان دي چي سرودونه ئې ويل او خپل ټبر ته ئې د ژوند سمه لاره ښودله چي دکتاب د پاڼو د تنګوالي او دموضوع د اوږدوالي له بيري مو دهغو دنومو د راوړلو څخه صرف نظر وکړ او تر اسلام وروسته هم په افغانستان کي خطيبان اونطاقان وه، اوس ځم د نوری دنيا خطيبانو ته.

يونان او خطابه:

کوم ملت چي خطابې ته علمي رنګ ورکړ او هغه ئې دمنطق د پنځګونو صفتو څخه وبلله يونان او د يونان فلاسفه وه،څنګه چي سيسرون (7) د روم مشهور فيلسوف او خطيب پخپل کتاب بروتوس کي ليکلي لومړی طايفه چي په يونان کي په خطابه او وينا مشهور دی "سوفسطائيان" دي او ددې طايفې منځ ته راتله داسي بيانوی) : 8(

کوم وخت چي د صقليا (سيسل) د جزيرې ظالمانو او ياغيانو او غاصبو حکومتو سقوط وکړ تر هوسايي او امنيت وروسته خلکو قضايي محکمو ته خپل عرضونه وړاندي کړه، څنګه چي دعوې ډيري وې او مدعيانو هم خپلي دعوې ښه نه شواى ثابتولاى نو ځکه ددعوې وکيل ته وکيلان ډېګر شوه اوهم ددې دپاره چي يو پر بل بری ومومي د ښو دلائلو په لټون او پيدا کولو کي ئې زيار يوست. ددې زيار په اثر د خبرو فصاحت منځ ته راغی او د وينا او خطابې بازار تود شو، څو چي هغو کسانو چي په دې فن کي يې ښه لاس موندلی وْ، خورا لوړ مقامونه اشغال کړه، او په دې طائفه کي چي کوم دوه ډېر مشهور شوه دوه کسان دي : يو "کوراکس (9) بل "تينسياس" نوميده، په يونان کي دا دوه لومړی کسان دي چي د نطق او خطابې د تدوين فکر ئې مغزو ته ورځېرمه شو، او دوي غالباً خپل دلائل ليکل او بيا ئې محکمې ته وړاندي کول تر دوي وروسته دوو نورو کسانو "پروتاګراس" (10) او بل "کرجياس" (11) نومېده بيخي ډېر اهميت او شهرت وموند ځکه چي دومره ښه نطق ئې کاوه چي تل به ددوی مدعيان محکومه وه، او بری به ددوی په برخه و، څنکه چي وکالت او نطق ډېر اهميت وموند، نو دډېرو اشخاصو توجهه دې خواته شوه او هر چا غوښته چي ښه نطاق او وينا کوونکی شي، نو ځکه د پروتاګراس او ګرجياس څخه غوښتنه وشوه چي ددې فن د اصولو تدريس شروع کړي هغو هم د سيسل د جزيرې په مرکز د "سيراکوز" په ښار کي کورسونه جوړ کړه، او د څه فيس په عوض به ئې د خطابې او نطق د فن زده کړه نورو ته کوله، دوي په دې کار کښي دومره مهارت وموند چي خلکو دوي ته د "سوفيست" (12) لقب ورکړ. او سوفيست ئې په يوناني ژبه يو پوه اوحکيم سړي ته ويل، چي په ډېرو علومو به عالم وْ مګر څه موده وروسته ددوي پيروانو يعني محکمو وکيلانو دا فن خورا بد استعمالاوه او بده استفاده به ئې ځيني کوله ددوی د شاګردانو فقط دا مقصد وْ چي خپل مقابل په هر صورت چي که حق وي که ناحقه بايد مغلوبه ئې کړي، د حق او عدالت له دائرې ووتل د روه او مغالطه او خطا ايستل بيخي پکښي ډېر شوه، ځکه نو د خلکو کي بد ايسېدل، او وکيلان به ئې په بده ستايل او دعامو خلکو په نظر کي سوفيست کلمې هم خپله حقيقي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی بایلوله او سوفیست دروهلئ، غولوونکئ مغالطه کار وباله شو، ددوي کار په سفسطه مشهور شو اوددوي طائفه باطله وبلله شوه پای ته ددې طائفې شاملین او شاګردانو ویل چي د شیانو حقیقت پېژندلای نه شو او فرضاً که ئې وپېژنو بل چا ته ئې معرفي کولای نه شو، څنګه چي ددوي عقیدو د خلکو په فکرو کي ډېر انقلاب او تشتت څرګند کړ او د اجتماعي حیات دپاره ډېر مضر وْ، نو خلك ئې بالمقابل جګړې ته تکړه شول، او لومړی سړی چی ددې طائفې پر ضد یې ملا وتړله سقراط وْ، چي په تصوراتو او ادراکاتو کي بحث کول دده مفکوره ده، مګر سقراط غلبه ونه موندله، تر ده وروسته افلاطون ددوی پر ضد اقدام وکړ او په تصدیقاتو کي ئې خبري شروع کړې او ددوي څو کتابونه ئې شرح او ددوی دلائل یې ټول رد کړه مګر افلاطون پوره بری ونه موند خو چي ارسطو مینځ ته راغی او دا پیاوړی فیلسوف د دوي د عقایدو دبندولو دپاره راولاړ شو د خلکو دخبرولو دپاره یې منطق تدوین کړه او مخصوصاً ئې خطابې ته ډېر اهمیت ورکړ او په خطابه کي ئې یومستقل کتاب تالیف کړ.

د یونان وینا کوونکی:

د میلاد دمخه تر لسم قرن پوري د یونان د وینا کوونکو یعني خطیبانو نوم نشته تر دې تاریخ وروسته ډېر خطباء پکښې پیدا شویدي خصوصاً د یوناني لوی شاعر "همر" له دورې څخه د ډېرو خطیبانو نومونه یادېږي چي مشهوره ئې دادی:

.1سولن Solon د آتن قانون ایښوونکی او د هغه ځای د اهالیو د اجتماعي خویو او آدابو مصلح (558 _ 640 ) تر میلاد دمخه.

.2پي سیس ترات Pisistrate د سولن رقیب او د هیپارك زوی، دا سړی د همر د اشعارو ټولوونکی دی (528 ) تر میلاد دمخه.

.3تمیسیتو کل Themistocle یونانی سردار اود لښکري خطیبو مشهرو خطیب په (464 _ 528 ق م)

.4اریستید : سیاسي خطیب د تمیسیتو کل رقیب.

په یونان کي خطابه تر میلاد دمخه د پنځم قګرن په پای کي د پریکلس له عصره خپلي نهایي لوړتیا ته ورسېدله او دا لاندي کسان ډېر مشهور شوه:

.1پریکلس Pericles چي د آتن له لویو نامدارو زعماوو څخه وْ او هم یو قوي او غټ خطیب باله کېده.

.2اېسوکرات Isocrate په تتبیني خطابه کي (436 _ 338) تر میلاد دمخه.

.3دمستن Demositine امیر الخطباء د ویناکوونکو مشر (381 _ 312 ق).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.4اسکین : د دمستن رقیب مشاجروي خطیب وْ (387 ــ 312 ق م) دمستن هغه خطیب دی چي د وینا او خطابې په ټولو فنونو کي ئې خورا لوی لاس درلود دده ډیري معروفې او ښې خطابګې هغه دي چي د فلپ مقدوني د اسکندر د پلار پر ضد ئې کړیدي او پنځلس کاله د خپل وطن دساتني دپاره ئې دهغه سره مخالفت کاوه دا خطابې دفیلپیك نومیږي چي په فرانسوي هم ترجمه شویدي.

روم او خطابه:

ځنکه چي د سیسګرون په قول د سوفیسطایانو سته له سیسل ځخه اپښوول شوې وه، او بیا د سوفیسطائې عقیدې په اثر یا ددې عقیدې پر خلاف منطق منځ ته راغله اوخطابه د منطق مهم رکن وباله شو نو لیري به نه وي چي ووایو د خطابې د علم د وضع باعث روم یا رومیان دي، مګر البته په علمي حیث د خطابې فن یونانیانو تر هرچا دمخه تدوین کړیدی او وروسته د سیاسي شخړو په واسطه په روم کي هم دې فن شهرت وموند او د روم کوم وینا کوونکي چي د ذکر وړ دي دادي) : 13(

.1کانون : چي مهم نقاد دی (232 ــ 174 ) تر میلاد دمخه.

.2ژول قیصر : (101 ــ 44) تر میلاد دمخه چي د روم مشهور سردار وْ.

.3سیسرون : چي امام الخطباء باله شوی دی، په (106 ــ43 ق م) چي له هره حیثه د روم له اولو درجو وینا کوونکو ځخه ګڼل شویدی.

ددې دریم خطیب درې ډوله خطابې ډېري مشهوري دي چي نومونه ئې دادی : لومړی "کایتلي " دوهم "ورین" دریم : "فیل پیك " لومړی خطابګې ئې د رومی سردار پر خلاف ویلي دي چي هغه غوښته د روم جمهوریت له منځه ورك کړي، خو سیسرون چي خپلي څلور ویناوي د سنا په مجلس او نورو عمومي مجلسو کي وکړي هغه سردار په نفي بلد محکوم شو، او سیسرون ته د سنا لخوا "د وطن پلار" لقب ورکړه شو.

دوهم ډول خطابې ئې د سیسل د جزیرې د یو مستبد او یاغي حاکم پر خلاف کړي وي چي تر محاکمې دمخه فرار شو.

دریم ډول خطابې ئې د آنتوان پر ضد چي د روم مشهور سردار وْ پر خلاف کړي وې، او دده ټولي ویناوي په فرانسوي ترجمه او طبع شویدي.

عرب او خطابه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عربو کي تر اسلام يو سلو پنځوس کاله دمخه دخطابې تاريخ شروع کيږي تر دې تاريخ پخوا څه په لاس کي نشته، ددې دورې په خطابو کښي اکثر دا موضو نه بيانېدل:

و جنگ ته گمارل، د خون اخيستلو ترغيب د جنگ پر وخت، د اولسو په منځ کي روغه کول، وياړنه او مباهات، د نمائنده گانو په واسطه د مقصد څرگندول، د ښو کارو توصيه او له بدو ځان ژغورل،د واده پر وخت د زوم او ناوي ستايل او نور داسي...

د عربو وينا کوونکي:

د عربو د خطباء زړونه لوی او صورتاً هم قوی خلك وه، ځانونه ئې پاك او ستره ساتل، شا وخوا ئې ډېر نه کتل، او څه چي ئې ويل هغه ئې کول، د خطبو پر وخت ئې مخصوص خويونه درلودل، مثلاً : د واده په خطبو کي به ئې په ولاړې پر لوړ ځای او يا اوښ پر شا وينا کوله او دا ددې دپاره چي ټول خلك ئې ږغ واوري، او دده دلاس او سر ښورول او حرکتونه په سترگو ويني، لويه لنگوټه به ئې ترلې وه پر لکړه يا نېزه يا ليندۍ به ئې تکيه کوله، او کله به ئې هغه ښوروله او اشاره به ئې په کوله (14) د عربو ددې دورې خطيبان ډېر وه، چي د پخوانيو خطيبانو څخه ئې د لوی زوي کعب وْ چي د رسول کريم (ص) اوم نيکه داو په عربو کي ئې دکنانه طايفه خصوصاً او نور عرب عموماً ښې لاري ته رابلل دې سړي په عربو کي دومره اهميت وموند چي دده مرگ ئې د تاريخ مبداء وگرزوله، او تر عام الفيل پوري د تاريخ مبداء وْ، د عربو د جاهليت د وخت بل مشهور خطيب قيس بن ساعده وْ، دا سړی هم ټولو عربو په فصاحت او بلاغت اوحکمت اوموعظه منلی وْ، او دده نطق او ذکاء جوړ متل گرزېدلی وْ، که څه هم تر اسلام دمخه خو موحد او د قيامت پر ورځ ئگي ايمان درلود، او ټول عرب ئې له بت پرستۍ څخه منع کول، او دلوي خدای عبادت ته ئې رابلل، وايي چي دی لومړی سړی دی چي پر لوړه وخوت او په خطبه کي ئې د (امابعد) کلمه استعمال کړه ، او دوينا په وخت کي به ئگې پر توره يا لکړه تکيه کړې وه، او د فصاحت دا اصل چي "البيناَ على من ادعى والبين على من انکر) هم دده له ويناوو څخه دی، رسول کريم (ص) تر بعثت دمخه يوه ورځ دده وينا اورېدلي وه او خوښه کړې ئي وه، دی تر بعثت لږ دمخه وفات شويدی، او دده ډېره مشهوره وينا هغه وينا ده چي د عکاف په بازار کي ئې ويلې ده او هغه

داده:

"ايهناس ! اسمعو اوعوا من عاش مات و من مات فات، وکل ما هو آت آت، ليل داج ونهار ساج، وسماء ذات ابراج، و نجوم تزهر، وبحار تزخر، وجبال مرساآ، وارض مدحاآ، وانهار مجراآ ان فى السماء لخبراً وان فى الارض لعبراً مابال الناس يذهبون و يرجعون ارضوواقاموا ؟ ام ترکو اقناموا يقسم قس باالله قم لااثم فيه، ان الله ديناً هو ارضي لکم وافضل من دينکم الذى لنتم اليه انکم لتاتون من الامر منکرا"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه :

"ای خلکو ! واورئ او ښه یې زړه ته تېره کړئ، څوك چي پر دنیا اوسي مري اوڅوك چي مړشو ورکیږي، هر څه چي راځي راځي، شپه تیاره، ورځ رڼا، د آسمان له برجو سره ستوري ځلیږي، دریابونه مستۍ کوي، غرونه ټینګ دي، او مځکه غوړولي شوې ده، او ولې بهیږي، نو رښیتا چي په آسمان کي دلیل او خبر او په مځکه کي عبرت شته، دا څه کیفیت دی چي خلك ځي او بیرته نه راګرځي؟ ایا خوښ دي چي هلته اوسي؟ اوکه پرېښود شویدي نو بیده دي؟ " قس " په خدای سره قسم خوري چي په دې کي هیڅ ګناه نشته چي دلوی خدای دین ستاسي تر اوسني دین ښه او هم ستاسي خوښیږي، نو رښتیا چي تاسي یو منکر او بدکاره ته رهي یاست."

ددې دورې بل مهم او مشهور خطیب اکثم بن صیفي دی،دې خطیب د کسري نوشیروان په مقابل کي خطبه ویلې ده چي د کسری د اعجاب سبب شوله او ده ته ئګې وویل : "که په عربو کي بې تا څوك نه واي یوازي ته کافي وي" او هغه ډېر ښه خطبه چي ئې کسری ته ویلي ده داده : "ان افضل الاشیاء اعالیها واعلی الرجال ملوکهم وافضل الملوك اعمها نفعاً و افضل الخطباء اصدقها الصدق منجاآ والکذب مهواآ آفته الرای الهوا والعجز مفتاح الفقر شر البلاد بلاد لا امیریها الصمت حکم وقلیل فاعلهُ ، البلاغه الایجاز من شدد نفر ومن تراخي تالف"

ترجمه:

"بهترین د شیانو عالیترین د هغو دی، عالیترین د خلکو پاچهان دي، او بهترین د پاچهانو هغه دی چي نفع ئې عامه وي ، بهترین د خطیبانو هغه دی چي رښیتا وایي، رښیتا ویل د نجات سبب دي، درواغ ویل مهواآ دي درای آفت هوا او هوس دی، عجز د فقر کلي ده، په ښارو کي هغه ښار بد دي چي امیر نه لري، پټه خوله حکمت دی،او پټ خولي لږ دي، بلاغت ایجاز دی، هر څوك چي شدت کوي د خلکو نفرت ډېروي او څوك چي مهرباني کوي خلك پر ځان راټولوي"

دا خطبه او نوري خطبې ئګې خطابي جنبه چنداني نه لري، بلکي لنډې لنډې جملې دي چي په مختلفو چارو کي د پند او موعظې په رنګ ویلي شویدي.

تر اسلام وروسته:

په عربو کي تر اسلام وروسته وینا ډېره لوړه موقع وموندله او نوي سبکونه او خصوصیات پکښي پیدا شوه، مثلاً د جمعې ، اخترو او حج خطبې سیاسي دخلافت او سلطنت د ټینګولو دپاره ویناوي پکښي داخلي شوې د وینا او خطبو شروع کول په حمد او ثنا سره شروع شوه، د قرانکریم آیتونه تضمین شوه، او مرسته ځیني واخیستله شوه، همدا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان د لنډوالي او اوږدوالي له حیثه ددې دورې خطباء دومره ډېر دی چې په هیڅ عصر کې دومره نه وه، خو دلته ئې څو مشهور خطیبان راوړو :

لومړی چې تر ټولو خطیبانو ئې اوله درجه وړېده رسول کریم (ص) دی چې هیڅوك دده ودرجې ته نه و رسیدلی او دومره بلیغې او فصیحې او جاذبې ویناوې ئې کولې چې ټول خلگ به دده پر وینا مینان کېدل او د هر چا دا زړه غوښته چې دده وینا واورې یا اقلاً دوې خبرې ورسره وکړې، حتی مخالفینو هم دده (ص) ویناوې اروېدلې او ویل به یې چې "محمد د خبرو سحر لري" دوهم خطیب علی کرم الله وجهه دی چې امام الخطباء باله شویدی، او د سید رضي نهج بلاغته ددې خبرې شاهد دی ، نور مشهور خطیبان سحبان، امل زیاد بن ابیه حجاج بن یوسف ثقفي، خالد بن ولید او نور چې خطبگې ئې په کتابو کې ذکر شویدي.

آشور او خطابه:

کوم بل ملت چې د خطابې آثار ځیني څرگند شویدي د آشور ملت دی چې دوي د نیکه گانو د پخوانیو نوشتو څخه چې په میخي خط لیکلي پاته شویدي او هغه غالباً ددوی د ارباب الانواعو او پاچهانو قولونه دي چې وعظ او آداب ئې ښودلي دي.

خطابه په منطق کې:

خطابه دوه مخه لري : یو علمي بل ادبي.

له علمي مخي خطابه:

د علمي مخې خطابه د منطق د پنځگونو صنعتونو څخه ده، ځگکه نو باید لومړی د منطق په شاو خوا کښې لږ څېړنه وکړو بیا به د خطابې مقام په منطق کې وښیو.

د منطق د علم واضع څرگند نه دی خو دمدون اوبشپړونکی ئې ارسطو دی دمخه هم د منطق بحثونه وه مگر تدوین شوي نه وه ارسطو تدوین او بشپړ کړه ، او د منطق پاشلي او غیر منظم قواعد او قوانین ئې راغونډ کړه بلکې تر ارسطو دمخه خلکو له منطقه بد وړل او حکماوْ ئې تدریس نه کاوه حتی د افلاطون استاد سقراط په ټولو منطقي او فلسفي بحثو کې یوه کلمه هم نه ده لیکلې او دده ټول فلسفي عقاید دده دوو شاگردانو زینفون او افلاطون له کتابو څخه ښکاره شویدي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افلاطون په لومړی سر کي د خپل استاد لاره ټینګه کړې وه خو په پای کي دکمزورۍ او ضعف له رویه وبېرېده چي دده عقاید له منځه ولاړ نه شي، نوئې دکتابونو په لیکلو شروع وکړ) 15. (

د ارسطو منطق:

دارسطو منطق اته کتابه دي چي نومونه ئې د ترجمې سره دادی:

فاطیغوریاس یعني مقولات

باري ارمانیاس یعني تصورات او قضیه او اقسام ئې

لومړی آنالو طبقای یعني د قیاس تحلیل ( د قیاس مقدمې او اجزا او اقسام او عکوس ئې ...)

دوهم آنالوطبقای = برهان

طوبیقا = جدل

صوفسطیقا = مغالطه

ریطوریقا = خطابه

بوطیقا = شعر

دا چي داکتابونه یوه مجموعه وه یا جلا جلا اختلاف دی مګرمحققه خبره دا ده چي شپږ کتابونه ( مقولات، تصورات، او قضیه، دقیاس تحلیل، برهان ، جدل، مغالطه) یوه مجموعه وه او دوه کتابه (خطابه او شعر) جلا کتاب او مجموعه وه ددې دواړو مجموعو نوم ئې "ارګانون" ایښی وْ "ارګانون" په یوناني کي "اوزار" او آلې ته وایي. دلته هم ځکه چي منطق د قانون یو آله ده نو ارګانون ورته وویل شوه.

په دې ترتیب نو څرګنده شوه چي له علمي مخي خطابې په منطق کي لوړ مقام درلود او د ارګانون یوه جزء باله کیدله.

د منطق پنځګونه صنعتونه:

د منطق پنځه صنعتونه دادي : برهان ، جدل، مغالطه، خطابه او شعر) 16(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــ برهان:

برهان هغه قياس دی چي له يقيني قضاياوو څخه مرکب شوي وي چي اصول ئې دادي : اوليات، مشاهدات، تجريبات، حدسيات، فطريات او متواترات:

.1اوليات:

اوليات هغه قضايا دي چي هيڅ ډول استدلال ته اړ نه وي لکه کُل تر جز لوی دی.

.2مشاهدات:

هغه قضايا دي چي په ظاهري يا باطني حواسو درك کاوه شي لکه دا چي لمر روښانه دی او زه تږی يم.

.3تجريبات:

هغه قضاي دي چي د آزمايښت او تکرار له امله ثابت شوي وي لکه دا

چي کونين تبه ليري کوي.

.4حدسيات:

هغه قضايا دي چي د انسان ذهن د ټاکليو شوو مبادی څخه نتيجو ته ولاړشي لکه دا چي : د سپوږمۍ رڼا له لمره ده.

.5فطريات:

هغه قضايا دي چي د هغو د دواړو خواوو تصور له نسبته سره په حکم کي کافي نه وي. بلکي په غير حسي يعني ذهني واسطه پوري اړه ولري او دا واسطه بايد د قضيې د اطرافو د تصور په وخت کښي له ذهنه غائبه نه وي لکه دا چي څلور جفت دی، ځکه چي په دې قضيه کي حکم په ذهني واسطه سره دی چي هغه انقسام بمتساوين باله کيږي.

.6متواترات:

هغه قضايا دي چي حکم په هغو کي د يوې ډلي له خولې وي او اقلاً ددې ډلي موافق پر درواغو محال وي لکه دا چي مکه موجوده ده.

ـــ جدل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جدل هغه قیاس دی چي له مشهوراتو او مسلماتو څخه مرکب وي.

.1مشهورات:

هغه قضایا دي چي د بشري ټولني پرې اتفاق وي لکه دا چي : ښه ښه دي بد بد !!! یا دا چي د ځینو په عقیده پرې اتفاق وي.

.2مسلمات:

هغه قضایا دي چي د مناظگرې په وخت کي د یوې خوا په نزد منلي شوي وي یا دا چي په یوه علم کي برهاناً ثابت شوي وي او په بل علم کښې د مسلمه اصولو په عنوان منل شوي وي. لکه د حساب قواعد چي د ریاضي په اکثرو علومو کي د مسلمه اصولو په توګه اخیستل شوي دي.

_ مغالطه:

مغالطه یا سفسطه هغه قیاس دی چي له وهمیاتو او مشبهاتو څخه مرکب وي.

.1وهمیات:

هغه قضایا دي چي په هغو کي وهم حاکم وي نه عقل.

.2مشبهات:

هغه درواغجن قضایا دي چي د رښتنیو او صادقو او اولیه قضایاو سره شبیه وي لکه دا چي : انسان ویښته لري او ویښته شین کیږي نو انسان شین کیږي.

_ خطابه:

خطابه هغه قیاس دی چي له مقبولاتو او مظنوناتو څخه مرکب دی.

.1مقبولات:

هغه قضایا دي چي دداسي کسانو څخه واخیستل شي چي پر هغو د اروېدونکو اعتماد او اعتقاد وي لکه انبیاء، اولیاء، پوهان او نور...

.2مظنونات:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه قضایا دي چي په اروېدونکو کي د هغو د صحت او رښتيا والی گمان پيدا شي.

ــ شعر:

شعر هغه قياس دی چي له مخيلاتو څخه مرکب وي او مخيلات هغه خيالي قضايا دي چي د نفس د انبساط او انقباض باعث وگرزي.

له ادبي مخي خطابه:

خطابه له ادبي لحاظه ځانته فن دی او دا خبره نشته چي دمنطق جز باله شي ادبي تعريف او د ادبي خطابې موضوع او غرض خو دمخه په لومړۍ برخه کي وليکل شو دلته به د خطابې اصول وليکو:

## د خطابې اصول:

د خطابگې اصول درې دي : ابتکار ، تنسيق، تعبير.

1.ابتکار:

د اروېدونکي د قناعت د وسائلو په ټاکلو کي فکر په کار اچول ابتکار دی. چي دهغه په اثر د اروېدونکي عواطف په ښور راشي.

2.تنسيق:

دخطابې د معنا او د اجزاوْ د سياق انتظام ته تنسيق وايي د تنسيق څخه مقصد د خطابې د اجزاوْ د ترکيب ټينگښت او دهغو يوله بله ارتباط دی، دا ددې دپاره چي اغېزه او تاثير ئې ډېر شي او د اروېدونکو زړه تنگ نه شي د تنسيق اصول درې دي : مقدمه ، اثبات ، خاتمه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقدمه:

وینا کوونکی باید له مقدمې څخه درې نتیجې واخلي، یوه دا چې زړونه جلب کړي او خلك ځانته متوجه کړي، دا له "ښه افتتاح" څخه

پیدا کیږي. دوهمه دا چې اروېدونکي باید د اجمال په توګه د خطابې موضوع له مقدمې څخه وفهموي، دا "دمقصد له بیان" څخه لاس ته راځي. دریمه دا چې د اروېدونکو شوق اوترغیب خپلي وینا ته پیدا کړي چې د وینا کوونکي وینا په ډېر شوق واوري دا د "خطبې په تقسیم" اړه لري.

ښه افتتاح:

ښه افتتاح داده چې الفاظ صحیح او سپك او معنی ئې څرګنده وي حشو او زوائد ونه لري، او افتتاح څلور قسمه لري : لومړی دا چې د یو موضوع په شرحه کې بېله تکلفه پیل وشي، دا افتتاح په عادي مجلسو او ادبي محافلو کې ښه ده، دوه دا چې دمطلب بیان په ښو خوږو او جذابو الفاظو او ښه تعبیر سره شروع شي، دا په هغو ځایو کې وي چې د یوې مهمي او لویې واقعې ښکاره کول وي. لکه ابوبکر صدیق (رض) چې د رسول اکرم (ص) د رحلت په ورځ چې هیچا دا جرئت نه درلود چې د حضرت وفات ښکاره کړي دی پر منبر وختوت وې ویل : " ایهناس انه من کان یعبد محمداً قدمات ومن کان یعبدالله فان الله حی لایموت" دریم دا چې د اروېدونکو غوږو ته د هغه کار علل ورسول شي چې خلك ئې د همت پر کښته والي حمل کوي، څلرم دا چې د حال د اقتضا سره سم په وینا کې کنایه، تعریض، تلویح او اشاره راوړه شي.

د مقصد بیان:

د مقصد بیان دادی چې حاضرینو ته خپل مطلب څګرګند کړي، او ددې شرطونه پنځه دي : لومړی دا چې د یوې چارې په شاوخوا کې وي ځکه چې د موضوع وحدت ښه څرګندوي. دوهم دا چې د مقصد بیان باید واضح وي او په صافو او ښکاره الفاظو وویل شي، ځکه چې د موضوع پېوالی اروېدونکي ستړي کوي.

دریم دا چې په اروېدونکو کې نشاط پیدا کړي او دا دمطلب په ابتکار اړه لري دا په هغه وخت کې چې اروېدونکي خواشیني اوغمګینه وي. څلرم دا چې له اصلي مقصد خارج نه شي ځکه چې له مقصده وتل د اروېدونکو د حواسو د پریشانۍ سبب کیږي او نتیجه لاس ته نه راځي. پنځم دا چې وینا کوونکی باید وار دواره د تفصیل په توګه په موضوع کې داخل نه شي، ځکه احتمال لري چې نتیجې ته به ونه رسیږي، یا به د ډېر غالمغال سبب وګرځي او له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصده به پاته شي، اول باید د اجمال په توګه مقصد شروع شي او ورو ورو چې د اروېدونکو زړونه ځانته جلب کړي په تفصیل به شروع کوي.

د خطبې تقسیم:

وینا باید پر څو اجزاوْ وویشل شي، ددې فائدې دادی چې : اول خو وینا کوونکی د معنا له تکراره ساتل کیږي، دوهم دا چې اروېدونکو ته د خطیب سبك او روش معلومیږي، دریم دا چې پخپله وینا ښه واضحه او ښکلې راځي. مثلاً علی کرم الله وجهه پلرونه داسې ویشي : پلرونه درې قسمه دي : یو هغه پلار چې تا پیدا کوي، دوهم هغه پلار چې تعلیم درکوي، دریم هغه پلار چې تاسې روزي.

اثبات:

د تنسیق دوهم اصل اثبات دی د وینا د موضوع تائید دی، چې په برهان او دلیل سره وشي، اثبات پر دوه قسمه دی : ایجابي، سلبي.

ایجابي:

ایجابي هغه اثبات دی چې د یوې موضوع شرح وویله شي، بیا هغه په ښکاره او ټینګو دلائلو ثابته شي دې ته تبیان هم وایي.

سلبي:

سلبي اثبات هغه دی چې وینا کوونکی د خپل مقابل دلائل رد کړي او د هغه عقاید باطل کړي.

خاتمه:

د تنسیق دریم اصل خاتمه ده، خاتمه د وینا کوونکو وروستنیو خبرو ته وایي، څنګه چې د خطیب وینا پر خاتمه تمامیږي نو وینا کوونکی باید خپل ډېر قوت پر دې خبرو واچوي چې د اروېدونکو داقناع او تحریك سبب وګرزي او ددوی عواطف په شور راولي، او زړونه ئې تر تاثیر لاندې ونیسي، او دلته باید د وینا غرض لاس ته راوړه شي، ځکه چې موږ خو د مخه ویلي وه چې د وینا غرض د اروېدونکو اقناع او ددوي ترغیب هغه کار ته دی چې د وینا موضوع

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، نو د وينا په پای کي بايد دا دوه غرضه له نظره ونه لويږي او اکثراً هم چي د وينا وروستنۍ جملې ټينګي او جذابي وي اروېدونکي په ټوله وينا قانع کيږي او ترغيب پيدا کوي او که ټوله وينا ټينګه او متينه وي خو چي وروستنۍ جملې ئې سستي وي د اروېدونکو په مغزو کي چنداني کار نه کوي، ځکه چي اکثراً د اروېدونکو په مغزو کي وروستۍ جملې پاتيږي.

(3)تعبير:

د خطابې دريم اصل تعبير دی چي په وينا کي ددي اصل مراعات خورا مهم باله کيږي، يعني د مطالبو بيان او حسن تعبير د وينا پوخ اساس دی او علاوه پر دې چي دبلاغت او فصاحت او معاني او بيان د د قواعدو مراعات بايد وشي دا لاندي چاري هم په نظر کي ونيول شي:

لومړی : د اروېدونکو د حالت رعايت، يعني د اديبانو په مجلس کي يو راز تعبير او الفاظو ته ضرورت دی او د عامي طبقې دپاره بل راز تعبير لازم دی، نو دحال مقتضا ته بايد وکتل شي او د هري طبقې سره د هغو په ژبه خبري وشي که نه وي څه نتيجه په لاس نه راځي.

دوهم : دا چي دخبرو طرز بايد مختلف وي،کله مدح، کله بد، کله هزل، کله جد، کله شکر، کله زجر، کله توبيخ، کله تشويق چي د هر يوه بايد پخپل ځای کي مراعات او ساتنه وشي.

دريم : دا چي ويناکوونکی بايد له خپله حاله سره سم تعبير وکړي يعني د سپين ږيرتوب پر وخت د زلميتوب او د زلميتوب پر وخت د سپين ږيرتوب تعبيرونه ونه شي که زوړ د هلك چمونه وکړي يا هلك کلان کاري وکړي د لويانو په شان وغږيږي ډېر بد ايسي او علاوه پر هغه وينا ئې هم له تاثره لويږي.

څلورم : د لهجې پورته کښته والی هم ډېر اهميت لري چي د قهر پر ځای په يو راز او رحم پر ځای په بل راز لهجه تعبير وشي.

پنځم : په تعبير کي د بدن حرکت دلاس خوځول ښي او کښې خواته کتل، پر خپل موقع باندي ډېر اهميت لري، همدارنګه د سر ښورول پر خپل ځای ښه تاثير کوي.

د خطابې د اقسامو اصول:

د ارسطو د عقيدې په قرار د خطابې د اقسامو اصول درې دي : تثبيتي، مشوري، مشاجري:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(1)تثبيتي وينا:

ددې وينا مقصد د ښو خلکو ښه ويل او د بدو خلکو بد ويل دي، چې ددې خطابې تر عنوان لاندې دا موضوعات راتلای شي : مدح، ذم،تبريك، تعزيت، تهنيت، تسليت، هجوه، ښه راغلی او نور له دې قبيله مسائل چې هره موضوع پخپل ځای او خپله موقع کې جلا خطابه کېدلای شي. تثبيتي خطابې ته تشريفاتي او نمايشي خطابه هم وايي، دا راز خطابې د پارسي په نظم کښې ډېرې پيدا کيږي خو په پښتو کې په دواړو خواوو يعني نثر او نظم کې شته مګر د مدح برخه ډېره لږ ده او د تنقيد جنبه ښه قوي ليدله کيږي.

کوم خلك چې په پورتنيو موضوعاتو کې ونيا وکړي بايد د هرې موضوع د کيفيت او کميت څخه پوره خبر وي ، د وينا مورد د اشخاصو مقامات هم بايد په نظر کې ونيول شي.

(2)مشوري وينا:

مشوري وينا داده چې د يو کار د کولو يا نه کولو په تشويق او ترغيب وي تر دې عنوان لاندې دا موضوعات راځي : سياسي، عسکري، طبي، توصيوي، شفاعتي، تفريعي يعني توبيخي، تحريضي يعني حماسه او نور داسي موضوعات ...

(3)سياسي وينا:

دا وينا په شورى يا عمومي مجلسو کې وي چې دا مجلسونه د مملکت د چارو د تدبير او د دولت د سياست دپاره منعقدېږي هغه چارې چې په دې مجلسوکې تر نظر لاندې نيول کېږي او د يوه نطاق نمائنده توجه ځانته اړوي دادي : د عادله قوانينو واضع کول، د رسمي دوائرو تشکيل او تنظيم، د دولت په دباندنيو چارو کې غور کول او د خارج سره د ارتباط مسئله تر غور لاندې نيول، روغه او جګړه کول، د ښارينو چارو سمول، د معارف نظام او نور.. ،

سياسي وينا د سياسي خلکو کار دی يعني وزراء او د ملت نمائنده ګان او نور هغه څوك چې په ملي ټولنو يعني پارلمانو کې چې هلته د ملت د مختلفو طبقو سياسي حزبونه وي د افکارو تبادله سره کوي.

سياسي وينا کوونکی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاسي نطاق مهم صفتونه دادی:

باید د سیاست په ټولو دقایقو او رمزو پوه او خبر وي.

په عمومي او شخصي حقوقو کې باید د پوره تعمق او تبحر څښتن وي.

سیاسي نطاق باید دخلکو نبض وپېژني او وینا ئې باید ډېره ساده او بې تکلفه وي د خبرو په ښکلولو پسې ونه ګرځي.

زړه يې باید قوي او ژبه ئې خوږه او بیان ئې فصیح او بلیغ وي.

په کومه موضوع کې چې بحث کوي باید د هغګې موضوع په ټولو اطرافو خبر وي.

د خپل مملکت سره باید صادق او رښتین وي شخصي اغراضو

ته لار ور نه کړي امین او بې غرضه وي.

مثال : کوم وخت چي میرویس خان ګورګین مړ کړ نو ئې یوه ملی جرګه جوړه کړه او په هغه کې ئې پښتنو ته دخپل وطن ساتلو او آزادۍ په باب کې دا وینا وکړه : "که تاسي زما ملا وتړئ او زما سره یو شئ، زه به ستاسي له غاړې د ذلت اوغلامۍ طوق لیري کړم، د حریت او عزت بیرغ به مو پر وطن هسك کړم...

د غلیمانو جوغ به ستاسي له اوږو پورته کړم".

د ملی قائد میرویس خان همدا لنډه وینا وه چي د پښتون ملت وینې ئې په جوش راوستلي او په یوه سلا ولاړ شوه ...

تبصره:

سیاسي وینا کوونکی ډېر لوړ مقام لري، مګر خورا ډېر اهمیت په هغو مملکتو کې لري چې د ملی حکومت لرونکي وي، نو که مشروطه وي اوکه جمهوري.

عسکري وینا:

دا وینا د عسکري قائد یا بل چا له خوا چي عسکرو ته امر کوي کیږي، په دې وینا به یا عسکر جنګ ته تشویقوي او یا به د خپل وطن ساتنه په زړو کې ورټینګوي. دا وینا نو باید دا خصوصیات ولري:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي د عسکرو په زړو کي یوه خاص ډول جذبه او حماسه پیدا شي.

وینا کوونکی باید دا افکار تعقیب کړي چي په لښکر کي هیجان راوستلای شي او هم ئې له وېناوو څخه د بري او فتح ټینګ امید ښکاره شي.

وینا باید د عسکرو تر فهمه لوړه نه وي.

حتی الامکان باید لنډه وي چي عسکر ئې له اورېدو څخه ستړي نه شي.

پخپله وینا کوونکي باید پخپلو الفاظو کي یو هیجان ولري او دده له خولې څخه باید الفاظ او کلمات داسي په شدت راووزي لکه د اور بڅرکي چي د تناره له خولې راوزي چي د هغو په ګرمۍ اروېدنکي تر تاثیر لاندي راولي. مثلاً د میوند په جنګ کي دمیوند پر دښت چي غازیان له تندي او ګرمۍ څخه ډېر په عذاب شوي وه اوبه هم لیري وې، کارطوس ئې پر تمامېدو وه، دښمن هم قوي وه، نژدې وْ چي غلیم فتح وکړي، په دې وخت کي یوه پښتنه پېغله را د مخه کیږي او د پښتنو ملي بیرغ چي لوېدلی دی راپورته کوي په لوړ ږغ او خواږه آواز دا دوې لنډۍ وایي:

که په میوند کي شهید نه شوې

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دي ساتینه

خال به د یار له وینو کښېږدم

چي شینکي باغ کي ګل ګلاب وشرموینه

دې دوو لنډیو په پښتنو زلمیانو کي دومره تاثیر وکړ چي تابه ویل یو آسماني ږغ وْ د پښتنو زلمیانو وینې په جوش راغلې او په یوه منډه ئې د دښمن پر توپو وختل او دښمن ئې تار په تار کړ. یا مثلاً لکه د جرمني مارشال رومل دا وینا چي خپلو عسکرو ته ئې ویل : "تر شا څه نشته ښۍ او کېڼ اړخ ته هم مه ګورئ ! څه نشته، فقط او فقط خپل مخ ته ګورئ، ستاسي مخ ته یو "رومل" شته او په ده پسي ځئ"

یا یو بل اروپایي سردار ویلي دي : " کوم وخت چي زه دمخه ځم

په ما پسي راځئ هغه وخت که زه له جنګه را پر شاه شوم ما مړ کړئ، او که زه په میدان کي مړ شوم زما انتقام او د خون بدله واخلئ"

طلبي ، توصیوي ، شفاعتي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په طلبي وينا کي نطاق د ځان يا بل چا دپاره د فائدې غوښتنه کوي، په توصيوي وينا کي د بل دپاره خير غوښتل دي، همدارنګه په شفاعتي وينا کښې.

تقريعي او تعريضي ويناوي:

تقريعي وينا داده چي اروېدونکي ملامت او توبيخ کړي، تعريضي وينا يو قسم حماسي وينا ده چي غرض پکښې د اروېدونکي په هيجان راوستل دي، لکه يوه کار ته د عامو خلکو رابلل، يا مذهبي تبليغت يا روغي او جنګ ته څوك رابلل يا نور...

مشاجري وينا:

دا هغه وينا د ه چي په قضايي محاکمو کي کار ځيني اخيستل کيږي، په دې معنا نو دا خطابه تراوسه زموږ په هيواد کي مورد نه لري، يوازي لکه پخوا چي ئې په يونان او روم کي په دې معنا مورد درلود اوس ئې په اروپا کي لري، په پخواني يونان او روم کي محاکمه د ډېرو لږو جماعتو په مخ کي کېدله، نن په اروپا کي هم داسي دی، په تېره بيا جنايي امور هغه داسي وي چي جنايي محاکماتو ته يو منصفه هيئت ټاکلي کيږي ددې هيئت اعضا عادي خلك وي، قضاوت ددوي کار او فن نه وي د مجرميت په تشخيص کي بالکل آزاد دي د ذوق او احساساتو له رويه رايه ورکوي.

مدعی او مدعی عليه بيا غالباً خپل کارونه که حمله وي که دفاع وکيلانو ته سپاري وکلا د فن خاوندان وي د وينا آداب زده کوي د محاکمې په وخت کي زيار باسي چي د خپل بلاغت په قوه د قاضيانو زړونه ځانته جلب کړي که په دليل او برهان نه کېده د عواطفو په تحريك کوښښ کوي چي هغه د ځان ملګري کړي.ددې وينا مقصود او غرض دادی چي د مظلوم سره مرسته وکړي او د ظالم دفع وشي، يا په بل عبارت د عدل په ملګرى درېدل او د ظلم او ستم په مخ کي مانع کېدل دي.

مشاجري نطاق غالباً قضايي وکيل وي، دا وکيل بايد دا صفتونه ولري:

اول دا چي دا وينا کوونکی بايد سپېڅلی وي او په دفاع کي په ډېر غيرت او نشاط استقامت ولري، دا ترهغه وخته چي دده يقين وي چي دی پر حق ولاړ دی، دويم دا چي د قضايي قوانينو عموماً او د مملکتي د عدليي قوانينو خصوصاً عالم وي. دريم دا چي په اصلي دعوا بايد ښه پوره خبر وي چي حق ناحقه او ناحقه حق نه کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خطابې د اقسامو په اصولو کي اختلاف:

د خطابې د اقسامو په اصولو کښي درې قوله دي : يو دا چي د خطابې د اقسامو اصول درې دي لکه دمخه چي درته راوړه شوه يعني تثبيتي، مشوري او مشاجري ... دوهم دا چي اصول څلور دي درې هغه چي تېر شوه او بل څلورم اصول چي پر اضافه کيږي (وعظي خطابه) ده چي خاص په ديني او روحاني چارو کي وي چي نطاقان ئې هم غالباً د منبر خاوندان وي. دريم قول دادی چي اصول پنځه دي: علمي وينا، سياسي وينا، قضايي وينا، عسکري وينا، او ديني وينا .

د وينا عمومي آداب او شرطونه:

.1عموماً څو چي امکان لري بايد وينا د ليك له رويه نه وي. البته د وينا د ارتباط دپاره نوټ اخيستل ښه کار بلکي ضروري دي مگر ټوله وينا د ليك له رويه ويل د وينا اثر کموي، گويا د يو کتاب فصل دی اروېدونکو ته ويل کيږي ( هو ! سياسي وينا کله کله له دې قيده مستثنی کېدلای شي).

.2د وينا سرمشق او ورزش او عمل لازم دي، يعني څوك چي غواړي وينا ئې جذابه او مؤثره واقع شي بايد وار دواره د وينا د علم په اساس ځان پوه کړي بيا مشق او تمرين وکړي او تر دې لا هم مهم داسي دی چي وينا کوونکی څه چي وايي بايد هغه وکړي او دا کار ډېر مهم دی، ځکه چي وينا کوونکی څه چي وايي هغه نه کوي په اروېدونکو کي هم څه تاثير نه ښندي، بلکي د تمسخر مورد واقع کيږي مثلاً يو څوك چي شپه او ورځ چلم څکوي که نورو ته نصيحت وکړي چي چلم مه کاږئ او هغه منع کوي هيڅوك به دده خبره ونه مني او وايي به چي که دا بد کار واي نو دی ئې پخپل ولي کوي؟

.3څوك چي خپله وينا د ليك له رويه کوي بايد د ليکني په اصولو هم خبر وي.

.4وينا کوونکی بايد خلك وپېژني او ددوي په روحياتو بلد وي، د هغو په اخلاقو او تاريخ هم ښه خبر وي.

.5تنقيدي وينا بايد پوه سړي ته راجع نه وي، که څه هم غواړئ چي يو سړی تنبيه کړئ مگر وينا به عمومي رنگ لري. (مشاجري خطابه مستثنی ده)

.6په وينا کي بايد شخصي اغراض په عمومي مجلسو کي تر نظر لاندي ونه نيول شي.

.7تر وينا دمخه بايد ځان او روح ستړی نه شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



8.که د وینا په وخت کې حواس پرېشانه وي نو لږ تامل دي وشي، څو چې حواس بیرته پر ځای شي، تلوار دي نه کوي او آرام دي نفس وکاږي، بیا دي نو په وینا پیل وکړي .

9.په وینا کې باید اروېدونکو ته داسي خطاب ونه شي چې دوی ناپوه دي او په څه نه پوهیږي یعني اروېدونکو ته باید د ناپوهۍ نسبت ونه شي که نه وي اروېدونکي متنفر کیږي، اود نطاق غرور او خودپسندي ترې ښکاریږي.

10.په وینا کې باید د ځان صفت ونه شي او خپل ځان رښتین، بې غرضه، خیرخواه معرفي نه کړي بلکې باید داسي څه ووایي چې په غیر مستقي طور دده دا صفتونه ځیني وفهمول شي.

11.په وینا کې باید د وخت مراعات وشي، کومه موضوع چې باید وویل شي، هغه باید وویل شي مگر د اطناب او اوږدوالي باید ځان وساتل شي، حق او ناحقه وینا اوږده نه شي، چې اروېدونکي ستړي کړي.

12.د مشاورې په مجلسو کې باید مکرري خبرې او ډیرې خبرې ونه شي و نورو ته هم باید د وینا فرصت ورکړه شي، او خپل ځان د خبرو په شهوت مه معرفي کوئ.

13.په وینا کې باید ډېر تلوار ونه شي، په زوره نارې هم باید نه وي، وینا کوونکي به په خبرو کې نه ماشین کیږي.

14.د وینا په وخت کې وینا کوونکي باید یوې خواته متوجه نه وي هرې خواته باید وگوري.

15.وینا کوونکی باید پراخه سینه ولري، او له انتقاده زړه تنگی نه شي او دخپل هنر د پرمختگ دپاره باید له هغه څخه استفاده وکړي.

16.د وینا اول او آخر ته ډېره توجه په کار ده چې باید ښه او جذاب وي.

17.وینا باید طبیعي وي، تصنع وینا بې خونده کوي.

18.وینا باید ساده او روانه وي، مگر سره ددې باید بازاري هم نه وي.

19.په وینا کې مبتذل او ډېر مشهور عبارات او مشهوري جملې باید را نه وړه شي مگر په هغه ځای کې چې ډېر مناسبت ولري، ځکه چې ډیرې مشهوري خبرې وینا بې مزه او بې خونده کوي.

20.په وینا کې بېځایه لفاظي او زبان بازي کول داسي مثال لري لکه ډاکتر چې ناروغه ته د درمل پر ځای ادبیات وایي.

21.د وینا مطلب باید ډېر روښانه وي.

22.وینا باید د اروېدونکو د سلیقې او ذوق او عقیدې سره سمه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.23په وينا کي د ژونديو او روح لرونکو شيانو څخه خبري کول، د بې جانو شيانو تر خبرو ښه تاثير کوي.

.24ظرافت په وينا کي خورا ضرور او ښه دی مګګر د تهذيب او نزاکت له دائرې وتلی نه وي.

.25وينا چي هر څومره متنوعه وي هغومري په زړو کي کښېني.

.26په وينا کي د درواغو حرارت ډېر وچ او بې مزه ښکاري.

.27وينا کوونکی بايد پخپل ځان شور ولري چي په نورو کي هم شورپيدا کړي، که نه وي امکان نه لري.

.28تملق او چاپلوسي او غوړه مالي د وينا تاثير بيخي کموي او ډېره ئې بې خونده کوي.

.29وينا کوونکی بايد خورا متين او خونسرده وي که حملې باندي وشي خپل ځان ونه بايلي، عصبي نه شي ځکه چي په مناظره کي عصبيت پخپله مغلوبيت دی بايد حاضر جوابه وي يا نور داسي آداب...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمن ليکونه


1.علم الادب يسوعي ــ د دوهم جلد 5 مخ.

2.د ارسطو د خطابې کتاب د ابن رشد اثر د علم الادب يسوعي 2 جلد 6 مخ په حواله.

3.د ابن الفضل انطاکی کتاب المنفعه، د علم الادب په حواله، 2 ج، 6 مخ، اصول خطابه و تاريخ مختصر منطق تدين.

4.آئين سنخوری ــ فروعی.

5.آريانا ، د ښاغلي كُهزاد اثر 2 مخ.

6.پښتني مېرمني ــ ويدك هند.

7.سيسرون Ciceron په 106 کال تر ميلاد دمخه زېږېدلی وْ، او تر 43 کال تر ميلاد دمخه ژوندی وْ.

8.اصول خطابه و تاريخ مختصر منطق 10 مخ.

9. Corax

10. Gorgias

11. Protagoras

12. Sophisiet

13.اصول خطابه و تاريخ مختصر منطق.

14.اصول خطابه و تاريخ مختصر منطق.

15.تاريخ مختصر منطق ص 4 و 5.

16.اصول خطابه وتاريخ مختصر منطق 23 مخ


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ادبي فنون ماخذونه


1.مختصر المعاني تفتازاني

2.علم الادب یسوعي

3.حدایق السحر رشیدالدین وطواط

4.حدایق البلاغه ــ طبع لاهور

5.شرك الائیل ــ علي اصغر خدیو

6.مفتاح العلوم ــ سکاکي

7.روش نگارش ــ رجوي

8.آئین سخنوری ــ فروعي

9.اصول خطابه وتاریخ مختصر منطق تدین

10.اصول انشاء ــ قاری عبدالله خان

11.دستور نگارش ــ حسین امید

12.د لیك او وینا پوهه ــ الفت

13.لیك ښوونکی ــ نوري

14.دېوان خوشحال خان خټك

15.دېوان پیرمحمد کاکړ قلمي

16.دېوان علي خان

17.دېوان عبدالقادر خان ختك

18.دېوان رحمان بابا

19.پټه خزانه

20.د 1318 د کابل کالنۍ د ښاغلي رښتین مضمون


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



21.دېوان کاظم خان قلمي

22.دېوان عظیم

23.علم بدیع ، فروغی - طبع ایران

24.الرجع في فنون البدیع

25.مدارج البلاغه

26.المعجم فی معاثیر اشعار العجم

27.د کابل د مجلې 9 ګڼه لومړی کال

28.دېوان حمید بابا

29.دېوان شمس الدین قلمي

30.دېوان حنان قلمي

31.نوادر الاالوصول فی شرح الفصول ـ مفتي محمد سعدالله

32.قطوف الدانیه فی العلوم الثمانیه ـ سید محمد امین افندي

33.دېوان ګل محمد قلمي

34.دستور حسن ـ محمدحسن هروي

35.هفت قلزم

36.تاریخ ادبیات ایران ـ جلال همایي

37.تاریخ آداب اللغت اللعربیه ـ جرجي زیدان ج 2

38.دائرآ المعارف بستاني ، ج 2

39.کشف الظنون لومړی جز

40.فن التالیف الحدیث ـ د ن فریدي اثر

41.جواهر الادب والانشاء ـ محمد زکي الدین

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.42فرانسوی گرامر د کلواوژده اثر د ښاغلي رښتیا ترجمه

.43د ژوند مجله ـ منطبعه دهلي

.44قوائد ادبیه ـ طبع کابل

.45نحو میر ـ د نحو یوه رساله

.46بهار جانان

.47تاریخ ادبیات انگلیس

.48جواهر الادب ـ محمد زکي الدین

.49پښتني مېرمني

.50ویدك هند

.51آریانا ـ تالیف کُهزاد

.52د قلندر قلمي دېوان

## د مؤلف نور طبع سوي آثار

.1میرویس نیکه ( تاریخ)

.2پښتني میرمني ( تذکره)

.3د پیرمحمد کاکړ دېوان ( تصحیح ، تدوین او مقابله )

.4د غنمو وږی ( د احمد شاه بابا د تاج پوښۍ منظومه )

.5د پښتو کلی څلرم ټوك

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.6د دار مستتر پښتو څېړني ( پښتو کول د ښاغلي حبيبي په ملګري )

.7ګيتانجلي ( ترجمه)

.8د علامه اقبال د "مسافر" ترجمه په پښتو شعر.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**